د تعلیم الاسلام ویب پاڼې له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

# د ښځو
# د لباس او ځان جوړوني
## شرعي حدود

مؤلف
حافظ مولوي محمد مجاهد
مدرس ورکن دار الافتاء جامعه اشرفیه

Ketabton.com

ناشر
جامعه اسلامیه اشرفیه
کندهار ـ افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټول چاپي حقوق په خپرونکي اړه لري!

## د کتاب پېژندنه


❁ د کتاب نوم : د ښځو د لباس او سينګار شرعي حدود

❁ مؤلف : مولوي محمد مجاهد

❁ خپرونکی : جامعه اسلاميه اشرفيه/ کندهار

❁ کمپوز او ډيزاين : علامه رشاد خپرندويه ټولنه

❁ کمپوزر : م. روهيال

❁ چاپ کال : ۱۳۸۹ش – ۲۰۱۰ع

❁ چاپ شمېر : ۱۰۰۰ټوکه

❁ کچه : ۲۱×۱۳/۵۰ سانتي متره

❁ د مخونو شمېر : ۱۲۹ مخه

❁ اړيکي : ۰۷۰۰۳۰۲۵۶۵، ۰۷۰۰۳۲۸۵۰۴


د تعليم الاسلام ويب پاڼې له خوا پر ليکه کيږي:
www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| شمیره | مضامین | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | دمؤلف عرض | ۱ |
| ۲ | **لومړی فصل**<br>په دنیا کي دجنتي ښځو صفات | ۵ |
| ۳ | دښو ښځو علامې | ۵ |
| ۴ | دښځو دځلورو کارو کولو انعام | ۵ |
| ۵ | دیوې ښځي دوجي ټوله دنیا روښانه او خوشبویه کېدل | ۵ |
| ۶ | دجنتي ښځي تاج | ۶ |
| ۷ | دښځو لپاره کوم شی بهتر دئ ؟ | ۶ |
| ۸ | دحورو یواځي دلاس دښائست والي اندازه | ۶ |
| ۹ | ددنیا ښځي دحورو څخه افضل دي ؟ | ۷ |
| ۱۰ | ددنیا ښځه ترحوري (۷۰۰۰۰) اویا زرګونه افضلي دي | ۷ |
| ۱۱ | دنیکي ښځي عمل داویاو صدیقینو برابردئ | ۷ |
| ۱۲ | ددوزخ دتکلیفو بیان | ۸ |
| ۱۳ | ددوزخ غټ والی | ۸ |
| ۱۴ | ددوزخ ژوروالی | ۸ |
| ۱۵ | ترټولو دکم عذاب اندازه | ۸ |
| ۱۶ | ددوزخ دمارانو دغټ والي اندازه | ۹ |
| ۱۷ | دجنت ښه والی او ددوزخ بد والی | ۹ |
| ۱۸ | په دنیا کي ددوزخي ښځو صفات او نښاني | ۹ |
| ۱۹ | دعطر (خوشبوي) وهونکو ښځو مثال | ۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| صفحه | مضامین | شمیره |
| --- | --- | --- |
| ۱۰ | دري کسان جنت ته نه سي داخلیدای | ۲۰ |
| ۱۱ | ملعوني(لعنت پر سوي): ځي ثوک دي ؟ | ۲۱ |
| ۱۱ | ددنیا دښځو په جنت کي دکم والي وجه | ۲۲ |
| ۱۲ | دښځو څخه دقیامت په ورځ لومړی څه سوال کیږي؟ | ۲۳ |
| ۱۲ | دجهالت په زمانه کي دښځي اهمیت او مقام | ۲۴ |
| ۱۷ | دیهودو په دین کي دښځي مقام او مرتبه | ۲۵ |
| ۱۸ | په مسیحي دین کي دښځي مقام او مرتبه | ۲۶ |
| ۱۹ | په اسلام کي دښځو صحیح مقام او مرتبه | ۲۷ |
| ۱۹ | تمهید | ۲۸ |
| ۲۰ | په اسلام کي دښځي حیثیت | ۲۹ |
| ۲۹ | داسلام دښمنان دښځو دعزت او دهغوی دحقوقو پای ماله کېده غواړي | ۳۰ |
| ۳۱ | **دوهم فصل** | ۳۱ |
| ۳۱ | د شرعي احکامو څو اصطلاحات | ۳۲ |
| ۳۲ | فرض | ۳۳ |
| ۳۲ | واجب | ۳۴ |
| ۳۲ | سنت | ۳۵ |
| ۳۳ | سنت مؤکده | ۳۶ |
| ۳۳ | سنت غیر مؤکده | ۳۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست


| شمېره | مضامين | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۸ | مستحب | ۳۳ |
| ۳۹ | حرام | ۳۳ |
| ۴۰ | مکروه تحريمي | ۳۴ |
| ۴۱ | مکروه تنزيهي | ۳۴ |
| ۴۲ | مباح | ۳۴ |
| ۴۳ | د ښځي اصلي حسن | ۳۵ |
| ۴۴ | د لباس مقصد | ۳۶ |
| ۴۵ | د لباس قسمونه | ۳۷ |
| ۴۶ | فرض لباس | ۳۷ |
| ۴۷ | د ښځي او نارينه د ستر حدود | ۳۸ |
| ۴۸ | مستحب لباس | ۳۸ |
| ۴۹ | مباح لباس | ۳۹ |
| ۵۰ | مکروه لباس | ۳۹ |
| ۵۱ | حرام لباس | ۴۰ |
| ۵۲ | د تشبيه يا مشابهت څخه څه مراد دئ؟ | ۴۰ |
| ۵۳ | تشبه يعني د نورو قومو د طريقو د اختيارولو شرعي احکام او درجي | ۴۵ |
| ۵۴ | د تشبه د ختمېدو نښاني | ۴۶ |
| ۵۵ | د لباس شرطونه | ۴۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| شمېره | مضامين | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۶ | د ستر پټول | ۴۹ |
| ۵۷ | د ښځو لپاره څنګه لباس اغوستل په کار دي؟ | ۵۱ |
| ۵۸ | د مروجه فېشن د لباس حکم | ۵۱ |
| ۵۹ | د ښځو فېشن پرستي | ۵۲ |
| ۶۰ | د هري ښادۍ لپاره جلا جلا لباس اغوستل يا جوړول | ۵۳ |
| ۶۱ | د ښځو لپاره کوم رنګ لباس مناسب دي | ۵۳ |
| ۶۲ | د ښځو لپاره د باريک (نازک) لباس د اغوستلو حکم | ۵۳ |
| ۶۳ | د باريک (نازک) پوړني د پر سرولو حکم | ۵۴ |
| ۶۴ | ايا د ښځو لپاره لڅ سر ګرځېدل جائز دي؟ | ۵۵ |
| ۶۵ | د ښځو لپاره د کوټ پتلون (پينټ شرټ) اغوستلو حکم | ۵۵ |
| ۶۶ | د ساړۍ اغوستلو حکم | ۵۶ |
| ۶۷ | د فراکي لباس اغوستلو حکم | ۵۶ |
| ۶۸ | د بې لستوڼو يا نيم لستوڼي لباس د اغوستلو حکم | ۵۷ |
| ۶۹ | د خلاص ګرېوان د قميص اغوستلو حکم | ۵۷ |
| ۷۰ | د ښځو لپاره د برچاکي قميص اغوستلو حکم | ۵۸ |
| ۷۱ | د چسپ لباس د اغوستلو حکم | ۵۹ |
| ۷۲ | د چوړي پايجامې د اغوستلو حکم | ۵۹ |
| ۷۳ | د بارچاکي پايجامې د اغوستلو حکم | ۶۰ |
| ۷۴ | د پرتوګ د اغوستلو حکم | ۶۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست



| صفحه | مضامين | شمېره |
|---|---|---|
| ۶۱ | د مکسي قميص د اغوستلو حکم | ۷۵ |
| ۶۲ | د عام مکسي قميص د اغوستلو حکم | ۷۶ |
| ۶۲ | د پنجابي لباس حکم | ۷۷ |
| ۶۳ | د انارکلي لباس حکم | ۷۸ |
| ۶۳ | د چوري پنجابي لباس د اغوستلو حکم | ۷۹ |
| ۶۳ | د ساوريا لباس د اغوستلو حکم | ۸۰ |
| ۶۴ | د بنګله (جانکټ او لمن) لباس د اغوستلو حکم | ۸۱ |
| ۶۴ | د شاراره لباس د اغوستلو حکم | ۸۲ |
| ۶۵ | د ګير پرتوګ د لباس د اغوستلو حکم | ۸۳ |
| ۶۵ | د افغاني لباس حکم | ۸۴ |
| ۶۶ | د شېرواني (چپنه والا) لباس حکم | ۸۵ |
| ۶۷ | د زنانه جانکټ (انګيا) د اغوستلو حکم: | ۸۶ |
| ۶۷ | د سينه بند د استعمالولو حکم | ۸۷ |
| ۶۸ | د ښځو لپاره د رخچيني د استعمال حکم | ۸۸ |
| ۶۸ | پر لباس باندي د تصوير (عکس) حکم | ۸۹ |
| ۶۸ | پر لباس باندي د ذي روح (ساه اخيستونکو) شيانو د عکسونو حکم | ۹۰ |
| ۷۰ | که پر لباس باندي د ذي روح (ساه اخيستونکي) د پر کوچني عکسونه وي؟ | ۹۱ |
| ۷۱ | پر لباس باندي د سر پرې سوي ذي روح شيانو عکسونه | ۹۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| شمېره | مضامین | صفحه |
|---|---|---|
| ۹۳ | پر لباس باندي د غیر ذي روح شي د تصویر حکم | ۷۱ |
| ۹۴ | پر لباسو باندي د کفارو د شعائرو او تصویرونو حکم | ۷۱ |
| ۹۵ | د کفارو د بیرغونو د لباس د اغوستلو حکم | ۷۳ |
| ۹۶ | که پر لباس باندي تصویر (عکس) وي نو څه به کوي؟ | ۷۴ |
| ۹۷ | د نوروز د ورځي په نیت د نوي لباس د اغوستلو حکم | ۷۵ |
| ۹۸ | د نقش او کشیده کاري لرونکي لباس حکم | ۷۶ |
| ۹۹ | د دستکلو او جرابو د استعمال حکم | ۷۶ |
| ۱۰۰ | په عده کي د ښایسته لباس اغوستل جائز دي؟ | ۷۷ |
| ۱۰۱ | د ښځو لپاره د وریښمو لباس اغوستل جائز دي؟ | ۷۷ |
| ۱۰۲ | د لویو او کوچنیو نجونو په لباس کي فرق سته؟ | ۷۷ |
| ۱۰۳ | د لباس آداب | ۷۸ |
| ۱۰۴ | د لباس په اغوستلو کي ښه نیت | ۷۸ |
| ۱۰۵ | د لباس د اغوستلو دعا | ۷۹ |
| ۱۰۶ | لباس اغوستل د راسته طرفه څخه شروع کول | ۷۹ |
| ۱۰۷ | د لباس کښل د چپه طرفه شروع کول | ۸۰ |
| ۱۰۸ | د لباس د کښلو دعا | ۸۰ |
| ۱۰۹ | د لباس د اغوستلو دمخه په لباس کي کتل | ۸۰ |
| ۱۱۰ | د لباس اوږدوالی | ۸۱ |
| ۱۱۱ | په لباس کي د لويي (تکبر) څخه ځان ساتل | ۸۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست


| شمېره | مضامین | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۲ | په لباس کې تواضع کول | ۸۲ |
| ۱۱۳ | پاک لباس اغوستل | ۸۲ |
| ۱۱۴ | د ښځو لپاره مخصوص آداب | ۸۲ |
| ۱۱۵ | د نارینه وو د مجلس اجازه | ۸۲ |
| ۱۱۶ | په کښته اواز خبرې کول | ۸۳ |
| ۱۱۷ | د لارې پر کناره تلل | ۸۳ |
| ۱۱۸ | په لوړ آواز خندل | ۸۳ |
| ۱۱۹ | په لاره کې په زوره خبرې نه کول | ۸۳ |
| ۱۲۰ | د لباس او د ناستې په کیفیت کې احتیاط کول | ۸۳ |
| ۱۲۱ | په یوازې ځای کې لباس بدلول | ۸۳ |
| ۱۲۲ | د حمام دروازه ښه بندول | ۸۴ |
| ۱۲۳ | **دریم فصل** | ۸۴ |
| ۱۲۴ | د ښځو د سینګار په اړه د زینت، جمال او تجمل معنی | ۸۴ |
| ۱۲۵ | زینت | ۸۴ |
| ۱۲۶ | جمال | ۸۴ |
| ۱۲۷ | تجمل | ۸۵ |
| ۱۲۸ | د زینت او جمال فرق | ۸۵ |
| ۱۲۹ | د تجمل او تزین فرق | ۸۶ |
| ۱۳۰ | زینت او سینګار د شریعت له نظره | ۸۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| صفحه | مضامین | شمېره |
|---|---|---|
| ۸۸ | د سینګار کولو شرطونه | ۱۳۱ |
| ۹۷ | **څلورم فصل** | ۱۳۲ |
| ۹۷ | د ښځو د وربښتانو په اړه | ۱۳۳ |
| ۹۷ | د ښځو لپاره د سر د وېښتانو پرې کول (لنډول) جائز دي؟ | ۱۳۴ |
| ۹۹ | د ښځي لپاره د سر د مخ (پېکي) وېښتان پرېکول یا لنډول جائز دي؟ | ۱۳۵ |
| ۹۹ | د ښځي لپاره د سر د وېښتانو پرېکول جائز دي؟ | ۱۳۶ |
| ۱۰۰ | د ښځي لپاره د ناجوړۍ یا بل عذر د وجي د سر وېښتان خریل یا ډېر کوچني کول جائز دي؟ | ۱۳۷ |
| ۱۰۰ | د فیشن او زینت لپاره ښځي کولای سي چي د سر په وېښتانو کي مختلف ډیزاینونه جوړ کي؟ | ۱۳۸ |
| ۱۰۱ | د ښځي لپاره د سر وېښتان د بوک په ډول پر سر باندي یو ځای کول جائز دي؟ | ۱۳۹ |
| ۱۰۲ | تر څه وخت پوري د وېښتانو پرې کول یا کوچني کول جائز دي؟ | ۱۴۰ |
| ۱۰۲ | پیدائشي وېښتان خریل یا پرې کول ضروري دي؟ | ۱۴۱ |
| ۱۰۳ | د مصنوعي (جوړ سوو) وېښتانو د اینښودلو حکم | ۱۴۲ |
| ۱۰۵ | یادونه | ۱۴۳ |
| ۱۰۵ | د ښځو لپاره د سر د وېښتانو رنګول جائز دي؟ | ۱۴۴ |
| ۱۰۶ | د ښځي لپاره وروځي کښل (کول یا نري کول) جائز دي؟ | ۱۴۵ |
| ۱۰۶ | پاملرنه | ۱۴۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| صفحه | مضامين | شمېره |
|---|---|---|
| ۱۰۷ | د ښځي لپاره پر مخ باندي راغلي (شنه سوي) وېښتان کښل جائز دي؟ | ۱۴۷ |
| ۱۰۷ | د ښځي لپاره د لاسو (بازوګانو) پښو (پنډيو او ورنو) وېښتان خريل جائز دي؟ | ۱۴۸ |
| ۱۰۸ | د ښځي لپاره د زيرناف او بغلو د وېښتانو د خريلو حکم | ۱۴۹ |
| ۱۰۸ | د ښځي هغه وېښتان چي پخپله يې پرې کړي وي يا خودبخوده ختلي وي نو څه به په کوي؟ | ۱۵۰ |
| ۱۱۰ | **پنځم فصل** د سينګار او زينت د شيانو په اړه دئ | ۱۵۱ |
| ۱۱۰ | د خاوند لپاره د زينت او سينګار کولو حکم | ۱۵۲ |
| ۱۱۱ | د ميک اپ (د سرخي او سفېدې کولو) حکم | ۱۵۳ |
| ۱۱۲ | د مېلمنو او کوربه ښځو لپاره د زينت او سينګار کولو حکم | ۱۵۴ |
| ۱۱۲ | د خاوند څخه ماسوا د نورو محارمو په مخکي د سينګار کولو حکم | ۱۵۵ |
| ۱۱۳ | د ښځي لپاره د لب شيرين کولو حکم | ۱۵۶ |
| ۱۱۴ | د ښځي لپاره د باڼوګانو د رنګولو حکم | ۱۵۷ |
| ۱۱۴ | د ښځو لپاره د سترګو مصنوعي (نقلي) باڼوګانو ايښودل يا پر اصلي باندي نور مښلول جائز دي؟ | ۱۵۸ |
| ۱۱۵ | د ښځي لپاره پر تندي، شونډانو يا نور بدن باندي خالونه وهل جائز دي؟ | ۱۵۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| صفحه | مضامین | شمېره |
|---|---|---|
| ۱۱۶ | د غاښو باریک (نري) کول جائز دي؟ | ۱۶۰ |
| ۱۱۷ | د ښځي لپاره د سرو زرو یا سپینو زرو غاښونه اینښوول یا د هغو پوښونه ورکول جائز دي؟ | ۱۶۱ |
| ۱۱۸ | د ښځو لپاره د سرو او سپینو زرو د استعمال حکم | ۱۶۲ |
| ۱۱۸ | یوازي د اظهار او نمایش لپاره د سپینو زرو استعمال جایز دئ؟ | ۱۶۳ |
| ۱۱۸ | د ښځو لپاره داسي زېور استعمالول چي اواز لرونکي وي جائز دي؟ | ۱۶۴ |
| ۱۲۰ | د ښځو لپاره د سرو او سپینو زرو ماسوا اوسپنه، پیتل او داسي نور استعمال جائز دئ؟ | ۱۶۵ |
| ۱۲۰ | د پلاستیک او ښیښه یي بنګړو په لاس ول جائز دي؟ | ۱۶۶ |
| ۱۲۱ | د ښځو لپاره د پایزېبونو په پښو کول جائز دي؟ | ۱۶۷ |
| ۱۲۱ | په داسي حال کي چي د ښځي اسم الله په غاړه وي پای خاني یا غسل خاني ته تګ جائز دئ؟ | ۱۶۸ |
| ۱۲۲ | د ښځو لپاره داسي ساعت په لاس ول چي سره یا سپین زر پکښي استعمال سوی جائز دي؟ | ۱۶۹ |
| ۱۲۲ | د ښځو لپاره داسي ساعت په لاس ول چي لاسبند یې د اوسپني یا پیتل وي جائز دئ؟ | ۱۷۰ |
| ۱۲۳ | د ښځي لپاره داسي انګشتری په ګوته کول چي غمي یې د ډبري یا بل شي وي جائز دي؟ | ۱۷۱ |
| ۱۲۳ | د ښځو لپاره د پزي او غوږو سوري کول جائز دي؟ | ۱۷۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| شمیره | مضامین | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۷۳ | د ښځو لپاره د لاسو او پښو د سره کېدو حکم | ۱۲۴ |
| ۱۷۴ | د ښځو لپاره د لويو نوکانو د پرېښوولو حکم | ۱۲۵ |
| ۱۷۵ | د ښځو لپاره د نوکانو رنګول جائز دي؟ | ۱۲۶ |
| ۱۷۶ | د ښځو لپاره نقلي (مصنوعي) لوی نوکان اېښودل جائز دي؟ | ۱۲۷ |
| ۱۷۷ | د ښځو لپاره د جګې کوړی، لرونکي بوټ يا چمپل په پښو کول جائز دي؟ | ۱۲۷ |
| ۱۷۸ | د ښځو لپاره خوشبو (عطر) وهل جائز دي؟ | ۱۲۸ |
| ۱۷۹ | د عدت په وخت کي د ښځي لپاره زينت او سينګار کول جائز دي؟ | ۱۲۸ |
| | | |


د تعليم الاسلام ويب پاڼي له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تقريظ

نحمده ونصلي ونسلم علي رسوله الکريم.

امابعد!

درنو لوستونکو! څرگنده خبره ده چي الله جل جلاله دبشريت دتل ښېرازۍ او سوکالۍ لپاره داسلام سپېڅلی دين هغه وخت وځلاوه چي دانسانانو زياته برخه بدبختۍ ، هلاکت او بربادۍ په ظالمو موټو وهلې وه ، الله جل جلاله داسلام په پستو او مينه لرونکو وړانگو بشريت ددې ناورين څخه وژغورئ او ډيوې سيده لاري په ښودولو سره يې ددنيا او اخرت نيکمرغۍ ورپه برخه کړې، پاته دي نه وي چي ددنيا مدنيت او پرمختيا که هرڅومره دلوړوالي پر لوري ولاړ سي خو بيا هم ښېرازي ، نيمکرغي او خلاصون هم په همدې دين کي نغښتی دیٔ ، هغه وخت دتاسف او بدبختۍ دیٔ چي ددين څخه فاصله پيدا کيږي او يا يې په پوهاوي کي ستونزي پيدا کيږي ، بيا هم دسترسبحان لورونه اوپېرزوينه ده چي تل يې دا مبارک دين په مبارکو انسانانو ساتلی او خلگ يې ترې گټمن کړی دیٔ چي يوه لاره يې په معاصر وخت کي په هر ټبر کي دهغه ټبر په مورنۍ ژبه باندي دعلماؤ شتون او ددوی ليکني دي چي زياتي گټي يې په لاس راوړی دي ، دا کار څکه گټمن دیٔ چي الله جل جلاله په تېره زمانه کي هم انبياء عليهم السلام دهغو قومونو په ژبو لېږل څکه الله جل جلاله فرمايي:

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ [1]

ژباړه : موږ هيڅ رسول نه دیٔ لېږلی مگر دخپل قوم په ژبه مو لېږلی دیٔ.

حاصل داچي دا دالله جل جلاله لوی فضل دیٔ چي په هر ټبر کي دهغه ټبر په ژبه

---

[1]: سورة ابراهيم الاية ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



علماؤ کرامو دوی ته دعوت پیل کړی او په تالیف او ترجمه یې ددوی مذهبي تندي ورماتي کړي په همدې لړ کي داشرفیې مدرسې یو تن جید عالم مولوي محمد مجاهد صاحب توانېدلی چي په معاصر وخت کي پر یوه ډېره اړینه موضوع باندي چي دښځو دلباس او ځان جوړوني موضوع ده ـ رساله ولیکي دنوموړې رسالې مطالعه په اوس وخت کي عامو او خاصو خلګو ته ډېره اړینه ده ځکه فتنې شیبه په شیبه زیاتیږي او زیات ناوړه او ناروا دودونه منځته راغلي دي هر مسلمان ورور کولای سي چي ددغه رسالې دمطالعې په مټ یو شمېر لباسي ناروا دودونه دکور څخه وباسي نوموړې رساله داشرفیې مدرسې دتالیف او ترجمې دڅانګي غړو وکتل په کتلو یې پرېکړه وکړه چي دشوق له اړخه پیاوړی ده آخره داچي اشرفیه مدرسه نوموړې رساله تائیدوي او دټولني داستفادې لپاره یې وړاندي کوي.

په درنښت

دجامعې اسلامیې اشرفیې دتالیف او ترجمې څانګه

| دتالیف او ترجمې دڅانګي اراکین | |
|---|---|
| نوم | دنده |
| مولوي محمد رسول صاحب | عمومي رئیس |
| مولوي عبدالهادي حماد | دمدرسې ، تالیف او ترجمې مدیر |
| شیخ الحدیث مولوي عبدالرحیم صاحب | رئیس دارالافتاء |
| مولوي سید احمد غفوري | نائب دارالافتاء |
| مفتي احمد ګل صاحب | عضو دارالافتاء |

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دمؤلف عرض

تر خوراک او څښاک وروسته دوهم هغه شی چي انسان ډېر ورته محتاج دئ هغه لباس دئ، چي په هغه باندي خپل عورت پټوي او د ګرمۍ او یخ څخه ځان په ساتي او دا ډول په معاشره او ماحول کي ځان په ښایسته کوي، څکه اسلام داسي یو کامل دین دئ، چي د ژوند په ټولو شعبو (څانګو) کي پر احکامو باندي مشتمل دئ، آن تر دې چي د لباس او زینت لپاره یې داسي اصول وضع کړي دي، چي د هغه څخه د مسلمان لپاره سرغړونه جائز نه ده.

که څه هم بعضي نوي فکر لرونکي انسانان دا ګومان کوي چي لباس او زینت د عادي کارو څخه یو کار بلل کېږي، چي په هر عصر او زمان کي څرنګه چي وغواړي هغسي لباس او زینت کولای سي، د حلال او حرام سره څه اړه نه لري، لیکن د دا ډول ګومان کوونکي که څه فکر او تدبر وکړي نو وروسته به ورته معلومه سي چي لباس د انسان په ژوند کي ډېر مؤثر شی دئ او په واقع کي که څه هم داسي معلومېږي، چي د ظاهري امورو سره تعلق لري لیکن په حقیقت کي پر سیرت، اخلاقو او نفسي احوالو باندي ډېر ژور اثر لرونکی دئ.

او د لباس او زینت اثرات مختلف وي، بعضي اوقات بخل، کبر (لویي)، اود اسراف عادي جوړول. د خلکو حقوق پا یمالول په چا کي پیدا کوي او بعض اوقات په لباس کي بیا د تواضع (عاجزی) تربیه هم اخیستلای سي، او اخلاق حسنه هم پکښي پیدا کیدای سي. که څوک پر لباس او زینت باندي خالص د ظاهري شي ګومان کوي نو هغه د انسان د طبیعت څخه ناخبره دئ.

بل دا چي اسلام د لباس په اړه کوم حکم کوي هغه به د طبیعت غوښتنه او د سالم فطرت سره به موافق وي او اسلام د انسان لپاره د یو خاص ډول د لباس یا زینت یا یو خاص هیئت یا د یو خاص ماحول او معاشرې د لباس امر نه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی، بلکي د لباس او زینت لپاره یې مضبوط اصول او اساسي قواعد ایښي دي، چي پر هغه اصولو باندي عمل کول پر مسلمان باندي واجب دي، چي د کتاب په اوږدو کي به مخته راسي.

په هر صورت د هر انسان لپاره که نارینه وي یا ښځینه وي چي پر خپل سالم فطرت باندي پاته وي د لباس او بدن د پاکوالي مراعت کوي، هغه لباس هم داسي چي د هغه بدن له بل چا څخه پټ وي او دا د انسان فطري غوښتنه هم ده، ځکه کله چي الله تعالی حضرت آدم علیه السلام او حوا رضي الله عنها پیدا کړه نو دواړو ته یې د جنت لباس ورکړ. بیا چي کله شیطان دوی سهوه کړه، نو د الله پاک د حکم خلاف ورزي رامنځته سوه، الله پاک د دوی څخه د جنت لباس واخیستی، نو دوی سمدستي د درختو په بلګونو باندي د خپل بدن پټول شروع کړه، ځکه الله تعالی فرمایي:

وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۖ (الاعراف: ۲۱)

ترجمه: دوی دواړو د جنت په بلګو باندي خپل ستر پټ کړی.

که څه هم د خاوند او مېرمني پرته بل دریم څوک نه وو، لیکن بیا هم د فطري شرم او حیاء په غوښتنه باندي دوی خپل ستر پټوی.

لهذا معلومه سوه چي شریعت مطهره د خپلو اصولو او قوانینو مطابق نارینه او ښځینه ته د ښه ښایسته لباس د اغوستلو او د ښه زینت او سینګار کولو اجازه ورکړې ده، د هغه څخه یې منع کړې نه دي.

نو هغه مسلماني خوندي چي په داسي لباس اغوستلو یا زینت کولو باندي اخته وي چي شریعت مقدسه د هغه د اغوستلو اجازه نه ورکوي پخپله ځان ورڅخه وساتي.

دوهم هغه کسان چي د کورو سرپرستان وي هغه که نارینه وي او که ښځینه پر دوی لازمه ده چي دوی به خپل اولادونه او خپل ماتحت (چي د دوی تر سرپرستی لاندي وي) صحیح تربیه کوي، او په هغه لباس اغوستلو او په زینت او سینګار کولو یې امر کړي چي شریعت مطهره اجازه ورکړې وي، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حديث شريف کي نبي کريم ﷺ فرمايي، چي: د قيامت په ورځ د هر سرپرست څخه د خپل ماتحت کسانو پوښتنه کېږي[(۱)].

او الله تعالى فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا (التحريم: ٦)

ترجمه: اې مؤمنانو! تاسي خپل ځانونه او خپل اولادونه د اور څخه وساتئ.

له دې آيت څخه دا معلومه سوه، چي خالص څوک يوازي د ځان په اصلاح باندي نجات او جنت نه سي پيدا کولای، ترڅو چي د خپل ماتحت کسانو د اصلاح فکر يې کړی نه وي.[۱]

ليکن د اوسني وخت بعضي سرپرستانو خو خپل ځان د ده په فکر پخپل فرضي، واجب او نور نفلي عبادتو باندي خلاص بللی دئ، په کور يا کورنۍ کي چي کوم لباسونه نارينه يا ښځينه اغوندي يا ښځينه کوم زينت او سينګار اختياروي دی بې فکره او بې پروا وي، بلکي د ده په پيسو باندي هغه لباسونه او د زينت او سينګار هغه اسباب چي په شريعت مقدسه کي جائز نه وي رانيسي دی د هغه په ګناه کي ورسره شريک دئ، ځکه ده يو ډول کومک او مرسته په ګناه کي ورسره کړې ده او بيا په هغه کورنۍ کي چي هلته ښځه د اکا د زوی، د خاله د زوی، د ماما د زوی، د عمه د زوی، اخښي او لېور څخه مخ نه پټوي دا ډول لباسونه اغوستل يا سينګار کول که څه هم په شريعت مقدسه کي جائز وي خو په فتنه کي د واقع کېدو د احتمال له ويري جائز نه دي.

او دا ډول زينت او سينګار کول، د بدن صفايي کول په سالم فطرت کي داخل دي او شريعت مطهره د کولو اجازه په څو شرطو باندي ورکړې ده، چي د

(۱) قال رسول الله ﷺ:...... أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ. مسند امام احمد ورقمه ۴۹۲۰ ، ج ۹ ص : ۴۵۶ ، ط : المكتبة الشاملة

[۱]: ذاتی عمل نجات کی لئی کافی نهين اصلاحی خطبات ج : ۴ ص : ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو شرطو مراعتول ضروري دي، ځکه په حدیث شریف کي نبي کریم ﷺ فرمايي:

لا یدخل الجنة من کان فی قلبه مثقال ذرة من کبر، قالوا یا رسول الله ﷺ! ان احدنا یحب ان یکون ثوبه حسناً، و نعله حسنة، قال ان الله جمیل یحب الجمال، الکبر بطر الحق، و غمط الناس (١)

ترجمه: نبي کریم ﷺ وفرمایل: چي د چا په زړه کي که د اوړدن د دانې په اندازه کبر (لويي) وي هغه جنت ته نه سي داخلېدلای، صحابه وو رضي الله عنهم عرض وکړ: یا رسول الله که زموږ څخه يو څوک دا خبره خوښه کړي چي د هغه لباس ښه وي، چوټه (یا چمپل) يې ښه (اعلی درجه) وي (نو آیا دغه هم په کبر [لويي] کي داخل دئ؟)

نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل، چي: الله جمیل دئ، حسن او جمال خوښوي. کبر دا دئ چي حقه خبره نه قبلوي او خلک تحقیروي یعني د خلکو توهین او سپکاوی کوي.

پر سرپرست باندي لازمه ده چي اول خو هغه لباسونه اغوستل یا هغه زینت کول چي په شریعت کي جواز نه لري یا جواز لري خو د فتنې د واقع کېدو له وجي خپل ځانونه او خپل اولادونه او ماتحت کسان د هغه څخه منع کړي.

---

١: (بخاري، کتاب الایمان).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په دنيا کې د جنتي ښځو صفات

## د ښو ښځو علامې :

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چې نبي کريم ﷺ وفرمايل : ايا تاسو ته ديو شي خبر نه کم در د جنتي نارينه وو په باره کې نو هغه بيان يې وفرمايه .......... او تاسو ته د جنتي ښځو په باره کې خبر نه درکړم ، جنت ته تلونکې ښځې دادي :

۱ : چې د خاوند سره ښه محبت کونکې وي .

۲ : او ډير اولادونه زېږونکې وي او ښه تربيت کونکې وي .

۳ : کله چې خاوند د هغې څخه ناراضه وي يا په خپله دا ناراضه وي نو دا خپل ( خاوند ته ) ورسي خپل لاس د خاوند په لاس کې ورکړي او دا به ورته ووايي چې زه تر هغه وخت ته پوري ارام نه سم کولای تر څو چې ته زما څخه راضي نه سي .۱

# د ښځو د څلورو کارو کولو انعام

نبي کريم ﷺ فرمايي :

کومه ښځه چې پنځه وخته لمونځ کوي ، د روژې د مياشتي روژه نيسي او د خپلي پاک دامنۍ حفاظت کوي او د خپل خاوند فرمانبرداري کوي، هغه ته به ( د قيامت په ورځ ) وويل سي چې د جنت په کومه دروازه چې غواړي داخله سه.(۲)

# ديوې ښځې دوجې
# ټوله دنيا روښانه او خوشبويه کېدل

د حضرت سعيد بن عامر ﷺ فرمان دئ چې ما د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي دي

---

[1] : الااخبركم برجالكم من اهل الجنة .................. ونساؤكم من اهل الجنة ............ حتي ترضي . كنزالعمال

[2] : اذا صلت المراة خمسها وصامت شهرها وحفظت فرجها واطاعت زجها قيل لها ادخلي اي ابواب الجنة شئت . الترغيب والترهيب .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هغه وفرمايل :
که چيري د جنت د ښځو څخه يوه ښځه ( دنياته ) راسي نو د ټولي دنيا مځکه به د مشکو په بوی معطره سي او د لمر روښنايي به ولاړه سي. (١)

## دجنتي ښځي تاج

حضرت انس ﷺ فرمايي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل :
که چيري د جنت د ښځو څخه يوه ښځه د دنيا طرفته راسي نو د اسمان او مځکي په مابين کي چي کومه مسافه ده ټوله به په خوشبويي سره معطره سي او د دوئ په مابين کي چي کومه حصه ده هغه به روښانه سي او د دې تاج به تر دنيا او په دنيا کي چي کوم شيان دي تر هغه قيمتي وي. (٢)

## دښځو لپاره کوم شی بهتر دئ ؟

دنبي کريم ﷺ څخه سوال وسو چي د ښځو لپاره بهتره او ښه د کولو شی څه شی دئ ؟نبي کريم ﷺ په جواب کي وفرمايل : چي د ښځو بهتره او ښه کار دادئ چي نه ( نامحرم ) نارينه دوئ ووينې او نه دوئ ( نامحرم ) نارينه ووينې .
او حضرت فاطمة (( رضي الله عنها )) فرمايي : چي دغه کار هغه وخت مکمل کېدای سي چي ښځي په کور کي اوسي ( او د کور څخه بې ضرورته نه وزي ). (٣)

## دحورو يوائحي دلاس دښائست والي اندازه

حضرت کعب بن احبار ( رحمة الله عليه ) فرمايي :
که چيري يوه حوره خپل لاس د ګوتو سره د آسمان څخه ښکاره کړي نو د هغه دوجي به ټوله مځکه روښانه سي لکه څرنګه چي لمر دنياوالوو ته روښنايي

---

[1] : لو ان امراة من نساء اهل الجنة اشرفت ....... ولاذهب ضوء الشمس .الترغيب والترهيب ج : ٤ ص : ٢٢

[2] : لو اطلع امراة من نساء اهل الجنة ......... خير من الدنيا وما فيها . مسند احمد .

٣ : في جواب سوال النبي ﷺ اى شئ خير للنساء ....... لايرين الرجال ولايرونهن ...... لايمكن الابالاحتجاب بالبيوت . احكام القرآن للتهانوي ج : ٣ ص : ٤٥٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوي . بيا يې دا و فرمايل چي دايي دلاس ښائست دئ نو دهغې دمخ ښائست به په کومه اندازه وي ، او دهغې تاج به د یاقوت ، ملغرو او زبرجدو وي .(۱)

## د دنیا ښځې د حورو څخه افضل دي ؟

حضرت حبان بن ابي جبله ( رحمة الله علیه ) فرمايي :

چي د دنيا ښځې کله جنت ته داخلیږي نو دوئ ته په دنيا کي د نیک عملونو په وجې پر حورو باندي فضيلت ورکول کیږي ( یعني څومره ډیر نیک اعمال چي يې کړي وي په هغه اندازه به يې حسن او درجې زیاتي وي )(۲)

## د دنیا ښځه تر حوري (۷۰۰۰۰) اویا زرګونه افضلي دي

فائده : علامه قرطبي ( رحمة الله علیه ) فرمايي :چي داخبره دجناب نبي کریمﷺ څخه مرفوعا روايت سوي ده چي ده مبارک ارشاد فرمایه :

دنياوي ښځې دحور عين څخه ۷۰۰۰۰ زرګونه افضلي دي ( یعني څومره ښائست چي دحورو دئ دجنتي ښځو ښائست به ددوي دښائست څخه ۷۰۰۰۰ اویا زره چنده زیات وي)(۳)

## دنیکي ښځې عمل داویاو صدیقینو برابر دئ

دحضرت ابن عمرؓ څخه روایت دئ چي نبي کریمﷺ وفرمایل : چي دمؤمني (صالحي) ښځې عمل داویاو صدیقینو دعمل سره برابر دئ او دګناهکارانو دبدعملۍ په شان دئ (که موږ وګورو په حدیث شریف کي دنیکي ښځې څومره لويه درجه او مرتبه بیان سوې ده دبدي ښځې ګناه څومره ډېري ګناوي بلل

---

[1] : وعن ابن عباسؓ قال ... لوان يدا من الحور من السماء بياضها ولؤلؤ وزبرجده الترغيب والترهيب ج : ٤ ص : ٥٣٥

[2] : تذکرة قرطبي ج : ۲ ص : ٤٧٧ .

[3] : ان الادميات افضل من الحور بسبعين الف ضعف تذكرة قرطبي ج : ۲ ص : ٤٧٧ .

سوي دي)(۱)

## د دوزخ د تکليفو بيان

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي:
چي دوزخ تر زرو کلونو پوري بل کړل سو ترداسي حده چي دده رنګ سور سو او بيا زر کاله نور بل کړل سو ترداسي حده چي سپين سو بيا تر زرو کلونو پوري نور بل کړل سو تر داسي حده چي تور سو.(۲)
اوس ستاسو دغه اور چي تاسو يې بلوئ د دوزخ تر اور په ګرمۍ او حرارت کي اويا (۷۰) درجې کم دئ او هغه اويا (۷۰) درجې تر دغه زيات ګرم دئ.(۳)

## د دوزخ غټ والی

نبي کريم ﷺ فرمايي: چي دوزخ راوړل کيږي په داسي حال کي چي دده به اويازره قيضې وي او هره قيضه به اويا زره ملائکو نيولې وي او تر دغو قيضو به يې راکشوي.(۴)

## د دوزخ ژوروالی

رسول الله ﷺ فرمايي: که ډېره درنه ډېره د دوزخ دغاړي ودوزخ ته وغورځول سي او تر اويا کلونو پوري مسلسله ولاړسي نو پس د اويا(۷۰) کلونو څخه به دوزخ وبيخ ته ورسيږي.

## تر ټولو د کم عذاب اندازه

نبي کريم ﷺ فرمايي: چي په ټولو کي سپک عذاب په دوزخ کي به دهغه چاوي چي دهغه په پښو کي به فقط داور دوي څپلی وي ليکن د دغه څخه به دده

---

[۱]: عن ابن عمرؓ عن النبيﷺ قال وان مثل عمل المراة المؤمنة كمثل عمل سبعين صديقا وان عمل المراة الفاجرة لفجور الف فاجر. كشف الاستار ج: ۲ ص: ۱۵۷.

[۲]: عن ابي هريرةؓ عن النبيﷺ قال اوقدعلي النار الف سنة حتى احمرت ... فهي سوداء مظلمة،مشكوة ج: ۲ ص: ۵۰۳.

[۳]: عن ابي هريرة ؓ ان رسول اللهﷺ قال ناركم جزء من سبعين ...مشكوة ج: ۲ ص: ۵۰۳.

[٤]: وعن ابن مسعودؓ قال رسول اللهﷺ يوتي جهنم يومئذ لها... الف ... يجرونها... مشكوة ج: ۲ ص: ۵۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماغزه دګډوې په ډول ایشیږي ، اودده به داخیال وي چي په ټولو کي زما عذاب ډېر زیات دئ .(۱)

## دوزخ دمارانو دغټوالي اندازه

نبي کریم ﷺ فرمایي : چي په دوزخ کي داسي غټ غټ ماران دي لکه اوښان که یو وار سړی وخوري نو تر څلویښتو کلونو پوري به یې زهر په بدن کي څپې وهي او لړمان یې داسي لوی دي لکه پالل سوي او کتل سوي غاتري که دوی سړی وخوري نو تر څلوېښتو کلونو به زهر دده په بدن کي څپې وهي.(۲)

## دجنت ښه والی او ددوزخ بدوالی

یو واري نبي کریم ﷺ لمونځ وکړئ و منبرته یې تشریف راوړئ او وې فرمایل : چي ما نن دجنت او دوزخ نقشه هو بهو اوبعینه ولیدله نه تر ننه پوري ما تر جنت زیات یو ښه شی لیدلي دئ او نه مي تر دوزخ زیات یو شی دتکلیف لیدلي دئ.(۳)

## په دنیا کي
## ددوزخي ښځو صفات او نښاني

### دعطر ( خوشبوي ) وهونکو ښځو مثال :

رسول اکرم ﷺ فرمایي :

هره سترګه زنا کونکې ده ، ښځه چي کله عطر ( خوشبویي ) ووهي نو پس ( دباندي ووځي ) د ( نارینوو ) دمجلس سره تیره سي ، هغه داسي یعني

---

[1] :عن النعمان بن بشير قال قال رسول الله ﷺ ان اهون اهل النار عذابا ... لاهوهم عذابا.مشكوة ج:۲ص: ۵۰۲ .

[2] : عن عبدالله بن حارث بن خير قال قال رسول الله ﷺ ان في النار حيات كامثال البخت تلسع ... اربعين فريقا . مشكوة ج : ۲ ص : ۵۰٤ .

[3] : عن انس ان رسول الله ﷺ لنا يوما الصلوة.... في الخيروالشر مشكوة ج : ۲ ص : ۵۰۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زانية ده. (۱)

تشريح: نبي کريمﷺ دهغه ښځي چي عطر په ځان باندي ووهي دباندي دنارينوو دمجلس يا دنارينوو سره تيريږي نو ددغي ښځي مشابهت نبي کريمﷺ دزانيې او فاسقي ښځي سره وکړئ.

## درې کسان جنت ته نه سي داخليداى

حضرت عمارؓ روايت کوي چي نبي کريمﷺ وفرمايل:

درې کسان دهميشه لپاره جنت ته نسي داخليداى:

اول: ديوث (دوس) دوهم: والرجلة من النسآء (هغه ښځه چي دنارينوو سره مشابهت کوي) دريم مدمن الخمر (شراب چيښونکى) اصحابانو مبارکو ورته وفرمايل: يارسول الله! مدمن الخمر خو پېژنو ديوث څه شى دئ؟ نبي کريمﷺ وفرمايل: ديوث هغه څوک دئ چي پردئ دده کورته داخل سي دى يې پروا نه کوي. صحابي مبارک، فرمايي: موږ ورته وويل چي الرجلة من النساء څه شي دئ؟ رسول اللهﷺ وفرمايل: دا هغه ښځه ده چي دنارينوو سره مشابهت کوي (۲)

تشريح: دنارينوو لپاره دښځو سره په لباس حرکات او په بعضو صفاتو کي مشابهت کول نه دي جائز او دغه ډول دښځو لپاره دنارينوو سره په لباس حرکات او په بعضو صفاتو کي مشابهت کول جائز نه دي.

او دا ډول په يو بل حديث شريف کي نبي کريمﷺ فرمايلي دي چي دا اللهﷻ لعنت دي پر هغه ښځه باندي وي چي هغه دنارينو سره مشابهت کوي. (۳)

[1]: عن ابي موسىؓ عن النبيﷺ قال كل عين زانية ، والمراة اذا استعطرت .... يعني زانية . الترغيب والترهيب ج : ۳ص : ۸٤

[2]: عن عمار بن ياسر عن رسول اللهﷺ قال ثلاثة لايدخلون الجنة ابدا : الديوث.... قلنا فما الرجلة من النساء قال التي تشبهه بالرجال . الترغيب والترهيب ج : ۳ ص : ۱۰۷

[3]: عن ابن عباسؓ قال لعن رسو ل اللهﷺ المتشبهين من الرجال.... من النساء بالرجال . ترغيب والترهيب ج : ۳ ص : ۱۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملعوني (لعنت پر سوي) ښځي څوک دي ؟

دعبدالله بن عمر ( رضي الله عنهما ) څخه روايت دئ ، دی مبارک فرمايي چي ما دنبي کريم ﷺ څخه واورېدل ده مبارک وويل چي زما د امت په اخرکي به نارينه وي چي دوي به (دعزت) پر ځينانو باندي سپرېږي (دومره به په عزت وي) لکه هغه خلګ چي مسجدو ته (ځي) او په دروازو کي (ددوئ عزت لپاره نور خلګ انتظار کوي ) ددوئ ښځو به لباس اغوستی وي مګر لڅي به وي ( يعني داسي باريک يا لنډ يا تنګ لباس به يې اغوستی وي چي دلباس مقصد فوت سوي وي ) ددې ښځو سرونه به دبختي اوښ دبوک په ډول وي (يعني دغو ښځو به خپل وېښتيان دخپل سره پر يوه حصه باندي يو ځای راټول کړي وي داسي به معلومېږي لکه داوښ بوک ) نو دغه ښځي ملعوني دي (يعني لعنت پرې سوی دئ )(۱)

# ددنيا دښځو
# په جنت کي دکم والي وجه

دحضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل :

اې دښځو جنس ! تاسو صدقه کوئ او ډېر استغفار (واياست ) ځکه ما تاسو ( يعني ستاسو جنس ) په دوزخ کي ډېر وليدئ ، يوې ښځي چي په ډېره ښه لهجه باندي خبري کولې عرض يې وکړئ چي يا رسول الله ! زموږ څه نقصان دئ ؟ چي موږ (ښځي ) په دوزخ کي ډيري يو ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : تاسو لعنت ( ښراوي ډيري کوئ که خپلو اولادو ته وي او که نورو ته ) او دخاوند ناشکري او نافرماني کوئ ( يعني چي خاوند هر څومره نعمتونه دوئ ته راوړي بيا هم چي يوه ورځ څه شی کم وي نو دوئ وايي چي ستا کورته زه

---

۱ : عن عبدالله بن عمررضي الله عنهما قال سمعت رسول الله ﷺ يقول : يكون في آخر امتي رجال .... فانهن ملعونات ... نساء الامم قبلكم . الترغيب والترهيب ج : ۳ ص : ۹٤ .

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلې يم ما شي نه دئ ليدلي )(۱)

## د ښځو څخه د قيامت په ورځ لومړی څه سوال کيږي؟

حضرت انس ﷺ د نبي کريم ﷺ فرمان نقل کوي چې د قيامت په ورځ به د ښځو څخه تر ټولو مخکې د لمانځه پوښتنه کيږي (چې ايا لمونځ يې په پابندی سره په خپل وخت کې کاوه او که يې نه کاوه) بيا به د خپل خاوند په اړه پوښتنه ځني وسي چې د هغه سره يې څنګه سلوک کاوه(۲)

## د جهالت په زمانه کې د ښځې اهميت او مقام :

د قرآن کريم د آياتو څخه دا معلوميږي چې د اسلام د راتګ تر مخه ښځې ډيرې مظلومې او په تکليفو کې وې او قرآن کريم په دې صراحت کړي دئ چې دوي د ښځو څخه نفرت کوئ :

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ (۳)

ژباړه :ثابتوي دا ( کفار ) الله تعالی ته هغه چې بد ګڼي(دوی د خپلو ځانو لپاره ) يعني دوي الله تعالی ته دلونو عقيده لري . په بل آيت کې فرمايي :

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾ (۴)

ژباړه : ثابتوي ( کفار ) الله تعالی ته لوڼي الله تعالی پاک دئ (د ولده او د شريک څخه) او دوي ( کفار ) ثابتوي د ځانو لپاره هغه چې دوي ( کفار ) خوښ وي .

يعني د غه خلک ملائکې د الله تعالي لوڼي بولي او د وي خپله لوڼي نه خوښوي

---

[1] : يا معشر النسآء تصدقن واكثرن الاستغفار .... وتكفرن العشير . ابن ماجة ج : ص : ۴۰۳ في الفتن .

[2] : عن انس ﷺ اول ماسئل المراة يوم القيامة عن صلاتها ثم عن بعلها كيف عملت اليه . كنز العمال ج : ٤ ص : ٦٦

[3] : سورة النحل الاية ٦٢

[4] : سورة النحل الاية ٥٧ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکي زامن خوښوي . (۱)
تفسیر قرطبي لیکلي دي چي دا آیات د بنو خزاعه او بنو کنانة قبیلو په باره کي نازل سوي دي دهغو عقیده داده چي ملائکي دالله تعالی لوڼي دي او هغو به ویل چي لوڼي د الله ﷻ سره یو ځای کړي (العیاذ بالله)
په بل ځای کي الله ﷻ فرمایي :
وَجَعَلُواْ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ ٱلَّذِينَ هُمْ عِبَـٰدُ ٱلرَّحْمَـٰنِ إِنَـٰثًا ۚ (۲)

ژباړه : دوی (کفار) ملائکي چي د رحمن بندګاني دي ښځي بللي .
نو الله تعالی د دوي پر دغه خبره باندي انکار و فرمایه چي پر دغه خبره باندي دلیل دي چي د جهالت په زمانه کي د ښځو مرتبه ډیره کمه وه او په مظلومیت او تکالیفو به یې ژوند تېروئ او هر ډول لوی والی او فضیلت د نارینوو لپاره وو ، د ښځو لپاره هیڅ حصه نه وه حتی تر دې پوري چي ښه شیان نارینوو په خپله اخیستل او بې کاره شیان یې ښځو ته ورکول ځکه الله تعالی په دغه باره کي فرمایي :
وَقَالُواْ مَا فِى بُطُونِ هَـٰذِهِ ٱلْأَنْعَـٰمِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِنَا ۖ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَآءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ (۳)
ترجمه : او دوي وایي چي دهغو ( چارپایانو ) په نس کي چي څه دي هغه خالص زموږ د نارینوو لپاره دي ، او کچیري ( پیدا کیدونکي حیوانان . چارپایان ) مړه وي نو په هغو کي شریک یو ، ژر به سزا ورکړي ( الله ﷻ ) دوي ته د دي تقریر بیشکه دغه ( الله ﷻ ) ښه حکمت والا دي ښه علم والا دئ .
د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دئ چي د نارینوو لپاره خالص شیدې وي چي هغه دوي د خپلو ښځو لپاره یې حرام بللي وي ، او د دوي نارینوو څیښلي

---

۱ : تفسیر ابن کثیر ج : ۲ ص : ٥٩٤ .
۲ : سورة الزخرف الایة ۱۹
۳ : الانعام الایة ۱۳۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داغه ډول چي کله به یوي بوزې نر سېرلی زېږولی وو نو هغه به یې د نارینوو لپاره وو، او کچیري ښځه سیرلی زیږولي وای نو نه یې ذبحه کول او نه یې دا غسي پرېښودل، بیا الله تعالی مسلمانان د دغسي کولو څخه منع کړل. (۱)
ذکر سوی آیات پر دغه خبره باندي دلالت کوي چي هغه خلګ چي د خپل جهالت او ګمراهی دوجي د چارپایانو څخه پیدا سوي نر بچیان د نارینوو لپاره بلل او د ښځو لپاره یې حرام بلل او د چارپایانو څخه مردار (مړه) پیدا سوي بچیان د نارینه او د ښځو مشترک بللي.
ابو جعفر طبري د دغه آیات په تفسیر کي واضح نقل کړي دي چي د دغه چارپایانو ژوندي پیدا سوي کیدونکي بچیان خالص د دوي د نارینو د خوړلو لپاره وه او د ښځو لپاره حرام وه او مړه پیدا کیدونکي بچیان نارینوو او ښځو تولو خوړل په دغه باندي به دوي نارینوو ته ترجیح ورکول. (۲)
دغه خلګو د ښځو رتبه او مقام ډېر کم بللی ځکه دوي هغه ښځو ته چي انجلی به یې پیدا سول خوشکه به یې ورته کول یعني بده یې بلل. که څه هم دوي ته دا معلومه وه چي دغه د تقدیر تکویني نظام لاندي دواده په ذریعه پیداکیږي د هغه سره سره بیا هم دوي چي کله به د چا انجلۍ پیدا سوی وای نو هغه یې ژوندي دفن (په خاوره کي پټول) کول.
الله تعالی د قرآن آیاتو نه د دوئ د دې ناوړه عمل په باره کي نازل کړل لکه څرنګه چي مو مخته ذکر کړل چي الله تعالی د دوي دغه عادت په قرآن کریم داسي تصویروي:

وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ ٱلْبَنَٰتِ سُبْحَٰنَهُۥ ۙ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ أَيُمْسِكُهُۥ

---

[1] :عن ابن عباس رضي الله عنه فهواللبن کانوا یحرمون ... فهم فیه شرکآء فنهي الله تعالی عن ذالک.. تفسیر ابن کثیر ج : ۳ ص: ۳۱۱

[2] : تفسیر طبري ج : ۱۲ ص : ۱۵۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى ٱلتُّرَابِ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾ (١)

ترجمه : ثابتوي ( کفار ) الله تعالی ته لوڼي الله تعالی پاک دئ (دولده او دشريک څخه) او دوي ( کفار ) ثابتوي دځانو لپاره هغه چي دوي ( کفار ) خوښوي او کله چي به دوئ (کفارو) څخه يوه تن ته دلور ( دپيدا کېدو خبر) ورکړل سو نو دغم څخه به يې مخ تک تور سو او په داسي حال کي چي په قهر کي به وو ( چي زما ښځي ولي لور پيدا کړه ) دوي ( کفار ) به دخپل قوم څخه پټ ګرځېدل ترڅو چي هغه دنا خوښی خبر ليري کړي ، ايادوی ( چي اوس يې لور پيدا سوي ده ) په هغه څه ( ځان ) وساتي دسپکوالي او که يې دی په خاوره چخ کړي ، واورئ خبردار سئ بد دئ دغه چي حکم يې کوي .

علامه ابن کثير ددغه آيات په تفسير کي فرمايي : چي الله ﷻ دمشرکانو بدوالی بيانوي چي هغو الله تعالی ته لوڼي ثابتولي که څه هم الله تعالی ددوئ ددغي غلطي عقيدې څخه پاک دئ اودوئ دخپلو ځانولپاره نارينه اولاد خوښوي او دلوڼو څخه يې ځان ليري کوي او هغه يې الله تعالی ته ثابتوئ ، الله تعالی ددوئ ددغه غلطي عقيدې څخه لوړ دئ يعني پاک دئ . نو ځکه چي کله به ددوئ لور پيدا سوه نو دډېره غمه څخه به پټه خوله وه دليري څخه به چا محسوسوله چي لور يې پيدا سوې ده .او عقيده يې دا وه چي که لور ژوندی پرېږدي خو توهين اوذلت دئ دده لپاره او دده سره څوک ښه راشه درشه نه کوي .

نو خپلو نارينو او لادو ته به يې پر انجونو باندي فضيلت او فوقيت ورکوئ بالاخره به يې انجوني په مځکه کي ژوندۍ ښخولې . ځکه قرآن ددغه انجونو دقاتلانو په باره کي فرمايي :

وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَىِّ ذَنۢبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾

ترجمه : او کله چي دښځو سوو انجونو څخه سوال وسي چي په کوم جرم باندي

---

١ : سورة النحل الايات ٥٧ ، ٥٨ ، ٥٩ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قتل سوي ياست .
علامه ابن كثير د دغه ايت په تفسير كي فرمايي : چي د قيامت په ورځ د دغه كوچنۍ انجلۍ څخه دا سوال كيږي د دې د قاتل د تهديد لپاره كيږي ځكه كله چي مظلوم څخه سوال كيږي نو د قاتل څخه به څرنګه سخت سوال نه كيږي .
دا ( كفارو ) انجوني د دوو شيانو څخه ښخولې لومړۍ داچي د دوئ دا عقيده وه چي ملائكي دالله تعالى ( نعوذ بالله ) لوڼي دي ځكه دغه انجوني هغو ( ملائكو ) ته واستوي .
دوهمه داچي د فقر او افاقې او محتاجۍ د بيري څخه يا د قيد والي د وجي څخه چي هغه به منځي سي د دې وجي څخه يې ښخولې . (١)

## د يهودو په دين كي د ښځي مقام او مرتبه

موږ ته د قرآنكريم په ذريعه دا معلومه سوه چي يهودو په خپل كتاب كي تحريف ( لاس وهنه ) كړې وه ځكه الله تعالي فرمايي :

يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ (٢)

ژباړه : دوئ ( يهوديانو ) به كلمې د خپل ځاى څخه تغيرولى .
د ښځو په باره كي د يهودو دا موقف او عقيده وه چي په دنيا كي اوله غلطي د ښځي څخه وسوه چي دا هغه غلطي ده چي په جنت كي پېښه سوه چي حضرت آدم عليه السلام او حضرت حوا رضي الله عنها ته حكم وركول سوى وو چي د غنم دانه به نه خوري مګر شيطان د مار په شكل كي ورته راغلئ په حضرت حوا رضي الله عنها باندي يې د غنم دانه وخوړل او حضرت حوا رضي الله عنها بيا په حضرت آدم عليه السلام باندي د غنم دانه وخوړل . نو دوئ به ويل چي د هغه په نتيجه كي يې موږ ځمكي ته راكښته كړو او په ځمكه كي نافرمانياني شروع سوې ، بهر حال

---

١ : القرطبي ج : ١٩ ص : ٢٣٢ .
٢ : سورة مائدة الاية ١٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیهودو دښځو په وړاندې دا موقف او عقیده چي لومړۍ غلطي حوا رضي الله عنها وکړه آدم ﷺ نه ده کړې نو له همدې کبله ښځه د نارینه څخه په ډیرو کارو کي کمه او کښته ده ځکه یهودو ښځه په کار کي ګناه ګاره او منحرفه بلله او دا به یې ویل چي په تورات کي دا ذکر سوي دي چي الله تعالي دآدم ﷺ څخه سوال وکړئ چي تاته ما دا نصیحت کړی وو چي دغه دغنمو دانه به نه خوري مګر تا وخوړل ؟ حضرت آدم ﷺ عرض ورته وکړئ چي تا زما سره کومه ښځه راسره کړې وه هغه ماته دغه دانه راکړه نو الله تعالي ښځي ته دا وفرمایل چي ته به په حمل کي ډېره په مشقت او په ولادت کي به ډېره په تکلیف یې .(۱)

دغه سزا حضرت آدم ﷺ ته ددغه غلطۍ په وجه ورکول کېده او ښځو ته تر اوسه پوري دحمل او ولادت په وخت کي ورکول کیږي .

دیهودو په اند ښځي دغام مال او سامان او حیواناتو په ډول رانیول کېدې او خرڅېدې .

او په میراث کي چي به یې وروړ هم دپلار څخه پاته سوی وو نو خور ته دپلار دمال څخه خصه نه ورسېدل یعني دپلار دمیراث څخه محرومه کېدل .

او دغه ډول په دوئ کي دا قانون وو چي ښځه به بې اولاده وه او کونډه به سول نو دمړه خاوند دوروړ سره به وه دبل چاسره دنکاح کولو حق نه ورکول کېدئ او ددې سره سره به نور هم حقیره او خواره ه ددې ماسوا چي کله به ښځي ته میاشتنۍ مریضي ورغله په دغه ورځو کي به ښځه نجسه بلل کېده او په دغه ورځو کي به یې دښځو دلاس څخه نه یو شی اخیستی او نه به یې خوړي او نه یې ښځه په یوه بستره کي دځان سره پرېښول .

دیهودو یوه عقیده دا هم وه چي ښځه فطرتا ناپاکه ده او کمي ښځي چي نارینه اولاد وزیږوي اوه ورځي ناپاکه بلل کېده او نوري ورځي به یعني درودیرش (۳۳) به پاکه بلل کېده او کمي ښځي چي به ښځینه اولاد وزیږوئ نو هغه به دوه چنده ناپاکه بلل کېده او داهم نارینو پر ښځو باندي دفضیلت یوه عقیده

---

۱ : حقوق وقضايا المراة في عالمنا المعاصر . ص : ٤٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه .(۱)

دښځي په مياشتنۍ ناروغي کي به چي څوک پر هغه ځای کښېنستلی وای کوم چي حائضه ښځه پر کښېنستله او يا به يې د حائضې ښځي سره لاس يا بل شی موښتی وای نو هغه هم ديوې ورځي لپاره ناپاکه بلل کېدئ او په يخو اوبو غسل کولو ماسوا په تودو اوبو يې غسل نه صحيح کېدئ او نه پاکېدل.

داغه ډول حائضه ښځي ته خاوند کتل هم نه ترڅو چي چا شاهدي نه وای ورکړې چي هغه ما وليدل چي غسل يې وکړئ .(۲)

يعني يهودي ښځي به په خپل ژوند کي د مستقل شخصيت او ارادې هيڅ کار نسو کولای بلکي هغه بهٔ د نارينه تابع وه او ديوې خادمي حيثيت به يې وو او دښځي پلار چي به کله وغوښتله چي ښځه خرڅه کړي خرڅولای يې سوای او دچا سره به يې چي زړه وغوښتی هغه ته يې په نکاح ورکول او هغه به مکمله دخاوند تابع داره او محتاجه وه .

او يهودي ښځي تر نن پوري ديهوديت (دځان څخه په جوړ سوي) دين کي ددغه ذکر سوي مشکلاتو او تکاليفو سره مخامخ دي .(۳)

## په مسيحي دين کي دښځي مقام او مرتبه

په مسيحي دين کي دښځي په باره کي هغه عقېدي سته کوم چي په يهودي دين کي وي ځکه ديهودو عامي عقيدې مسلسل تر مسيحي دين پوري راروانې وي چي هغه عقيدي په مسيحي دين کي هم پاته سوې .

په تحريف سوی مسيحيت دين کي ښځي ته هيڅ اهميت او حق نه دئ ورکړل سوي ځکه په دغه دځانه جوړ سوي دين کي مکمل اختيار ونارينه ته ورکړی دئ .

او نوري هغه عقيدې چي په يهودي دين کي وي هغه عقيدې په مسيحي دين

---

[1] : مجموعة من القوانين اليهودية والحادات ص : ۲۲

[2] : المراة في القديم والحديث ص : ۱۸۸ .

[3] : حقوق وقضايا المراة في عالمنا المعاصر . ص ٤٧ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي هم تسلسل درلودئ.

# په اسلام کي د ښځو صحیح مقام او مرتبه

## تمهيد :

اسلام د عربو د ژوند لپاره خصوصا او د عامو مسلمانانو لپاره عموما يو نوی اصل او بنسټ کښېښنولی ځکه په عربو کي يو شريعت يا قانون په ليکل سوی شکل کي نه درلودئ چي دوئ په هغه باندي فيصله وکړي بس يو څو عادتونه او رواجونه وه چي د کلونو ، کلونو څخه را روان وه او هغو د عقائدو شکل اختيار کړی وو چي په هغه کي دوئ ته هيڅ شک نه وو او د هغه مطابق د قبيلو سردارانو حکم ورکوئ او بيا هغه حکم عملي کېدئ.

اسلام د نبي آخر زمان سيد الخلائق محمد مصطفیﷺ په لاس راغلئ او هغه اخلاقي احکام يې مقرره کړه چي د دوئ معاشرې ، عادات او طريقې چپه وي چي د دوئ د پلرونو او نيکونو د وخت څخه را روان وه.

اسلام يوازي د خلکو د لمونځ او د نورو فرائضو د ادا کولو لپاره نه دئ راغلئ بلکي د انساني ژوند او د هغه په احوالو کي د منظم کولو لپاره راغلي دئ چي پر هغه باندي ټول مسلمانان د ژوند پر لاره برابر ولاړ سي.

نبي کريمﷺ موږ ته د شريعت اصل او حقيقي معنی او مطلب واضح کړی دئ که چيري د خلکو معاشره پر شريعت برابره روانه سي نو د سنت نبويﷺ د اتباع او د ترقۍ سبب به وګرځي.

ټول شرعي قوانين د خپل حقيقت او هدف په اعتبار سره د وو خبرو ته رسيږي يو اخلاق دوهم د انساني ژوند ضرورت اسلام خپل حکمت په کرار کرار رسول غواړي او د دغه حکمت لاندي شرعي احکامات جاري کوي ځکه چي اسلام کرار کرار ښځه د جاهليت د رسم او رواج څخه يې ليري کړه او اسلامي آزاد حق يې ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلام کي د ښځي حيثيت

په قرآنکريم کي الله تعالى ځاى پر ځاى مسلمانان د ښځي او نارينه په مابين کي ديو والي طرف ته متوجه کړي دي ځکه يوه معاشره هم د ښځي او نارينه څخه نسي خالي کېداى ، بلکي د نسل د ډېرښت او انساني ژوند بيله ښځي او نارينه څخه نسي چليدلاى .

ځکه الله تعالى موږ ته فرمايي :

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَـٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ (۱)

ترجمه : اې خلکو ! موږ تاسي د يوه نارينه او يوې ښځي څخه پيدا کړي ياست .

د انساني تخليق په اعتبار سره ښځه هم د نارينه په ډول پوره جوړه سوې ده په دوئ دوو کي ظاهراً هيڅ فرق نسته او د دوئ څخه يو پر بل فضيلت نه دئ ورکول سوى مګر د فضيلت معيار يې پر تقوى باندي دئ چي کوم يو تقوا دار وي هغه افضل دئ تر هغه غير متقي ځکه اول وار قرآني فيصله د ښځو د حقوقو په باره کي دا اعلان سوه :

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً (۲)

ترجمه : اې خلکو ! د خپل رب څخه وبيرېږئ چي تاسو ټول د يو نفس (آدم ع) څخه پيدا کړي ياست او د هغه نفس يې جوړه پيدا کړي ياست او خپاره (خواره) يې کړل د دوئ د واړو څخه ډېر سړى او ډېري ښځي .

تشريح : حاصل يې دا سو چي د نارينه او ښځي د يوې سرچينې څخه د وه وجود ه دي د انسانيت تر حدودو پوري په دواړو کي هيڅ کمى او بيشى نسته د آيت څخه هم واضح سول چي نارينه د ښځي د انسانيت څخه دا يستلو کوشش کوي

---

[1] : سورة حجرات الاية ۱۳

[2] : سورة النسآء الاية ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټول غلط دي ځکه د دوئ دواړو پیدائش د یوه نفس شخه سوی دئ او بیا داچي ښځه جلا مخلوق نه ده هغه هم انسان دئ لکه څرنګه چي نارینه انسان دئ او بل داچي د ښځي او نارینه منبع او مخزن یو دئ . بیا په دوئ دوو کي تفاوت کېدلای سي پر ځای د دې چي د انسانیت شخه وایستل سي باید یو د بل په اهمیت باندي فخر وسي او د خپل ځان لپاره یې باید باعث فخر او عزت وبلل سي ځکه د قرآنکریم مشهور آیت دئ چي وړاندي یې هم ذکر سو :

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَـٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَـٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا۟ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ۚ (۱)

ترجمه : اې خلګو ! موږ تاسي د یوه نارینه او یوې ښځي شخه پیدا کړي یاست او ستاسو شخه مو مختلف خاندانونه او قبیلي جوړي کړي دي ځکه چي تاسو یو تر بله سره وپېژنئ او د الله تعالی په نزد ستاسو شخه ښه او بهتر هغه څوک دئ چي په تاسو کي ډېر پرهیزګار وي .

نوري نتیجي هم پیدا کېږي او هغه دي طرفته اشاره کړي ده چي یو نارینه داسي نسي کېدای چي د هغه په پیدائش کي د ښځي شراکت نه وي داسي نارینه څوک سته چي یواځي د نارینه شخه د پیدا کیدو دعوا وکړي نو بیا نارینه ته څه حق دئ چي نارینه عزتمند بولي او ښځي حقیري او ذلیلي بولي چي د انسان د جسم په جوړښت کي تر نارینه د ښځي د حصې شراکت ډیر طبیبانو ثابت کړی دئ.

الله تعالی چي کله ښځه مور جوړه کړي نو دا خپل اولاد په وجود کي کښېږدي او بیا یې پیدا کړي او هغه ته پرورش او شیدې ورکوي .

لږ فکر هم باید وسي چي نارینه د دغه په مقابله کي د اولاد لپاره څه کولای شي ؟ د ښځي په نس کي اولاد شکل او صورت پیدا کوي ، او په هغه کي زموږ د روح تعلق زموږ د بدن سره قائم وي، بالاخرة د هغه ښځي وجود د عار او پیغور سبب

---

[1] : سورة الحجرات الاية ۱۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library


وګرځي.

هیڅ خبره دا هغه وخت نه وه چي دا غه ښځي زموږ تربیت کوي کله چي موږ کي دتګ دوینا او دخپل تکلیف او ضرورت دویلو طاقت نه وو ددي په واسطه موږ ته دتګ قوت راکول سو دویلو صلاحیت را وبخښل سو او داغه جنس په ژوندي شعور باندي زموږ خدمت وکړي ایا په دغه ټولو خدماتو باندي ښځه ذلیله او حقیره سول.

افسوس دي پر هغه عقل باندي چي دا فکر ورګرځي او پر هغه ژبه باندي چي دا خیال ښکاره کوي چي ښځه ذلیل ده او هغه دي ملعون وي چي په زړه کي دا رکم وسوسي راګرځوي.

خیر خو په قرآني نورور آیاتو کي هم الله تعالی انسان ته داغه فرمایلي دي چي ښځه د ذلالت نه ده په ذاتي شرف او کرامت کي تر نارینه کمه نه ده لهذا د ښځي سره باید دحیوانانو په ډول ناجائزه او غیر انساني چلن ونسي چي د انسانیت توهین او دآدمیت د حقارت هغه بد صورت دئ.

په انسانیت کي دپوره اشتراک سره، سره دوو صنفو په جنسو کي په بعضي عضوي اختلافاتو کي دحکیم چي کوم حکمتونه دي ممکن دهغه څخه ثوک ناخبره نه وي ځکه الله تعالی فرمایي:

لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ ﴿٤٩﴾

أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴿٥٠﴾ (۱)

ترجمه: داسمانو او مځکو سلطنت (پاشاهي) خالص دالله تعالی ده څه چي وغواړي هغه پیدا کوي، دچا لپاره چي وغواړي لوڼي ورکوي او چاته چي وغواړي زامن ورکوي، اویا زامن او لوڼي دواړه ډوله اولادونه ورکوي، او څوک چي وغواړي بېله اولاد یې (وچ) کړئ، بېشکه هغه علم والا او قدرت والا دئ.

---

۱ سورة شوری الایتان ٤٩، ٥٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا دلور په پيدا ښت پزه تروه نيول او يا هغه بد محسوسول دانسان کم عقلي ده . چي رحمت يې دځان لپاره تکليف او بد وبلئ که چيري دغه لوښي غټې ښځي نسي او ستا واده ورسره ونسي نو دغه ځوانان او ځواناني ښځي چي تاسو فخر په کوئ او په ملاقات سره يې خوشحاله کيږي نو دکوم ځای څخه کېدای سي .

دحضرت مريم رضي الله عنها مور چي کله نذر ومنئ دزوی دامید پر ځای يې لور پيدا سوه نو په حسرت سره يې وويل :

قَالَتْ اِنِّي وَضَعْتُهَا اُنْثٰى . (آل عمران)

ترجمه : اې ربه ! ما خو هغه حمل لور وزيږول .

پروردګار ! دا خو زما لور سول زما مراد نه رالئ چي هغه ما دمقدس کار لپاره نذر بللی وو چي په هغه کي دنارينه کار دي انجلی نه پکښي قبليږي رب العالمين دحضرت مريم رضي الله عنها دمور دغه دحسرت ډک اواز واورېدئ او وې فرمايل :

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى .

ترجمه : په هغه (اولاد) الله تعالی ډېر ښه خبر دئ چي هغي (مور) زيږولې دئ ، او نارينه دښځي برابر نسي کېدای.

الله تعالی تر تاسو ډېر علم درلودنکی دئ او دخپل علم مطابق هغه پوهيږي چي ددغه انجلۍ سره هلک نسي برابر کېدلای کوم خير او برکت او خانداني اعزاز چي ددغه انجلۍ دوجي حاصليږي دنارينه څخه نسي حاصلېدلای .

تاسو چي انساني فکر څومره کوئ الله تعالی چي څومره کار ددغي انجلۍ په ذريعه اخستونکي دئ تر هغه ځای پوري ستاسو دفکر او عقل رسيدګي نسي کېدای .

دهغې راتلونکي وښودل چي حضرت مريم رضي الله عنها خپل وجود داعزاز لپاره او ددنيا دکاميابی او نجات لپاره څومره مبارک وجود ثابت سو ، دهغې مريم رضي الله عنها څخه الله تعالی حضرت عيسي عليه السلام وزيږوئ بالاخره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنيا ته د حق پيغام واوروي او د ځو مره خلکو د نجات باعث سو.
تر هغه چي خلکو خپلي لوڼي قتل کولي کله چي اسلام راغلئ خلک يې د لوڼو د قتل کولو څخه را وګرځول او د فقر بيره يې د دوي د زړو څخه وايستل او په هغو کي يې د (الرزاق) قوت متين جذبه پيدا کړه او اعلان يې وکړئ:

وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَـٰدَكُم مِّنْ إِمْلَـٰقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ....(۱)

ترجمه: تاسو خپل اولاد د مفلسي په سبب مه قتل کوئ، موږ تاسو ته او هغو ته رزق ورکوو.
دا ډول الله تعالی بل ځای هم فرمايي:

وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَـٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَـٰقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾ (۲)

ترجمه: تاسو خپل اولادونه د مفلسئ د بيري مه قتلوئ، موږ هغو ته رزق ورکوو، او تاسو ته، بېشکه د هغو قتل کول غټه ګناه ده.
په دغه آياتو کي الله تعالی د اولاد د قتل څخه بالکل منع فرمايلي ده که هغه نارينه اولاد وي که ښځينه شريعت ديو چا قتل نه دئ جائز کړی او د فقر او افاقي او د هغه مبهم خيالات يې د دوئ د زړو څخه وايستل او قناعت يې ورکړئ چي رزق او روزي ورکونکی الله تعالی دئ ځکه الله تعالی فرمايي:

۞ وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزْقُهَا (۳)

ترجمه: ځو مره تلونکي (ذي روح) چي پر مځکه ګرځي د ټولو رزق د الله تعالی پر ذمه دئ.
نو اوس د دي آيت وروسته د رزق فکر کونکي چي څه فکر کوي ګويا د خدای ﷻ

---

۱: سورة الانعام الاية ۱۵۱.

۲: سورة اسرآء الاية ۳۱.

۳: سورة هود الاية ٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


دانکار فکر کوي ، اسلام داسي نه دي کړي چي يو څه يې ويلي دي بيا يې پرېښي وي .
ښځي ته يې صحيح مقام ورکړي دئ ، دانجونو قتل يې حرام کړی دئ ، او د رزق دنه درلودلو بيره او انديښنه يې ليري کړي ده ، پر الله تعالی يې داعتماد سبق ورکړی دئ بلکه چيري چي موقع مساعده سوي ده هلته نبي کريمﷺ دانجونو سره د ښه سلوک ترغيب يې ورکړی دئ .
ځکه نبيﷺ فرمايي : څوک چي د دوو انجونو تربيت وکړي تر هغه وخت پوري چي هغه بلوغ ته ورسيږي نو په قيامت کي به زما سره وي او دومره رانژدې به وي څومره چي دا دوې ګوتي سره نژدې دي ،نبيﷺ خپلي دوې ګوتي سره يو ځای کړې بيا يې اشاره په وکړه .(۱)
حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چي يوه ښځه ماته راغله دوې لوڼي هم ورسره وې ډيره غريبه او بې وسه وه حضرت عائشة رضي الله فرمايي چي هغې زما څخه سوال ياغوښتنه وکړه زما سره خالي يوه خرما وه هغه خرما ماودې غريبي ښځي ته ورکړه او هغې خرما دوې حصې کړه يوه حصه يې يوې لور ته ورکړه يوه حصه يې بلي لور ته ورکړه په خپله يې هيڅ ونه خوړل بيا هغه ولاړه سول ولاړه ، نبي کريمﷺ چي کله کورته تشريف راوړئ نو ما دا واقعه نبي کريم ﷺ ته بيان کړه ، نبي کريمﷺ چي واقعه واورېدل وې فرمايل څوک چي دانجونو لپاره تکليف پر ځان تيروي او دهغه سره ښه سلوک او ژوند کوي ، دهغه لپاره دقيامت په ورځ دغه انجوني سپر وي يعني ددوزخ اور به دانجونو روزنکی نه سوځي .(۲)
په لوړ ذکر سوو حديثونو کي که مونږ فکر وکړو چي اسلام دانجونو وتربيت ورکونکي ته په څرنګه اندازباندي ترغيب ورکړی دئ او دښه پوهاوي کوشش

---

۱ : عن انس ﷺ عن النبي ﷺ قال من عال جارتين ....... وضم اصابعه رياض الصالحين عن مسلم . ص : ١٤٦

۲ :عن عائشة رضي الله عنها قالت دخلت على امراة ومعها انسان لها... كن له سترا من النار رياض الصالحين عن البخاري ومسلم ص : ١٣٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې کړې دئ.

حضرت عائشة رضي الله عنها ديوې بلي غريبي واقعه بيان کړې ده: وايي چې يوه غريبه ښځه چې دوې لوڼي ورسره وي ماته راغله ديو څه شي غوښتنه يې وکړه، دا مبارکه فرمايي چې دا وار ما دغي ښځي ته درې خرماوي ورکړې غريبي ښځي يوه خرما يوې لور ته ورکړه بله خرما يې بلي لورته ورکړه دريمه خرما يې خپله دخوړلو لپاره خولې ته نه وه رسولې چې دواړو لوڼو يې غوښتنه ځني وکړه دغه ښځي هغه خرما نه خوړل چې بايد خپله يې خوړلې واى نيمى، نيمى يې کړه دواړو لوڼو ته يې ورکړه حضرت عائشة رضي الله عنها فرمايي چې ددې دغه عمل ماته ډېر ښه معلوم سو کله چې نبي کريمﷺ کورته تشريف راوړئ ما ددغه مهرباني مور واقعه ورته بيان کړه نبي کريمﷺ وفرمايل:

ان الله قد اوجب لها بها الجنة واعتقها بها من النار.

ترجمه: بېشکه الله تعالى ددوئ دوجي دې ته جنت واجب کړئ اوددغه لوڼو دوجي يې هغه ددوزخ داور څخه ازاده کړه. (۱)

داسلام په نظر کي دښځي لپاره داسي عزت ورکول سوى دئ چې مخکي ذکر سوه او نبي کريمﷺ تر اخير پوري دا فرمايل چې خلګو خبردار اوسئ! چې تاسو ته ددوو کمزورو پر حقوق باندي تاکيد کوم او په هغه کي دکوتاهۍ څخه مو بېروم يو يتيم دئ او بله ښځه ده. (۲)

داټوله ددې لپاره کول کېدل چې ښځه ناموس ده دښځي په احترام کي ددوى عزت او عفت محفوظ کيږي، او دغه هغه شواهد دي چې نبي کريمﷺ يواځي دنارينوو لپاره پيغمبر نه دئ بلکي دښځو لپاره هم پيغمبر او رسول دئ.

او دهغو شواهدو څخه خصوصا يو دميراث ورکړه ده چې دقرآن کريم په ذريعه الله پاک اعلان کړه څکه الله تعالى فرمايي:

---

[1]:وعن عائشة رضي الله عنها قالت جاءتني مسكينة تحمل ابنتين لها... واعتقها بها من النار رواه مسلم، رياض الصالحين ص: ۱۳۷

[2]: عن ابي هريرةرضي الله عنه قال قال رسول اللهﷺ اللهم اني احرج .... اليتيم والمراة سنن ابن ماجة ص: ۲۶۱ ج: ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



يُوصِيكُمُ ٱللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡۖ لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۚ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَۖ وَإِن كَانَتۡ وَٰحِدَةٗ فَلَهَا ٱلنِّصۡفُۚ (١)

ترجمه : الله تعالى تاسو ته داولاد دميراث په باره كي حكم كوي چي دنارينه حصه ددوو ښځو دحصې سره برابره ده ، كه چيري يواځي ښځه وي تر دوو زياتي وي نو بيا دوی ته دوې حصې رسيږي دغه مال چي مورث پري ايښی دئ او كه چيري يوه ( ښځه ) وه نو هغې ته نيمه حصه وركول كيږي .

نوی عصر دنر اوښځي دمساوات غوښتونكي داسلام تقسيم ښه نه بولي په حقيقت كي دانيمه دنر تر حصې زياته ده هغه داچي دښځي نفقه پر خاوند واجب ده ښځه دمصرف څخه خلاصه ده ټولي پيسې پچت ورته پاتيږي او چي يې خاوند وفات سي دده په مال كي بيا اتمه يا څلورمه حصه مال وړي ، وګوره اسلام څومره دښځي مراعات ساتلی دئ او څومره امتيازيې وركړی دئ.

ښځي چي تراوسه دميراث څخه محرومه وې اسلام هغوی ته ميراث وركړئ ، فكر كه وكړو په ( للذكر مثل حظ الانثيين ) كي چي دنارينه حصه ددو ښځو برابر حصه وركول كيږي او كله چي اسلام ښځو ته دغه حق وركړئ نو ډيرو خلګو تعجب وكړئ چي هغه انجونو ته هم حصه رسيږي چي جنګ نسي كولای او حصه هم دومره زياته وركول كيږي .

مګر كله چي اسلام راغلئ په دنيا كي يې حقدارانو ته خپل حق ور و رسوي او ظلم او جبر يې دمظلومانو څخه ليري كړئ ځكه دا داسلام دراتګ منشاء او مقصد دئ او ملكيت اقتدار يواځي دنارينوو لپاره مخصوص نه دئ بلكه په دغه اقتدار كي ښځه هم دنارينه سره شريكه ده ددغه حقيقت اظهار په قرآنكريم كي داسي بيان سوي دي :

للرجال نصيب مما ترک الوالدان والاقربون وللنساء نصيب مماترک الوالدان

---

(١) : سورة النساء الاية ١١

(c) ketabton.com: The Digital Library



والاقربون مما قل منه او کثر نصیبا مفروضا .(۱)

ترجمه :په هغه شیانو کي چي مور او پلار او ډېرو نژدې قریبانو پرایښي وي دنارینوو لپاره هم حصه سته او د ښځو لپاره هم حصه سته چي قطعي ثابتي سوي دي هغه حصې که لږ وي او که ډېري وي .

اسلام هغه جاهلانه او عیسوي او یهودي دین په نامه چي عیسایانو او یهودیانو کار ورڅخه اخستی دهغوئ دځان څخه جوړ سوی رواجونه او ددین په نامه جوړ ټول کړی عادتونه چي د ښځو په باره کي یې دین بللی وو لیرې او ختم یې کړه اسلام یو داسي نظام خصوصا د ښځو لپاره دنیا ته راوړئ چي دعدل او انصاف څخه ډک دئ نو دغه اسلامي نظام که څوک عملي کړي نو د ښځو دحقوقو په باره کي به د ښځو څخه هیڅ شکایت وانه وربېدل سي چونکه خلګو اوس دځان څخه د ښځو لپاره ناقص قانون جوړ کړی دئ نو ولي به د ښځو حقوق تر پښو نه لاندي کیږي ځکه مخلوق چي دمخلوق لپاره قانون جوړ کړی وی نو په هغه کي به نقصان او زیاتوب ولي نه وي لهذا که چیري په دنیا کي دغه د اسلام له طرفه د ښځو لپاره ښودل سوی قانون ته عملي بڼه ورکړل سي نو لکه مخکي چي وویل سوه نو هیڅ حق به یې تر پښو نسي لاندي د ښځي حق دا نه دئ چي غربي نړۍ یې ناري وهي ځکه نن سبا په هغه قانون کي چي غربي نړۍ او چي ناقص العقله مسلمانان یې ورتائید وي د ښځو لپاره ایښي دي چي په نتیجه کي یې ښځي دجنسي اړیکو ښکار ګرځېدلي دي او دشهوت دپرځای کېدوالي ګرځېدلي دي او دتجارت دګرمېدو ذریعه ګرځېدلي دي او ددنیا یوه ورځ داسي نه ده تېره سوې چي ددغه ډول دحقوقو له وجي چي غربي نړۍ کوشش ورته کوي چي ښځي دخپل ژوند دتنګېدو له امله خود کشی ته اماده سوي نه وي یا یې خپل ژوند دلاسه ورکړی نه وي ایا دغه حقوق د ښځو لپاره صحیح دي ؟ ستاسو په اند ایا په دغه قانون کي د ښځو عفت او عصمت ساتل کیږي ؟ ایا په دغه قانون کي د ښځو دژوند لپاره نجات سته ؟ تاسو فیصله

---

۱ : سورة النساء الاية ۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړئ.

## داسلام دښمنان دښځو دعزت او دهغوی دحقوقو پای ماله کېده غواړي

په نن زمانه کي داسلام دښمنان بلکي دانسانیت دښمنان کفار منافقین او داسلام څخه مخ اړونکي په اسلام کي ښځو ته ورکول سوی عزت اوشرافت او حفاظت ډېر بد ورته معلومیږي ځکه دغه خلګ ښځي په داسي تباهي، بربادي، او هلاکت کي اچول غواړي چي دهغه په ذریعه دوی ښځو ته خپل ځان دشهوت تسکین یعني پوره کېدو ته ورسوي او بیا ددې وروسته کمزوري ایمان والا چي نه قابو کوونکي خواهشاتو مغلوب کړی خلګ په خپله پنچه کي ګرفتار کړي الله رب العزت دداسي خلګو په باره کي ارشاد فرمایي:

وَيُرِيدُ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلشَّهَوَٰتِ أَن تَمِيلُوا۟ مَيْلًا عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ (۱)

ترجمه: او اراده لري هغه کسان چي متابعت کوي دشهواتو (دنفس دارزوګانو) ددې کار چي کاږه سئ تاسي (دحق دلاري څخه) په کږېدلو ډېرو لویو اولیرو سره.

تشریح: هغه کسان چي په خپلو شهواتو کښې اخته دي دا غواړي چي تاسو له سمي لاري لیري کړي یعني دهغوی په شان تاسو هم دخپلو شهواتو اتباع وکړئ او ګمراهان سئ نو اوس هر څه چي کوئ ښایي چي پوره عقل اوفکر او پوهي سره یې وکړئ.

کفار او منافقین خو څه بلکي کمزوري مسلمانان هم دښځو دتعلق او رایستلو څخه دا غواړي چي شیطاني خواهشات او شهواني میلان کونکي دتاجرانو دشورم او ددکان دارزانه سامان په ډول کښېږدي چي دخریدارانو په مخ کي ښه معلوم سي ځکه چي لیدونکي دهغوئ دښائست څخه دخوند تسکین وکړي یا

---

(۱): سورة النساء الاية ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه واسطه سره دوی هغه بد عمل ته ځان ورسوي او ددوئ ددې خبرې زیات ترغیب چلوي چې ښځې باید په خپلو کورو کې دچاردیوالیو څخه را ووزي دنارینوو دلاس آلې جوړې سي او دخادمي او دمینځې کارور څخه واخلي .
که موږ تاسي وګورو ښځه چې باید عزت ورکړل سي لکه اسلام چې عزت ورکړی دئ لیکن دوئ دمینځې کار ځني اخلي دمثال په توګه په طیارو کې په حیثیت ددائر هوسټس دمزدور کار ځني اخلي خصوصا په هغو ځایو کې دښځو څخه کار اخلي چې ددوی شکل او صورت او ددوی اوازونه خلګ په فتنو کې مبتلا کړي په لوی شرکتو کې دشرکت دکامیابۍ لپاره یې ښځه ذریعه ګرځولي وي دغه ډول فحش رسالو او اخباراتو په لوځ عکسونو او تصویرو باندي خپل مارکیټنګ او په بازارو کې دخپل ځان دکامیابۍ دحاصلولو ذریعه او وسیله جوړه کړې ده .
دغه ډول بعض تاجرانو او صنعتي کارخانو پر دغه نوعیت او ډول دښځو فحش تصویرونه او عکسونه دخپل تجارت پر سامان باندي او پر خپل جوړ سوو مصنوعاتو باندي دهغه ښه خرڅولو لپاره وسیله او ذریعه جوړه کړې ده حتی چې دښځې څخه یې یو داسي عام شی جوړ کړی دئ که غواړي ځوک پوه کړې نو دټلیفون او موبائیل په ذریعه دښځې په اواز کې پوه کوي .
او هم هر ځای چې دخادمي ښځو ضرورت وي یو ازاده ښځه دخادمي او مینځې پر ځای راولي ، خصوصا زموږ په وطن کې پر هغو مسلمانانو خلګو افسوس او ارمان دئ چې ځان خو دښه دین داره کورنۍ بولي خو لور ، خور ، مور ، خانمه یې په مؤسسو کې کار کوي دیو کافر یهودي ، نصراني دڅه پیسو په تمه دکافر خادمه او مینځه ګرځولي ده چې دهغه لباس بستره او نور دځای پاکي ددې په ذریعه حاصله کړي ، او یا خو دهغه مسلمانانو په ټولنه کې یې خور ، مور ، لور ، خانمه ناسته ولاړه کوي چې په کمزوري مسلمان باندي دده خپله هم هیڅ باور نه وي ایا دغه پر دغه کسانو باندي افسوس کول نه دي په کار ؟ چې دخور ، لور ، مور او خانمي په عزت باندي ځان ساتي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه ټولو حرکتو او عملو نتیجه دا سول چي ښځو په خپلو کورونو کي خپلي حقیقي او اصلي ذمه داري ځخه لاس پر سر سولي ، ددې وجي ددغو ښځو خاوندان دخپلو او لادو دتربیت او دکور دنورو ذمه داریو دپوره کولو لپاره بل چاته اړه سوي دي حتي دبهرنیو هیوادو ځخه تربیت ورکونکو ته مجبور سوي دي چي دهغه نتیجه دا راوتلي ده چي او لاد یې بې عقیده سوی او بې تربیې سوی دئ پر ځای ددې چي تربیه سوی وای دښو اخلاقو دزده کولو پرځای بداخلاقه سوی دي حتي چي په نورو بې حساب فتنو کي ولیدلي دي ځکه لکه ځرنګه چي مو مخکي وویل دا کارونه داسلام دښمنان کوي یا هغه ناپوه او دکمزورو ایمانځ خاوندان یې کوي . اې مسلمانه پوه سه دخپل دین ددښمنانو په فریبو او چلو باندي تر ځو به غافله یې .
مسلمانه وروره دغه چي ذکر سول دا دښځو عزت دئ ؟ دا دښځو حفاظت دئ ؟ دادښځو حقوق دي ؟ که داسلام ددښمنانو دښځو دعزت سلب (اخستل) دي ؟

# د شرعي احکامو ځو اصطلاحات

باید انسان ځان په دې پوه کړي، چي کوم الهي احکام چي د بندګانو تر فعلونو او عملونو پوري تعلق لري هغه پر اته ډوله دي:

۱. فرض
۲. واجب
۳. سنت
۴. مستحب
۵. حرام
۶. مکروه تحریمي
۷. مکروه تنزیهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. مباح

**(۱) فرض:**

هغه دي چي په قطعي دليل سره ثابت وي او بېله عذره يې پرېښوونکی فاسق او د عذاب لايق ګرځي او منکر يې کافر دئ(۱)

فرض پر دوه قسمه دي:

۱. فرض عين

۲. فرض کفايي

فرض عين هغه دي چي کول يې د هر يوه لپاره ضروري او لازمي دي او بېله عذره يې پرېښوونکی د عذاب مستحق او فاسق دئ، لکه پنځه وخته لمونځ، د جمعې لمونځ او داسي نور.

او فرض کفايي هغه دي چي کول يې پر هر يوه ضروري نه وي، بلکي د بعضو خلکو په ادا کولو سره د نورو خلکو د ذمې څخه ساقطېږي، او که يې هيڅوک ادا نه کړي نو ټول ګنهکاره کېږي، لکه: د جنازې لمونځ او داسي نور.(۲)

**(۲) واجب:**

واجب هغه دي چي په دليل ظني سره ثابت وي (دليل ظني هغه دئ، چي په ده کي بل ضعيف احتمال هم وي او تر دليل قطعي په درجه کي وروسته وي) او بېله عذره يې پرېښوونکی فاسق او د عذاب مستحق دئ، په شرط د دې چي بېله کوم تأويل او شبهې يې پرېږدي او منکر يې فاسق دئ خو کافر نه دئ(۳)

**(۳) سنت:**

هغه فعل دئ، چي نبي کريم ﷺ يا اصحابو رضي الله عنهم کړی وي. سنت پر دوه قسمه دي:

---

۱: ردالمختار: ج ۱، ص ۹۷.

۲: ردالمختار: ج ۱، ص ۹۰۶ – ۹۰۷.

۳: ردالمختار: ج ۱، ص ۹۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. سنت مؤکد
۲. سنت غير مؤکد

**سنت مؤکده:** هغه فعل دئ، چي نبي کريم ﷺ يا اصحابو رضي الله عنهم هميشه کړي وي او بېله عذره يې هيڅکله نه وي پرې ايښي، ليکن د تارک يعني پرېښوونکي لپاره يې هيڅ قسم ترټنه او تنبيه نه وي کړې، د دغه سنت مؤکده حکم هم د عمل په اعتبار سره د واجب دئ. يعني بېله عذره دواجب پرېښوونکی او عادت کوونکی فاسق او ګنهکاره دئ اودسنت مؤکد پرېښوونکی د نبي کريم ﷺ له شفاعت څخه بې برخي پاته کېږي، ليکن که يو وخت پاته سي پروا نه لري، مګر د واجب په پرېښولو کي نسبت د دوی پرېښولو ته ډېره ګناه ده.

**سنت غير مؤکده:** هغه فعل دئ، چي نبي کريم ﷺ يا اصحابو رضي الله عنهم کړی وي او بېله عذره يې يو وخت هم پرې ايښی وي، کوونکی يې د ثواب مستحق دئ او پرېښوونکی يې د عذاب مستحق نه دئ او دغه ته سنت زائده او سنت عاديه هم وايي.(۱)

**(۴) مستحب:**

هغه فعل دئ، چي نبي کريم ﷺ يا اصحابو رضي الله عنهم کړي وي، ليکن هميشه او اکثره يې نه وي کړي، بلکي يو وخت يې کړي وي. کوونکی يې د ثواب حقداره دئ او پر نه کوونکي يې هيڅ ګناه نسته او و دغه ته د فقهاوو يعني د فقهي د علماوو په نزد او اصطلاح کي نفل مندوب او تطوع هم وايي. (۲)

**(۵) حرام:**

هغه دي چي په دليل قطعي او يقيني سره ثابت وي او منکر يې کافر دئ

---

[1]: ردالمختار: ج ۱، ص ۱۰٦ – ج ۵، ص ۳۳۰.
۲: (ردالمختار: ج ۱، ص ۱۰٦ – ج ۵، ص ۳۳۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بې عذره کوونکی یې فاسق او د عذاب مستحق دئ.(۱)

**(٦) مکروه تحریمي:**

هغه دي چې په دلیل ظني سره ثابت وي او منکر یې فاسق دئ، لکه د واجبو منکر چې فاسق دئ او بې عذره کوونکی یې ګنهکاره او د عذاب حقداره دئ.(۲)

**(۷) مکروه تنزیهي:**

هغه فعل دئ، چې په نه کولو کې یې ثواب دئ او په کولو کې یې عذاب نسته.(۳)

**(۸) مباح:**

هغه فعل دئ، چې په کولو کې یې ثواب نه وي او په نه کولو کې یې عذاب نه وي. (۴)

---

[1]: ردالمختار: ج ۱، ص ۹۷.

[2]: شرح التنویر او ردالمختار: ج ۵، ص ۳۳۰.

[3]: ردالمختار: ج ۵، ص ۳۲۹.

[4]: ردالمختار: ج ۵، ص ۳۲۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی فصل

## د ښځي اصلي حسن

الله تعالی ښځه په حیث د انسان په (احسن تقویم) ښه او بهترین شکل او صورت کي جوړه کړې ده او بیا یې په ټولو انسانانو کي د انساني فطرت او طبیعت فطري تقاضا د ښځي طرفته کړې او ښځه یې د کایناتو داهم ترینو رکنو څخه ده او د ښځي په طبیعت کي یې نرمي او ضعف او داسي نور نرم احکام ایښي دي.

د انسان د رحم د جذبې رخ یې د دې طرف ته اړولی دئ او دې ته یې کشش، حیا او حسن ورکړی دئ. دا نو د الله تعالی و ښځي ته د حسن د څو تحفو څخه په یوه تحفه باندي نازول دي، مګر تر ټولو اهمه تحفه د دې طبیعي حیاء ده، چي د ښځي اصلي حسن دئ او دا طبیعي حیا د ښځي فطرت دئ، چي د ترتیب اصلي د نه ورکولو په صورت کي هم څه نه څه پاته وي، مګر په حقیقت کي دغه حیا چي کوم بنیادي شی په ښځه کي ایښی دئ، هغه اسلامي تربیت او شریعت مطهره دئ، په کومه ښځه کي چي حیاء او شرم نه وي هغه ښځه د طبیعت سلیمه په نزد په اصل کي حسینه نه ده. د حیاء صفت ښځه پخپل ځان کي مقبوله او ممتازه کوي او د نارینه وو لپاره د انتخاب تر ټولو مهمه وجه ده، چي دغه حیاء په اسلامي تربیت سره وي.

په اسلام کي د انتخاب مرکزي او اوله نقطه حیاء وي. حیاء د ښځي خزانه او زینت دئ، حیاء د ښځي زېور دئ، حیاء د ښځي اصلي حسن دئ، حیاء د ښځي معراج دئ، حیاء د ښځي ما فی الضمیر دئ، حیاء د ښځي د طرفه څخه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاشرې ته د سیده والي پیغام دئ، حیاء د ښځې د طرفه څخه بهترین او د ښه نسل ورکولو اعلان دئ، حیاء د ښځې د جنتي کېدو ضمانت دئ، حیاء د ښځې د پاکوالي علامت دئ، ښځه خپله حیاء ده، ښځه پرده ده، حیاء د ښځې هر څه دي، حیاء د ښځې اصلي سرمایه ده.

**د لباس مقصد:**

په اسلام کي لباس دوه مقصدونه لري:

اول دا دئ، چي د ستر د پټولو کار به کوي او دوهم دا دئ، چي لباس به د ښه معلومېدو لپاره هم استعمالوي، ځکه چي په قرآن شریف کي یو ځای د زینت د لفظ څخه ښه لباس هم مراد اخیستل سوی دي. الله تعالی فرمایي:

قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ (۱)

ترجمه: ورته ووایه (اې پیغمبره) چي د الله هغه ښایست (جامه) چا حرام کړی ده چي د خپلو بندګانو لپاره یې راویستلی (پیدا کړی) دئ.

دلته د زینت له لفظ څخه مفسرینو ښه لباس مراد اخیستی دئ.

دا دوهم الله پاک بل ځای په قرآنکریم کي فرمایي:

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ (۲)

ترجمه: اې د آدم علیه السلام اولادې! د هر لمانځه پر وخت خپل ښایسته (جامې) واخلئ (واغوندئ).

او دا معلومه خبره ده چي اسلام د یوه داسي لباس تعین نه دئ کړی چي خاص هغه لباس اغوستل لازمي وي، بل یو لباس اغوستل حرام وي. البته د لباس لپاره یې څه شرطونه او حدود معلوم کړي دي، چي د هغو شرطو او حدودو موافق لباس اغوستل لازمي او ضروري دي. که څه هم د لباس احکام مختلف دي، چي مختلف والی یې د احوالو او ځایو په اعتبار مختلف کېږي.

---

۱: (سورة الاعراف: ۳۲ آیت)

۲: سورة الاعراف: ۳۱ آیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي دي، چي په حقیقت کي د لباس مقاصد د ځایو د مقاصدو په ډول دئ، چي د ښځو لپاره داسي لباس اغوستل ضروري دي، چي په هغه کي د ښځي مکمله پرده وي، لهذا د ښځو او نارینه وو لباس جدا جدا دئ، ښه مستور او پرده کوونکی لباس د ښځو لپاره دئ او دوهمه درجه لباس د نارینه وو لپاره دئ.

لکه څرنګه چي مخکي اشاره ورته وسوه، چي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یا یوه صحابي یا صحابیاتو څخه د یو داسي لباس تعین نه دئ سوی چي د هغه اغوستل لازمي وي او بل ډول لباس اغوستل ګویا حرام دي، البته شرطونه او حدود لري.(١)

# د لباس قسمونه

**(١) فرض لباس:**

داسي لباس اغوستل د نارینه او ښځي لپاره چي ستر یې مکمل پکښي پټ سي فرض دي، ځکه الله تعالی فرمایي:

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾ (سورة الاعراف: ٢٦آیت)

ترجمه: اې د آدم علیه السلام اولادې! بې شکه موږ پر تاسي باندي جامې نازلي کړي دي (تاسي ته مو داسي جامې پیدا کړي دي) چي ستاسي عورتونه پټوي او (هم مو درته په جامو سره) ښایست (پیدا کړی دئ) او دغه (د تقوی لباس) ډېر ښه دئ (تر مادي لباس څخه) دغه (ذکر سوی مضمون) د الله جل جلاله د قدرتي

١: مجموعة الفتاوی: ٢٢ – ٢٣ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلایلو څخه دئ، شاید چي دوی به پند واخلي.

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي، چي: دا آیت د ستر د پټولو پر وجوب باندي دلالت کوي، ګویا د لباس اولین مقصد ستر پټول دي.(۱)

علامه شامي رحمه الله فرمايي، چي د ومره لباس اغوستل چي ستر پټ کړي فرض دي.(۲)

**د ښځي او نارینه د ستر حدود:**

د نارینه ستر (عورت) د نامه څخه لاندي تر زنګنو پوري دئ او په هر حال کي يې پټول ضروري دي او د ښځي د عورت حدود د سر څخه بیا تر پښو پوري ټوله بدن د وربښتانو په شمول عورت دئ، البته مخ، لاسونه او پښې د ضرورت په وخت کي ښکاره کولای سي یا د خپل محارم په مخ کي د ښکاره کېدو اجازه سته.(۳)

**(۲) مستحب لباس:**

د لباس دوهم قسم دا دئ، چي لباس به داسي وي چي په هغه کي د زینت او نعمت اظهار سوی وي، لکه څرنګه چي الله تعالی فرمايي:

وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾ (سورة الضحی: ۱۱آیت)

ترجمه: د خپل رب جل جلاله د نعمت بیان وکړه.

او په حدیث شریف کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي، چي: الله تعالی دا خوښوي چي پر خپلو بندګانو باندي د خپل نعمت اثر ظاهر او ښکاره کوي.(۴)

ځکه دا هغه لباس دئ، چي د خپل طاقت مطابق ښه لباس پاک لباس

---

۱: قال کثیر من العلماء هذه الآیة دلیل علی وجوب ستر العورة.

۲: اعلم أن الکسوة منها فرض و هو ما یستر العورة ... الخ. (ردالمختار: ج ۹، ص ۵۷۹).

۳: ستر عورة و هی للرجال ما تحت سرته الی ما تحت رکبته ... وللمرأة ... جمیع بدنها حتی شعرها النازل و الاصح الوجه و الکفین ... و القدمین (فتاوی شامي: ج ۲، ص ۹۳).

۴: ان الله یحب ان یری اثر نعمته علی عبده (ترمذي: ج ۲، ص ۱۰۹، باب الادب). و مستحب و هو زائد لأخذ الزینة و اظهار نعمت الله تعالی (رد المختار: ص ۵۷۹، ج ۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library


واغوندي او په هغه کي د شرعي حدودو هيڅ تجاوز نه وي سوی.

**(۳) مباح لباس:**

مباح لباس هغه لباس دئ، چي د زينت لپاره اغوستل کېږي، لکه په اخترو کي چي نوي او ښه لباسونه اغوستل کېږي، دغه ډول د جمعې په ورځ يا نورو ښاديو کي اغوستل کېږي.

نبي کريم ﷺ فرمايي: که څوک دوې جوړې کالي د جمعې د ورځي د اغوستلو لپاره رانيسي او دا د دغه چا د عامو لباسو څخه ماسوا وي نو پر هغه باندي هيڅ ګناه نسته.[1]

د لباس په ذريعه په عباداتو کي تزئين او ښايستوالی خپلول د بعضو صالحينو څخه ثابت دي، ځکه حضرت تميم داري رضي الله عنه په زر درهمه د لمانځه لپاره چادر (پټو) رانيولی وو.[2]

**(۴) مکروه لباس:**

د مکروه لباس څخه مراد د شهرت لباس دئ، مطلب يې دا دئ، چي لباس يا دومره ګران وي چي هر څوک يې يادوي چي په دومره يې رانيولی دئ او داسي داسي، يا داسي لباس وي چي ډېر ارزانه وي چي هر څوک په عيب ورته ګوري يا بد يې بولي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه، چي: زه څه ډول (لباس) واغوندم؟ نو ده مبارک ورته وفرمايل، چي: داسي لباس واغونده، چي په کتلو سره څوک عيب پر ونه وايي.

هغه شخص پوښتنه ورڅخه وکړه، چي دا څرنګه لباس دي؟

ده ورته وفرمايل، چي: د پنځو درهمو څخه بيا تر شلو درهمو پوري وي.

---

[1]: عن عبد الله سلام انه سمع رسول الله ﷺ يقول: لو اشترى ثوبين ليوم الجمعة سوى ثوبى مهنته (ابن ماجه: ج ۱، باب: ماجاء فى الزينة يوم الجمعة، ص ۷۷).

[2]: (مجمع الزوائد: ج ۵، ص ۱۳۵). و مباح: و هو الثوب الجميل للترين فى الأعياد ... الخ (ردالمختار: ص ۵۷۹، ج ۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معلومه سوه، چي بايد داسي لباس استعمال سي چي اوسط قيمت ولري او اوسط لباس وي، نه ډېر ګران وي او نه ډېر ارزانه وي (١)

**(۵) حرام لباس:**

د حرام لباس څخه مراد داسي لباس دئ، چي يا سترمند نه وي يعني د ستر ضروريات يې پوره کړي نه وي يا د کفارو د لباس سره مشابه وي، يا د يو خاص صنف لپاره حرام سوی وي، لکه د نارينه لپاره د ښځي لباس اغوستل يا د ښځي لپاره د نارينه لباس اغوستل يا د نارينه وو لپاره د وريښمو لباس اغوستل چي شريعت مقدسه حرام کړی دئ.(٢)

**د تشبيه يا مشابهت څخه څه مراد دئ؟**

مشابهت يا تشبيه په اصل کي د شبه څخه اخيستل سوی دئ، معنی يې هم شکل کېدل. د مشابهت لفظي معنی ده دوه شيان يا دوه عملونه صورتاً يو کېدل يا يو شکل کېدل او د تشبه معنی ده د بل په ډول شکل جوړول يا اختيارول او په شرعي اصطلاح کي د مشابهت معنی دا ده، چي د کافرانو سره د دوی په عقايدو، عباداتو، عاداتو او معاشرتي او محلي طريقو او رواجو کي هم مثل کېدل.

دغه ډول د بې دينو خلکو سره لکه فاسق، جاهل او نورو بدو خلکو سره هم شکل کېدلو ته مشابهت ويل کيږي.

د مشابهت يا د تشبه د مطلب د واضح کېدو څخه معلومه سوه، چي ډېر کارونه يو ډول او يو شکل کېدای سي، مګر په کوم مشابهت کي چي موږ خبره کوو د هغه څخه مراد دا دئ، چي د کفارو او فساقو د يو عمل يا د دوی د شکل او صورت سره يوشان سي دې ته مشابهت ويل کيږي.

دوهمه اهمه خبره دا ده، چي د کفارو او فاسقانو سره په کومي حليې او

---

١: (مجمع الزوائد: باب اللباس الشهورة، ج ۵ – ص ١٣۵).

٢: يكره للرجال لبس المعصفر والمزعفر والمورس والمحمر اى الأحمر قال الشامی رحمه الله و وجدنا النهی عن لبسه ... من تشبه بالنار او بالاعاجم والتكبر ... الخ (رد المختار: ص ۵۹٢، ج ۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library


شکل کي مشابهت راغلی وي هغه مشابهت یې قصداً کړی وي او یا بېله قصد او ارادې ځخه مشابهت راغلی وي او بیا په کوم عمل کي چي مشابهت وي هغه به جائز وي یا حرام:

د شرعي حکم په اعتبار سره هغه مشابهت چي قصداً یې د خلکو د لیدلو لپاره کړی وي حرام دئ، البته که په یو شکل و صورت کي پخپله مشابهت راغلی وي په قصد او په نیت سره نه وي نو هغه صورت په تشبه کي نه دئ داخل ځکه داسي کارونه سته، چي ضرورتاً یا د عامو خلکو معمول وي.

لهذا د کافرانو او فاسقانو په ډول عمل یا شکل جوړول که څه هم ظاهراً حرام نه وي خو کول یې بیا هم جائز نه دي. د مثال په توګه د دوی په ډول یا د دوی د لباس سره مشابهه لباس اغوستل جائز نه دي، ځکه چي دا د دوی فېشن خپلول دي او کله چي خلک ورته ګوري نو د کافر خیال پر کوي، ځکه د کافر یا فاسق حلیه یا شکل و صورت یې جوړ کړی وي او په بحرالرائق کي لیکلي دي، چي حرام مشابهت هغه ته ویل کېږي، چي د هغه شیانو په شریعت مقدسه کي بد او مزموم بیان سوی وي، لکه په اوسنۍ زمانه کي ښځي او انجوني ډېر چسپ پرتوګان او کمیسان چي ځیګر او اوږې یې راوتلي وي اغوندي یا یې اغوستل رواج دي، دا زموږ د ثقافت او دین سره هیڅ تعلق نه لري او نه یې د اغوستلو ضرورت سته، مګر بیا هم د مغربي انجونو سره د مشابهت لپاره په بعضو کورنیو کي ښځي یا انجوني یې اغوندي، او دا د ستر د پټولو صریح خلاف ورزي ده او پخپله بعضي ښځي یې په اغوستلو شرمېږي یا حیاء ورته درېږي.

نبي کریم ﷺ فرمایي:

من تشبه بقوم فهو منهم[1]

ترجمه: چا چي د یو قوم سره مشابهت اختیار کړي نو هغه د هغه (قوم) ځخه دئ.

---

[1]: (ابوداود: ب الباس الشهرة، ص ۳۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library


علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمایي، چي: په دغه حدیث کي وجه د ممانعت دا ده چي دا د یهودو زینت او شکل دئ او دکوم شي چي علت بیان سي او منع سوی وي نو هغه شی بالکل پرېښوول ضروري دي او په کومو شیانو کي چي د یهودو او نصاراوو حلیه او شکل معلوم سي نو هغه په هر صورت پرېښوول ضروري دي که د مشابهت نیت یې وي که نه وي او د بد او مذموم او مکروه لپاره اراده او نیت ضروري نه دي.

که چري یو خاص شکل یا حلیه د کفارو یا فاسقانو خوښه وي نو هغه اختیارول هم جائز نه دي، ځکه بعضي وخت د یو جائز کار بندول عادت دفاسقانو ګرځېدلی وي جائز دي.

نبي کریم ﷺ فرمایي، چي: تاسي به ضرور د مخکنیو امتو پیرو (تابع) کېږی، لوېشت په لوېشت او ګز په ګز حتی تر دې اندازې پوري که هغوی د سمسارې غار ته داخل سي نو تاسي به هم پسي ور داخل سی.

(صحابه وو رضی الله عنهم عرض ورته وکړ): اې د الله تعالی رسول! د یهودو او نصاراوو هم؟

نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: نو د چا؟ او بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: چي د قیامت ورځ تر هغه وخته پوري نه قائمېږي تر څو چي زما امت د مخکني امت (یهودو او نصاراوو) لوېشت په لوېشت او ګز په ګز (هره کوچنۍ او لویه خبره) یې خپله نه کړي.[۱]

نو یو چا ورته وویل: یا رسول الله ﷺ! د فارس او روم په ډول؟

نبي کریم ﷺ وفرمایل: د دوی ماسوا نور څوک دي؟[۲]

په دې حدیث شریف کي مونږ ته د هغو خلکو ډولونه او اقسام معلوم سول، چي د هغو سره مشابهت کول منع سوی دئ او هغه خلک عام کفار،

---

۱: (عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: لتتبعن سنن من قبلکم ... قال فمن).

۲: (بخاري: کتاب الاعتصام بالکتاب والسنه، ص ۱۰۸۸، ج ۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library


مشرکین، اهل کتاب، مجوسیان او بدعت کوونکي دي.[۱]

دېر آیاتونه په قرآن شریف کي د یهودو، نصاراوو او مشرکینو سره د مشابهت او د دوی په ډول او رنګ کېدلو څخه منع راغلې ده، د الله تعالی ارشاد مبارک دئ:

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾ (سورة آل عمران: ۱۰۵ آیت)

ترجمه: (اې مؤمنانو) تاسي د هغو خلکو په شان مه جوړېږئ چي دوی د هغه څخه وروسته چي واضح دلایل ورته راغلل ډلي – ډلي سوه او په جګړو سوه او د دغو خلکو لپاره لوی عذاب دئ.

د الله پاک ﷻ بل ارشاد مبارک دا دئ:

وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴿١٦﴾ (سورة الحدید: ۱۶ آیت)

ترجمه: او چي دوی د هغو کسانو غوندي ونه ګرځي کومو ته چي مخکي (تورات او انجیل) ورکړه سوي وه، نو پر دوی باندي (په غفلت کي) زمانه اوږده سوه نو زړونه یې کلک سول (خشوع یې د لاسه ورکړه) حال دا چي د دوی څخه ډېر کسان فاسقان (د شرعي چوکاټ څخه وتونکي) وه.

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨﴾

(سورة الجاثیه: ۱۷ – ۱۸ آیتونه)

ترجمه: (اې پیغمبره!) یقیناً ستا رب ﷻ به د دوی تر منځ د قیامت په

[۱]: (اقتضاء الصراط المستقیم: ۱۳۶ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ په هغو قضاياوو كې (حقه) فيصله وكړي په كومو كې چې دوى اختلاف كوي.

بيا مور ته په (مستقل) شريعت باندې وګرځولې چې د ديني كار څخه عبارت دئ، نو ته د همدغه شريعت پيروي كوه او د هغو كسانو د خواهشاتو پيروي مه كوه هغه چې نه پوهېږي.

له دې ماسوا چيرې چې د اهل كتابو او مشركينو بدوالى او ذم راغلى وي هغه هم د مشابهت د نه كولو دليل دئ.

نبي كرم ﷺ فرمايي، چې:

وَ اِيَّاكُمْ وَالتَّنَعُّمْ وزى اَهْلَ الشِّرْكِ.

ترجمه: د تنعم (عيش پرستۍ) او د مشركانو دلباس او عاداتو څخه پرهېز وكړئ. (۱)

په هر صورت د دغه ارشاداتو څخه نو د تشبه مطلق ممانعت ثابتېږي، يعني كه چيرې يو څوک د دوى د شعائرو په ډول او رنګ او شكل خپل كړي نو كه كفر نه وي نو په اسلام كې خو هم دا د دوى عادات او لباس او داسې نور نسته، بلكې دا څرنګه يو مسلمان نارينه يا مسلمانه ښځه كېداى سي، چې د كفارو او فاسقانو شعار او عادات او لباس يې خپل كړى وي او د خپل پاک دين شعائر او عادات يې پرې ايښي وي. نو د دغه چا حشر به هم د ذكر سوي حديث مطابق د هغه كافرانو سره وي چې ده يې شكل او صورت د دوى په شان جوړ كړى وي او په حساب و كتاب كې به د دوى سره راپورته كېږي د مسلمانانو په صفو كې به نه وي.

علامه ابن تيميه رحمة الله عليه فرمايي: كه چيرې فاسقان په يو خاص قسم او ډول لباس سره معروف او مشهور وي نو د بل چا لپاره هغه لباس اغوستل منع دئ، ځكه چې د ده په باره كې دا ګومان ونه سي چې دى هم د فاسقانو څخه دي او د كفارو او فاسقانو د لباس اغوستونكي د دوى معاونت كوونكي دي، او

---

۱: (صحيح مسلم: كتاب اللباس والزينة، ص ۱۹۱، ج ۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه وجه څوک يې په اغوستلو سره ګناهکار بلل کېږي.[۱]

حضرت صنعاني رحمه الله فرمايي، چي: کوم څوک چي د کافرانو او بدعتيانو سره په يو شي کي لکه په لباس او شکل و صورت او داسي نورو کي مشابهت کوي نو هغه به (د قيامت په ورځ) د دوی څخه وي.[۲]

**تشبه يعني د نورو قومو د طريقو د اختيارولو شرعي احکام او درجې:**

۱. د کفارو سره په اعتقاداتو او عباداتو کي مشابهت کول کفر دئ.

۲. د کفارو سره په مذهبي رسوماتو کي مشابهت کول حرام دي، لکه: د نصاراوو (عيسايانو) په ډول د صليب نښان يا ټائي (نکټائي) په غاړه کول او يا د هندوانو په ډول زنار په غاړه کول او داسي نور مشابهتونه بېله شکه حرام دي.

۳. د کفارو د معاشرې (محلي) او قومي شعارونو، عاداتو او عملونو کي مشابهت کول مکروه تحريمي دي، مثلاً: د يو قوم خاص لباس استعمالول چي خاص د هغه قوم طرف ته منسوب وي او د هغه لباس استعمالونکي په استعمال سره د هغه قوم يو فرد بلل کېدای سي يا د کافرانو يو بل عمل چي د دوی قومي شعار وي په دې نيت او اراده کول، چي زه د دوی (کافرانو) سره مشابه جوړ سم دا ټول مکروه تحريمي دي.

۴. او کوم شيان چي د کفارو نه قومي، نه مذهبي او نه اعتقادي شيان وي محض دوی ايجاد کړي يا جوړ کړي وي او د ضرورت شيان وي، لکه د ساعتونو، موټرانو، سلاح او طيارو او داسي نورو په استعمال کي حقيقتاً مشابهت نسته، په دې شرط چي په استعمالولو کي يې د کافرانو سره د مشابهت نيت او اراده نه وي کړې جائز دي.

۵. په مسلمانانو کي چي څوک فاسق يا بدعتي وي د هغه وضع او حليه

---

[۱]: (فيض القدير: ج ٦، ص ۱۰۴).

[۲]: (سبل السلام شرح بلوغ المرام: ج ۴، ۱۵۵۵ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دوی نور هغه شيان چي د فاسقانو او بدعتيانو عمل او کار بلل کيږي د هغه عمل په کولو سره د فاسقانو او بدعتيانو سره مشابهت دئ او دغه مشابهت کول ګناه ده (۱)

**د تشبه د ختميدو نښاني:**

د تشبه (د نورو قومو [کفارو] سره د مشابهت) معيار دا دئ، چي د کومو شيانو په ليدو سره د عامو خلکو ذهن او فکر دې طرف ته تللی چي دا عمل د کفارو دئ او د کفارو سره خاص دئ نو دا تشبه ده او که د عامو خلکو ذهن د کفارو طرف ته نه تلی نو بيا تشبه نه ده او تر څو چي دغه خصوصيت پاته وي نو تر هغه وخت پوري ځوک د دغه مشابهت څخه منع کيږي، لکه د کوټ و پتلون اغوستل يا د ښځو لپاره د هندوانيانو په ډول ساړی اغوستل چي د دغه په اغوستلو سره د مسلمان ذهن دې طرف ته چي دا د کفارو لباس دئ ځي. البته بعضي هغه شيان چي منصوصي په شريعت مقدسه کي منع سوي وي هغه که پر عام حالت باندي پاته وي يا پر خاص حالت باندي وي په هر وخت کي ناجائز بلل کيږي(۲)

**د لباس شرطونه:**

د لباس په اړه که څه هم د نبي کريم ﷺ څخه د يو خاص لباس حکم يا د دې صحابه کرامو رضي الله عنهم په قول يا عمل باندي دا ثابته سوې نه ده، چي د مسلمانانو لپاره يې د يو خاص لباس اغوستل لازم کړي وي. البته د احاديثو او فقهي د کتابو څخه دا ضرور ثابتيږي، چي د لباس لپاره څه نا څه شرطونه سته او د هغه شرطو مطابق لباس اغوستلای سي، ځکه د ښځو د لباس د اغوستلو لپاره لاندي شرطونه مراعتول ضروري او لازمي دي او د نه مراعتولو په صورت کي د لباس مقصد او مطلب پاته کيږي:

**اول شرط** دا دئ، چي د ښځي لباس بايد مکمل ساتر (پټوونکی) وي

---

۱: (اصلاح خواتين، حضرت مولنا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه، ص ۳۷۰).

۲: (اصلاح خواتين، حضرت مولنا اشرف علي تهانوي، ص ۳۷۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د سر څخه بيا تر پښو پوري پټ وي. ځکه چې د ښځې ټول بدن عورت دئ، او پټوالی يې ضروري او لازمي دئ.

**دوهم شرط** دا دئ، چې کم از کم به لباس دومره پنډ وي چې بدن او جسم نه سي معلوم، که چيري لباس باريک وي نو يو بل لباس ورسره اغوستل ضروري او لازمي دي، ځکه چې بدن يې ځني ښکاره نه سي.

يو وخت د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حضرت اسماء رضي الله عنها حاضره سوه، هغې يو باريک لباس اغوستی وو، نو کله چې نبي کريم ﷺ ورته وکتل مخ يې ځني واړاوه او ورته ويې فرمايل: اې اسماء کله چې انجلۍ بالغه سي نو د هغې د بدن څخه د لاسو او مخ څخه ماسوا نور بدن پټول ضروري او لازمي دي چې د بدن يوه حصه يې ښکاره نه سي. (۱)

او حضرت عائشه رضي الله عنها د دې وريره حضرت حفصه رضي الله عنها ته راغله، هغې يو باريک نازک لباس اغوستی وو، حضرت عائشې رضي الله عنها د هغې هغه لباس ورڅيري کړ او بل پنډ لباس يې ورکړ. نو ځکه د لباس لپاره پنډوالی او پراخوالی شرط دئ. (۲)

**دريم شرط** دا دئ چې لباس بايد دومره تنګ يا چسپ نه وي چې د بدن يا جسم اعضاء يې معلومېږي، ځکه په حديث شريف کي نبي کريم ﷺ فرمايي، چې د جهنميانو او دوږخيانو دوه جماعت يا ټولۍ داسي وې چې ما نه وې ليدلي. يو جماعت د هغو خلکو وو، چې د غوايي د لکۍ په ډول يوه چلاخه يا غمچينه به يې په لاس کي وه چې په هغه سره به يې ناحق خلک وهله او دوهم جماعت د هغو ښځو دئ، چې ظاهراً خو يې لباس او کالي اغوستي وي ليکن په حقيقت کي لڅې وي او دوی نارينه خپل طرفته مائله کوي او پخپله هم

---

۱: و عن عائشة ان اسماء بنت ابی بکر دخلت علی رسول الله ﷺ و عليها ثياب رقاق فاعرض عنها و قال يا اسماء ان المرأة ... و اشار الی وجهه و کفيه (مشکوة: ص ۳۷۷، ج ۲).

۲: و عن علقمة بن ابی علقمة عن امه قالت دخلت حفصة بنت عبد الرحمن علی عائشة و عليها خمار رقيق فشقته عائشة رضي الله عنها و کستها خمارا کثيفاً (مشکوة: ص ۳۷۷، ج ۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library


دنارينوو وطرف ته مائلي وي، د هغو به سر د بختي اوښ د بوک په ډول جوړ کړی وي يعني د سر ټوله وربښتان به يې د سر په يوه حصه باندي جمع کړي وه، داسي ښځي به نه جنت ته داخليږي او نه به د جنت خوشبويي بوی کړي، که څه هم د جنت خوشبويي تر ډيري فاصلې پوري ځي.(١)

**څلرم شرط** دا دئ، چي دغه لباس به د کافري يا فاسقي يا بېکاري ښځي فېشن نه وي، ځکه چي د مسلماني ښځي لپاره دا نه ده په کار چي د کافري يا فاسقي ښځي لباس خپل کړي، دا د مسلماني ښځي د شان څخه خلاف دي، ځکه د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دي، چي:

نبي کريم ﷺ زما څخه دوې جوړې ژړ رنګ کالي چي ما اغوستي وه وليدل نو ويې فرمايل، چي دا د کافرانو کالي يا لباس دي دا مه اغونده.

اوس نو چي د کافرانو د لباس د رنګ د وجي منع وفرمايل نو د کافرانو په ډول يا بعينه د هغو په شکل لباس جوړول خو بيا بېخي نه دئ جائز.(٢)

**پنځم شرط** دا دئ، چي د ښځي لباس به د نارينه وو د لباس په ډول نه وي، ځکه د ښځو لپاره د نارينه وو لباس اغوستل او نارينه وو ته د ښځو لباس اغوستل جائز نه دي.

نبي کريم ﷺ فرمايي، چي د ښځو سره پر مشابهت کوونکو نارينه وو باندي او د نارينه وو سره پر مشابهت کوونکو ښځو باندي لعنت وي.(٣)

**شپږم شرط** دا دئ، چي لباس به يې د فخر، تکبر او رياکارۍ نه وي ځکه رياکاري هم يو شرک خفي دي او تکبر د سلو بلاوو څخه يوه بلا ده، او نبي

---

[1]: عن اي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: صنفان من اهل النار لم ارهما قوم ... و ان ريحها لتوجد من سيرة كذا كذا (مسلم كتاب اللباس والزينة: ص ۲۰۵، ج ۲).

[2]: ان عبدالله بن عمرو بن العاص اخبره قال رای رسول الله على ثوبين معصفرين فقال ان هذه من ثياب الكفار فلا تلبسها (مسلم، كتاب اللباس والزينة: ۱۹۳، ج ۲).

[3]: عن ابن عباس ﷺ قال لهن النبي ﷺ المتشبهين من الرجال النساء والمتشبهات من النساء بالرجال (صحيح بخاري، كتاب اللباس: صص ۸۷۴، ج ۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library


کریم ﷺ فرمايي چا چي په دنیا کي د شهرت لباس واغوستی د قیامت په ورځ به الله تعالی هغه ته د ذلت لباس ور واغوندي. بیا به یې د اوره ور ډک کړي.(۱)

**اووم شرط** دا دئ، چي: لباس به اعتدال او میانه روی وي یعني د لباس په اغوستلو کي دغه خبره مراعتول په کار دي، چي نه فضول خرڅي پکښې راسي او نه داسي وي چي د ډېرو کمو پیسو وي، چي بخل پکښې راسي او یا یو سړی خوار پکښې معلوم سي، بلکي متوسطه لار اختیارول په کار دي. د ډېر ګران لباس د اغوستلو څخه پرهېز پکار دئ او ضمناً به د تکبر څخه پرهېز راسي.

**اتم شرط** دا دئ، چي: په لباس کي به یو داسي شی نه وي موجد چي د هغه د وجي یې اغوستل حرام وي، مثلاً: پر لباس باندي د ذي روح شي لکه د یو حیوان یا انسان عکس و و تصویر وي، ځکه په حدیثو کي د عکسو په جوړولو او دغه ډول د خرڅولو او رانیولو بد او مذموم بلل سوی دئ.

او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چي نبي کریم ﷺ زما څخه د یوې پردې د رانیولو د وجي ناراضه سو، چي پر هغه باندي عکس وو او دغه ډول نبي کریم ﷺ فرمايي، چي هغه کور ته د رحمت ملائکي نه ورځي په کوم کور کي چي عکسونه (انځورونه) موجود وي.(۲)

## د ستر پټول:

ستر پټول ضروري او د اسلام د بنیادي احکامو څخه دئ او د انسانیت لوړي مرتبې پوره کوي، ځکه چي د آدم علیه السلام او حوا رضي الله عنها څخه د جنت لباس

---

۱: عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ من لبس ثوب شهرة فی الدنیا البسه الله ثوب مذلة یوم القیامة ثم الهب فیه ناراً (ابن ماجه، کتاب اللباس: ص ۲۵۷).

۲: عن عائشة رضي الله عنها انها اشترت نُمرقة فیها تصاویر ... ثم قال ان البیت الذی فیه الصور لاتدخله الملائکة (مسلم: کتاب اللباس، باب تحریم تصویر صورة الحیوان: ص ۲۰۱، ج ۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليري سو نو فوراً يې خپل ستر په بلګو باندي پټ کړ او په انساني فطرت کي دا خبره داخله ده، چي بايد څوک د عريانيت (لڅوالي) څخه ځان وساتي، ځکه عريانيت (لڅوالی) د حيوانانو خاصه ده.

بيا دين اسلام خو فطرتاً دين دئ او هغه انساني فطرت په اصل شکل او صورت کي وړاندي کوي، لهذا د ستر د پټوالي اهتمام کول ضروري دي او شريعت مقدسه چي د ستر کوم حدود بيان کړي دي هغه مراعتول خپله شرم او حيا ده. لکه څرنګه چي نبي کريم ﷺ حضرت اسماء رضي الله عنها د باريک (نازک) لباس په اغوستلو کي وليدل مخ مبارک يې څني وګرځاوه او ورته ويې فرمايل، چي:

د مخ او لاسو څخه ماسوا د بدن يا جسم يوه حصه لڅول هم نه دي جائز او دغه ډول چونکه د صحابه وو په زمانه کي د ګنډل سوو لباسو رواج کم وو او د پرتوګ (پاجامه) پر ځاى تهبند (لنګ) استعمالېدى، ځکه په حديث شريف کي راځي چي يوه صحابيه رضي الله عنها د سوارلۍ څخه ولوېده نو نبي کريم ﷺ د دې خوف (بېري) چي ستر يې نه وي ښکاره سوی خپلي سترګي پټي کړې او بيا چي کله صحابه وو رضي الله عنهم ورته وفرمايل چي يا رسول الله ﷺ! هغې ښځي خو پرتوګ اغوستی وو، نو نبي کريم ﷺ د ستر د پټولو اهميت بيان کړ او هغو ښځو ته چي ښه سترمندي وې يعني ستر کوونکي وې د مغفرت دعا وکړه.(۱)

لهذا کومه ښځه چي ځان ديندار ه بولي او غواړي چي د نبي کريم ﷺ په دعا کي ځان شامله کړي لکه څرنګه چي په مخکني حديث شريف کي ذکر سوه نو دي د ذکر سوو شرطو مطابق خپل لباس جوړوي او اغوندي دې او د ښځو د سرپرستانو دا وظيفه ده چي خپلي ښځي او د خپل کور ښځينه افراد د ذکر سوو شرطو په لباس باندي مکلف کړي، ځکه د کور سرپرست د خپل کور مسئول دئ، او د هر مسئول څخه د قيامت په ورځ پوښتنه او سوال د خپلو افرادو په باره کي کېږي.

۱: (مجمع الزوائد : کتاب اللباس والزينة، ج ۲، ص ۳۰۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



قال رسول الله ﷺ:...... أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ. (۱)

## د ښځو لپاره څنګه لباس اغوستل په کار دي؟

د ښځي ټوله بدن عورت دئ، ځکه د هغه پټول شرعاً، طبعاً او عقلاً فرض دي او د ايمان راوړلو وروسته فرض د ستر پټول دي.

ځکه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي، چي پر هغو ښځو باندي دي د الله تعالی رحم وي چي دوی د اسلام په ابتداء کي (د مکې مکرمې څخه و مدينې منورې) ته هجرت کوي، نو کله چي د الله تعالی دغه حکم نازل سو: (وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ)(۲)

ترجمه: او پر خپلو سينو دي د خپلو پړونو پلوونه واچوي.

نو دغو ښځو خپل پنډ ټوکران پرې کړل پوړني يې ځني جوړ کړل، پر خپل سر، غاړه، سينه باندي يې واچول او ځانونه يې ښه مستور (پټ) کړل.

او دا ډول اسلام ښځو ته حياء او شرم وروښيي، د نامحرم سره يې د يو ځای کېدو څخه منع کوي او د اسي جامو (کالو) د اغوستلو څخه چي باريک (نازک) وي يا چسپ وي يا لنډ وي يا هر هغه ډول لباس چي د هغه په اغوستلو سره د لباس مقصد او مطلب نه حاصلېږي هغه يې منع کړی دئ او د داسي لباس (جامو) حکم ورکوي چي په هغه لباس کي ستر پټ وي، باريک (نازک) نه وي، تنګ نه وي، لنډ نه وي، بې لستوڼو نه وي، بارچاکي نه وي، ګرېوان يې خلاص نه وي او دا ډول نور چي ستر ته نقصان پېښوي، ځکه چي ښځه چي څومره مستوره وي په هغه اندازه يې حياء او شرم ډېر وي نو اسلام هم و چا ته د حياء او شرم سبق ورکوي.

## د مروجه فېشن د لباس حکم:

نن سبا ځيني داسي فېشنونه رواج سوي دي، چي د لباس اصل مقصد او مطلب يې پاته سوی وي، ډېري داسي ښځي سته چي هغه دا ډول لباس

۱: مسند امام احمد ورقمه ۴۹۲۰، ج ۹ ص: ۴۵۶، ط: المکتبة الشاملة.

۲: النور، اية ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جامې) اغوندي که د بدن څه حصه لڅه وي دوی پروا نه په کوي او داسې لباسونه اغوندي چې بدن يې تر معلومېږي. آن تر دې پورې چې ورنونه، سينې او بازوګان يې ټوله معلومېږي، نو داسې لباس (جامې) اغوستل د نه اغوستلو سره برابر دي، ځکه د داسې لباس (جامې) د اغوستونکو ښځو په باره کې نبي کريم ﷺ فرمايي، چې:

يو داسې د ښځو جماعت (ټولنه) به وي چې لباس خو به يې اغوستی وي (مګر د هغه سره) به لڅې وي، نارينه به (ځان ته) مائله کوي او (خپله به نارينه وو) ته مائله کېدونکي وي او سر به يې د اوښ د بوک په ډول جوړ کړی وي، يعني وربښتان به يې پر سر باندې يو ځای کړي وي. نو دغه ډول ښځې به جنت ته نه سي داخلې او نه به د جنت خوشبويي بوی کړي، که څه هم د جنت خوشبويي تر ليرې ليرې ځايو پورې رسيږي (١)

نو لهذا د داسې مروج فېشن لباس اغوستل چې د لباس مطلب او مقصد پکښې پاته سوی وي جائز نه دي او سزاء يې دا ده لکه څرنګه چې په لوړ حديث کې ذکر سوه.

**د ښځو فېشن پرستي:**

خصوصاً په اوسنۍ زمانه کې د فېشن پېروي د ښځو مزاج جوړ سوی دئ، او دوی دا فکر کوي چې لباس د ځان لپاره نه دئ بلکې د نورو د ليدلو لپاره دئ، ځکه لباس د خپل خاوند لپاره اغوستل په دوهمه مرتبه کې بولي، او د دوی په فکر اصل د ښه لباس اغوستل فېشن دئ، په دغه لباس باندې به خلک زما تعريف وکړي او زه به د نورو ښځو په نظر کې ښه معلومه سم.

ځکه يې نو نتيجه دا کېږي، چې ښځې پخپل کور کې او د خاوند په مخ کې په خيرن لباس کې اوسي او کله چې له کوره څخه د وتلو په وخت کې وي بيا د ښه لباس د اغوستلو کوښښ کوي، ځکه چې دا د فېشن موافقه سي.

لهذا ښه لباس اغوستل د ښځې لپاره اول د خاوند حق دئ، د نورو د

---

١: (مشکوة: ج ١، ص ٣٠٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدلو لپاره لباس اغوستل د خاوند پر حق تجاوز بلل کېږي.

**د هري ښادۍ لپاره جلا جلا لباس اغوستل یا جوړول:**

د ډېرو ښځو اوس دا مزاج جوړ سوی دئ، چي د یوې ښادۍ لپاره یو لباس واغوندي نو په بله ښادي کي یې نه سي اغوستلای، ګویا د دې په فکر اوس دغه لباس د دوهم ځل لپاره اغوستل حرام دي او یا دا یې بد بولي، چي په یوې ښادي کي یې یو لباس اغوستی وي په بله ښادي کي یې هم واغوندي نو نوري ښځي به دا فکر وکړي، چي دا یوه جوړه کالي په هره ښادي کي اغوندي، نو په دې باندي د دې په فکر دا بې عزته کېږي، یا بده په معلومېږي. په دغه اراده باندي نو د هري ښادۍ لپاره نوی لباس جوړول یا اغوستل منع دئ البته که د خپل ځان د خوښي لپاره یا د خاوند د خوښي لپاره اغوستل وي بیا پروا نه لري.

**د ښځو لپاره کوم رنګ لباس مناسب دي؟**

د ښځو لباس د رنګ په اړه چونکه یو خاص رنګ نه دئ مقرر سوی البته په بعضو ځایو کي نبي کریم ﷺ د ښځو د زینت په خاطر سپین لباس خوښ کړی دي. لهذا د ښځو لپاره هر ډول رنګه لباس اغوستل چي د دوی زینت پکښي راسي جائز دي.

البته که یو رنګ داسي وو، چي په عرف کي د نارینه وو لپاره خاص وو نو د ښځو لپاره یې بیا هغه رنګ استعمالول د نارینه وو د مشابهت له وجي جائز نه دي.[1]

**د ښځو لپاره د باریک (نازک) لباس د اغوستلو حکم:**

لباس که باریک وي چي د هغه ښځه د بدن د ننه حصه معلومېږي یا لباس دومره چسپ وي چي د هغه ښځه د بدن ساخت (اعضاء) معلومېږي، نو داسي لباس ځیني وخت تر لڅ بدن ډېر شهوت پیدا کوونکی وي، ځکه د داسي لباسو

[1]: یجوز للمراة ان تلبس من الثیاب ما هو معتاد للناس من ای لون کان ... لعن المشتبهات من النساء بالرجال و بالعکس. (فتاوی هیئة کبار العلماء: ص ...).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اغوستلو په باره کي حضرت عائشه رضي الله عنها داسي فرمايي:

يوه ورځ د بنو تميم د قبيلې ځنځه ښځي حضرت عائشې رضي الله عنها ته راغلې، چي هغوی باريک (نازک) لباسونه اغوستي وه، کله چي حضرت عائشې رضي الله عنها ورته وکتل، نو حضرت عائشې رضي الله عنها ورته وفرمايل: که چيري تاسي مؤمناني ښځي ياست نو د مؤمنانو ښځو داسي لباس نه وي او که چيري مؤمناني ښځي نه ياست نو څه ډول چي غواړئ هغسي خوندونه اخلئ.(۱)

لهذا د ښځو لپاره داسي لباس اغوستل چي په هغه لباس کي د بدن پټ اعضاء (اندامونه) ښکاره کېږي د ښځو او نارينه وو د دواړو په مخ کي يې اغوستل حرام او ناجائز دي.(۲)

**د باريک (نازک) پوړني د پر سرولو حکم:**

نن سبا ښځي د سر پټول يا پوړنی پر سرول عيب بولي او که يې پر سروي هم بيا دومره نازک او باريک يا کوچنی وي چي د سر وېښتان او حسن و جمال يې په هغه باندي نه پټېږي او د پردې مقصد پکښي پايمال سوی وي. ځکه يو وخت حضرت عائشې رضي الله عنها ته د دې وريره حضرت حفصه بنت عبدالرحمن رضي الله عنها راغله په دې وخت کي حضرت حفصې رضي الله عنها باريک (نازک پوړنی پر سر کړی وو) حضرت عائشې رضي الله عنها د دې ځنځه پوړنی واخيستی ورڅيري يې کړ او له خپل ځان ځنځه يې پنډ پوړنی د پر سر کېدو لپاره ورکړ.

د دې حديث ځنځه دا معلومه سوه چي د باريک (نازک) پوړني د پر سر کېدلو ځنځه ځان ساتل په کار دي، که څه هم ډېري داسي ښځي سته چي خپل ځان ديندار بولي مګر بيا هم دغه ډول نازک او کوچني پوړني پر سروي.

---

۱: (قرطبي: ج ۱۲، ص ۲۳۳).

۲: قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: قول مفادة ان رؤية الثوب بحيث يصف حجم العضو ممنوعة ولو کثيفا لا ترى البشرة منه، (ردالمختار: ج ٦، ص ٣٦٦، کتاب الحظى والاباحة).

و روى ابو سعيد الخدري رحمه الله عنه عليه السلام انه قال: لا ينظر الرجل الى عورت الرجل ولا المراة الى عورة المرأة، (احکام القرآن للترمذي: ج ۳، ص ۳۲۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library


لهذا د ښځو لپاره د باریک (نازک) پوړني د پر سر کېدو څخه پرهېز کول لازم دي او داسي پوړني پر سر کول ضروري دي چي د سر ورېښتان، غاړه او ځیګر پکښي پټ وي.(۱)

**ایا د ښځو لپاره لڅ سر ګرځېدل جائز دي؟**

که څه هم د ډېرو دیندارو خاندانو ښځي لڅ سر کېدل عیب او بد بولي مګر بیا هم ډېري ښځي داسي سته چي لڅ سر په کور کي یا په بیابان کي اوسي، یعني پوړنی نه پر سر وي، چي دا یو فېشن دئ.

او د داسي ښځو په باره کي شیخ الاسلام جعفر کناني رحمه الله علیه پخپل کتاب کي یو حدیث رانقلوي، په حدیث شریف کي دا رانقلوي چي په کوم کور کي چي ښځه لڅ سر ګرځي ملائکي د هغه څخه نفرت کوي، لهذا د ښځو لپاره لڅ سر په کور کي او په بیابان کي ګرځېدل جائز نه دي.(۲)

**د ښځو لپاره د کوټ پتلون (پینټ شرټ) اغوستلو حکم:**

که څه هم په اوسنۍ زمانه کي نارینه او ښځینه مسلمانان د کفارو او مشرکینو لباس اغوندي یا ښځي د نارینه وو لباس اغوندي او دا عمل د دوی په فکر ترقي او فېشن دئ، او کوم شی چي د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په نزد د نفرت باعث او د لعنت سبب ګرځي هغه څرنګه د ترقۍ شی کېدلای سي. په دې کي انساني او ایماني ترقي او پرمختګ خو نسته البته حیواني، شهواني او د لعنت او نافرمانۍ ترقي ده، ځکه دا لباس چي د پینټ شرټ (کوټ پتلون) په نامه یادېږي د کفارو او مشرکینو او بې حیایۍ لباس دئ، د مسلمان لپاره که نارینه وي یا ښځینه وي د دغه لبس اغوستل نه دي مناسب. د کوټ پتلون (پینټ شرټ) په اغوستلو کي د لباس مقصد چي د اعضاوو پټول دي د تنګوالي د وجي نه سي پر ځای کېدای، یعني د تنګ والي د وجي داسي

---

۱: وعن علقمة بن ابي علقمة عن امه قالت دخلت حفصه بنت عبد الرحمن على عائشة رضي الله عنها و عليها خمار رقيق فشقته عائشة رضي الله عنها و كستها خمارا كثيفاً (مشکوة: ص ۳۷۷، ج ۲)

۲: (بلوغ القصد و المرام ببيان بعض ما تنفر منه الملائكة الكرام).

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي لکه لڅ اندامونه او د کفارو او فاسقانو سره د مشابهت له وجي يې په شريعت مقدسه کي اغوستل جائز نه دي.(۱)

**د ساړې اغوستلو حکم:**

چيري چي په مسلمانانو کي ساړې اغوستل رواج نه وي، بلکي يوازي د کفارو او مشرکينو سره خاص وي نو هلته د ساړې اغوستل د کفارو سره يا فاسقانو سره د مشابهت د وجي يې اغوستل مکروه دي.

او که په مسلمانانو کي هم د ساړې اغوستلو رواج وي نو بيا اغوستل يې جائز دي. البته اوس چي کومي عامي ساړې اغوستل کېږي، هغه داسي وي چي په هغه کي د ښځو پوره بدن (جسم) پټ نه وي، بلکي لاسونه يې تر بغلو پوري لڅ، شا و نس او سر يې هم لڅ وي، لهذا د ښځو لباس بايد داسي وي چي د دوی بدن او جسم ټوله پکښي پټ وي، لکه څرنګه چي د لباس په اصولو کي ذکر سول او دغه عامي ساړې چي اوس اغوستل کېږي په دې کي هم بدن او جسم پټ نه وي نو اغوستل يې جائز نه دي.(۲)

**د فراکي لباس اغوستلو حکم:**

فراک هغه بې لستوڼو لباس دئ، چي په هغه کي بازوګان تر بغلو پوري سره د سينې لڅ وي او د فراک لباس په اغوستلو کي يو ډول د کفارو د ښځو سره مشابهت وي نو لهذا د صالحو ښځو لپاره د فراکي لباس اغوستل نه دي مناسب، البته د نهو کلونو څخه د کم عمر نجلۍ ته يې ور اغوستل جائز دي،

---

۱: ليس للمرآة ان تلبس الثياب الضيقة لما فی ذلک من تحديد جسمها و ذلک مثار للفتنة والغالب فی البنطلون انه ضيق ... الخ.

فتاوی هيئة الکتاب العلماء: ج ۲، ص ۲۳۹، احکام تجميل النساء: ج ۱، ص ۲۲۹، امداد الاحکام: ج ۴، ص ۳۴۰.

۲: (امداد الاحکام: ج ۴، ص ۳۴۸) الشرط السابع: عدم التشبه بالکفار و اهل الکتاب والفساق: و هذا شرط عظيم فی زينة المرأة المسلمة ... و الخنا و الفجور ... (احکام تجميل النساء: ج ۱، ص ۱۱۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا خبره ده چي کوچنۍ نجوني بايد د کوچنيوالي څخه د دا ډول لباسو څخه ليري وساتل سي، ځکه چي د دا ډول ښکاره لباس اغوستل يې عادت جوړ نه سي.

او د ښه تربيت غوښتنه هم دا ده چي د لويښت څخه وروسته د ښه لباس عادي جوړه وي.(۱)

**د بې لستوڼو يا نيم لستوڼي لباس د اغوستلو حکم:**

د نيم لستوڼي لباس اغوستل په داسي ځايو کي چي هلته يوازي د ښځي محرم لکه پلار، ورور، ماما، اکا، وراره او خوريي او داسي نور وجود ولري او د فتنې ېره هم نه وي جائز دي که څه هم د حياء او شرم له مخي مناسب نه دي او په داسي ځای يا کور او ماحول کي چي نيم لستهوني لباس اغوستل چي نامحرم يعني هغه څوک چي د دې نکاح ورسره صحيح کېږي يا يو وخت ورسره صحيح کېدای سي، جائز نه دي. خصوصاً په هغو کورو کي چي هلته لېوَرونه، د خاوند د اکا زامن ورسره په يوه کور کي اوسي جائز نه دي، ځکه چي لېورونه او د خاوند د اکا زامنو ته او داسي نورو د خاوند قريبانو ته د دې مخ لڅول نه دي جائز نو لېڅي يا بازوګان لڅول بيا ېخي نه دي ورته جايز.(۲)

**د خلاص ګرېوان د قميص اغوستلو حکم:**

داسي لباس يا قميص چي په هغه کي سينه او غاړه ښکاره وي که څه هم د خپل محارمو لکه پلار، ورور، اکا، ماما او داسي نورو په مخکي اغوستل که د فتنې ېره نه وي پروا نه لري البته د حيا له مخي د خپلو محارمو په مخکي يې

---

[1]: (اعلاء السنن: ج ۱۱، ص ۲۶۹ – ردالمختار: ج ۱، ص ۱۶۲).

[2]: يرى المحرم من الرجال من محارمة مواضع الزينة من وجه و رأس و صدر و ساق و عضه ان أمن الشهوة عندالخفيه ... و قيد بعضهم بان روية اليدين الماجة الى المرفقين و هذا كله بشرط امن الشهوة (احكام تحميل النساء: ص ۱۰۴).

و من محرمة هى من لا يحل له نكاح أبداً بنسب او سبب ... والساق و اعضو ان أمن تنهوته ... و الالا ... و البطن (الدرالمختار: ج ۶، ص ۳۶۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اغوستل مناسب نه دي او د نامحرمو په مخکي چي د هغوی سره د دې ښځي نکاح صحيح کېدای سي اغوستل يې جائز نه دي.

خصوصاً په داسي کورکي چي هلته لېور، د اکازامن او داسي نور قريبان ورسره اوسېږي.(۱)

**د ښځو لپاره د برچاکي قميص اغوستلو حکم:**

يو فېشن خو د برچاکي قميص دا دئ چي بارچاک يې دومره لوی ورجوړ کړی وي چي اغوستونکی که څه هم يو شی يې پر سر اچولی وي بيا يې هم د بارچاک د طرفه څخه بدن معلومېږي.

او بل داسي فېشن په قميص کي هم سته چي د مخ د لمني طرف ته يې دومره بارچاک ورکړی وي چي تر نامه پوري وي يا تر نامه يو څو انچه کښته وي نو دا ډول لباسونه اغوستل د بې شرمۍ او بې حيايۍ علامې او نښې دي، او د داسي لباسو اغوستل جائز نه دي البته که يې د برچاکو څخه بدن نه معلومېدی بيا هم د شرم او حيا له مخي اغوستل مناسب نه دي، ځکه د نېکو او مؤمنو صالحو او غيرتمنو ښځو لباس دا ډول نه وي او صالحي ښځي داسي لباس اغوندي چي په هغه کي دوی ښې پټې او مستوري وي.

د حضرت هندي رضي الله عنها د قميص د لستوڼو په باره کي رائي، چي هغې د لويو لستوڼو والا قميص اغوستی، ځکه دا وايي چي زما د لاسو پرده هم خوندي وي.

ښو ښځو په دومره اندازه د لباس مراعت کوی.(۲)

---

۱: و من محرمة هی من لا يحل له نکاح ابداً بسبب او سبب ... والوجه و الصدر و الساق و العضدان امن شهوته ... و الا الخ (الدر المختار: ج ٦، ص ۳٦۴ – ۳۲۹).

۲: (فتح الباري: ج ۱، ص ۳۷۳).

لا يجوز لبس الرقيق من الثياب اذا کان يشف عن العورة، فيعلم لون الجلد من بياض او حمرة سواء فی ذلک الرجل و المرأة ولو فی بيتها ... الخ (الموسوعة ....، ج ٦، ص ۱۳٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د چسپ لباس د اغوستلو حکم:**

په اوسنۍ زمانه کي ډېري داسي ښځي سته، چي د نوي فېشن په نامه داسي تنګ لباسونه اغوندي، چي په هغو لباسو کي د لباس مقصد نه ترسره کېږي، ځکه چي د بدن ساخت (جوړ) واضح ښکاره کېږي او د تنګ لباس اغوستل د دوږخیانو ښځو نښاني ده او تنګ لباس نه د محرمو لکه پلار، ورور او داسي نورو په مخکي اغوستل جائز دئ او نه د نامحرمو (چي نکاح یې ورسره صحیح کېږي) جائز دئ.

نبي کریم ﷺ د هغو ښځو په باره کي چي تنګ لباس اغوندي فرمایي: که څه هم لباس به یې اغوستی وي لیکن د تنګوالي یا نازک والي له وجي به لڅي وي نو دوی به جنت ته نه سي داخلي او نه به د جنت بوی پیدا کړي که څه هم د جنت بوی به تر پنځو سوو کلونو تر مسافت پوري رسیږي.

لهذا چسپ لباس چي د بدن ساخت (جوړ) یې تر معلومېږي اغوستل یې جائز نه دي او پرهېز یې د اغوستلو څخه ضروري دئ (۱)

**د چوړي پایجامې د اغوستلو حکم:**

د چوړي پایجامې په نامه هغه پایجامه یا پرتوګ دئ، چي پر بدن باندي ډېر چسپ وي، حتی چي د ډېر چسپ والي څخه پکښې کښېنستلای هم نه سي. دا پایجامه ډېري ښځي د فېشن په توګه اغوندي او د تنګوالي له وجي پر بدن باندي چسپ وي چي له کبله یې د اغوستونکي د بدن اعضاء (اندامونه)

---

من تشبه بقوم ای من شبه نفسه بالکفار مثله فی الباس و غیره او بالفساق او الفجار، (مرقات: ج ۸، ص ۱۵۵).

[۱]: عن ابي هريرة ﷺ انه قال: نساء کاسيات عاريات مائلات مميلات لا يدخلن الجنة و لا يجدن ريحها و ريحها يوجد من مسيرة خمس مأة سنة (موطا امام مالک رحمه الله: ج ۲، ص ۱۶۱، باب ما يکره النساء لباسه).

و على هذا لا يحل النظر الى عورة غيره فوق ثوب ملتزق بها يصف حجمها (ردالمختار: ج ۶، ص ۳۲۶، فصل فی النظر والمس).

(c) ketabton.com: The Digital Library


واضح ښکاره کېږي.

لهذا دغسي پایجامې چي مخکي یې ذکر وسو نه د نارینه وو په مخکي او نه د ښځو په مخکي یې اغوستل جائز دي، او د دغو پایجامو اغوستونکي به جنت ته هم داخل نه سي.(۱)

## د بارچاکي پایجامې د اغوستلو حکم:

بارچاکي پایجامه یو ډول پایجامه یا (پرتوګ) دئ، چي ډېري ښځې یې د فېشن په توګه اغوندي او د هغه شکل او صورت دا ډول وي چي پایڅې له سر څخه بیا تر زنګانه پوري یا یو څو انچه تر زنګانه لاندي یې بارچاک ورکړی وي نو د دتګ په وخت کي یا بېله تګه یې د دغه بارچاک څخه پنډۍ معلومېږي، او دا ډول پایجامې مشرکان (هندوان)، کافران او بې دیني ښځې اغوندي.

لهذا دا ډول پایجامه د محرم او نامحرم د دواړو په مخکي یې اغوستل جائز نه دي. ځکه چي د محرم په مخکي یې په اغوستلو کي د فتنې ېره سته او د هندوانو سره یې په اغوستلو کي مشابهت دئ نو پرهېز ځني کول ضروري دي.(۲)

## د پرتوګ د اغوستلو حکم:

پرتوګ چي صحیح جوړ سي یعني تنګ نه وي دا د ښځو لپاره بهترین لباس

---

۱: عن ابي هریرة ﷺ انه قال: نساء کاسیات عاریات مائلات ممیلات لا یدخلن الجنة و لا یجدن ریحها و ریحها یوجد من مسیرة خمس مأة سنة (موطا امام مالک رحمه الله: ج ۲، ص ۱۶۱، باب ما یکره النساء لباسه).

و علی هذا لا یحل النظر الی عروة غیره فوق ثوب ملتزق بها یصف حجمها (ردالمختار: ج ۶، ص ۳۶۶، کتاب الحظ و الاباحة).

۲: و من محرمه من لا یحل له ... و الوجه و الصدر و الساق و العضدان أمن شهوت ... (الدرالمختار: فصل فی النظر و المس، ج ۶، ص ۳۶۴).

الشرط السابع: عدم الشتبه بالکفار و اهل الکتاب و الفساق: و هذا شرط عظیم فی زینة المرأة المسلمة و به تتمیز عن اهل الفسق و الخنا و الفجور ... الخ (احکام اتجمیل النساء: ج ...، ص ۱۱۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ، ځکه چي ستر ډېر ښه پکښي پټېږي او شريعت مقدسه هم دغسي لباس ته فضيلت ورکړی دئ، چي په هغه کي د انسان ستر ښه محفوظ وي.

يو د پايجامې په نامه يو خاص پرتوګ بعضي ښځې اغوندي چي هغه په جوړولو کي سيده غيچي کوي نو د جوړښت اندازه يې داسي وي لکه يوازي چي پايڅې وي نو که ډېر تنګ نه وي نو اغوستل يې پروا نه لري جائز دي البته که تنګ وو نو اغوستل يې مناسب نه دي.

لهذا د پايجامې تر اغوستلو د پرتوګ اغوستل فضيلت لري، او نبي کريم ﷺ د پرتوګ اغوستونکو ښځو ته د مغفرت دعا فرمايلې ده.(۱)

**د مکسي قميص د اغوستلو حکم:**

مکسي هغه قميص دئ، چي په اوسني رواج کي يې څوک د واده په شپه په ناوي اغوندي او دغه مکسي دوه ډوله جوړېږي، يو هغه ډول وي چي لمن يې ډېره اوږده او غټه وي آن تر دې پوري چي لمن يې په ځمکه کښېږي يا يې په لاس کي ورسره را اخيستې وي او د دې سره يې لستوڼي بالکل نه وي که وي هم ډېر لنډ وي او د سينې په حصه کي تنګ هم وي او بله د يادولو وړ خبره دا ده چي د مکسي په نامه لباس د عيسوي ښځو خاصيت دئ، نو د دغسي مکسي قميص اغوستل جائز نه دي او دغه دوهم ډول چي يوازي يې لمن غټه وي نور لستوڼي يې پوره وي د سينې پر حصه باندي څه اندازه پراخ هم وي نو بيا يې اغوستل هم مناسب نه دي، ځکه چي بې ضرورته اسراف ډېر پکښي سوی وي او اسراف يو خو د پيسو د طرفه وي چي د يوې شپې لپاره يې په ډېرو پيسو رانيسي يا يې کرايه کوي او هم دا اسراف دئ چي تهوکر د ضرورت څخه زيات پکښي کار سوی وي.(۲)

---

۱: لبس السراويل سنة و هو من الستر الثياب للرجال والنساء: (كذا فى الغرائب هنديه: ج ۵، ص ۳۳۳، مجمع الزوائد: كتاب اللباس: ج ۲، ص ۸۰۳)

۲: لا بأس بلبس الثياب الجميلة اذا كان لا ينكر عليه فيه، (البحرالرائق: ج ۸، ص ۳۴۹، فصل فى اللباس).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د عام مکسي قميص د اغوستلو حکم:**

د مکسي قميص يو ډول هغه وو، چې مخکې يې حکم تېر سو، چې هغه يوازي په ناويانو باندي د واده په شپه اغوستل کېږي، دوهم مکسي قميص دا دئ، چې عامي ښځي يې اغوندي د هغه د جوړښت کيفيت هم دوه ډوله دئ، يو خو داسي وي چې تر بيجلکو اوږد وي مګر تنګ نه وي او نه يې لستوڼي لنډ وي نو د دغه قميص اغوستل جائز دي.

دوهم هغه ډول جوړ وي چې د ټا پر بدن باندي ډېر چسپ وي چې د هغه ښځه د انسان اندامونه او ساخت يې واضح معلومېږي او لستوڼي يې هم لنډ وي نو د دغسي مکسي قميص اغوستل چې دومره تنګ وي لکه مخکې چې وويل سول جائز نه دي.(١)

**د پنجابي لباس حکم:**

د پنجابي لباس په نامه دا هغه لباس دئ، چې د جوړښت کيفيت او طريقه يې دا ده چې مخکې به يې قميص محض بارچاکونه درلودل نور به پراخ وو، که څه هم د بارچاکو په وجه يې اغوستل مناسب نه وه مګر په اوسني وخت کي د هغه پنجابي لباس په نامه لباس دئ، ليکن د هغه سره فرق ډېر لري هغه دا چې يو خو يوه اندازه تنګ وي دوهم دا چې قميص يې دومره لنډ ورجوړ کړی وي چې محض يې سروزنه په پټه وي، نور يې د ورنو حجم او ساخت معلومېږي.

لهذا د دغسي لباس يا قميص اغوستل د انسان لپاره خصوصاً د ښځو

---

کلوا والشربوا والبسوا و تصدقوا من غير اسراف و لا مخيلة و هذا من هذا (تفسير ابن کثير: ج ٣، ص ٣١۴).

يتناول الاسراف فی الانفاق و فی سائر الاعمال، (تفسير الماتريدي: ج ۴، ص ٢٨٠).

و ابن عمر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم.

قال علی قاري: ای من تشبه بالکفار مثلاً فی اللباس و غيره او بالفساق او الفجار (مرقاة: ج ٦، ص ٥٥، کتاب اللباس).

١: و علی هذا لا يحل النظر الی عورة غيره فوق ثوب ملتزق بها يصف حجمها (رد المختار: ج ٦، ص ٣٦٦، فصل فی النظر و المس).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره بې حیایي، بداخلاقي او د شرم ضد لباس دئ او بیا د نارینه وو په مخکې یې اغوستل د ښځې بې حیایي په ګوته کوي، نو ځکه یې اغوستل جائز نه دي.(۱)

**د انارکلي لباس حکم:**

د انارکلي په نامه لباس دا هغه لباس دئ، چې د جوړښت کیفیت او طریقه یې تر ډېره حده صحیح وي او جوړښت یې دا ډول وي چې قمیص یې ګردی او پراخ وي او دا ډول یې پایجامه هم صحیحه جوړه وي نو لهذا د انارکلي لباس که په همدغه کیفیت وي نو اغوستل یې جائز دي.(۲)

**د چوري پنجابي لباس د اغوستلو حکم:**

د چوري پنجابي لباس جوړ داسې وي چې قمیص یې بارچاکونه لري او پرتوګ یې ډېر تنګ وي چې پر بدن باندې ډېر چسپ وي او د دغه سره یې بعضې ښځې یې د قمیص لستوڼي هم ور لنډ کړي نو په دغسې کیفیت او صورت کې چې جوړ وي د چوري پنجابي لباس اغوستل جائز نه دي.

البته که د چوري پنجابي لباس جوړښت په دغه ذکر سوي شکل او صورت کې نه وي یعنې د قمیص لستوڼي یې لنډ نه وي او پرتوګ یې پر بدن باندې چسپ نه وي نو بیا یې اغوستل جائز دي.(۳)

**د ساوریا لباس د اغوستلو حکم:**

د ساوریا لباس په نامه دا هغه لباس دئ، چې جوړښت یې په دا طریقه وي

---

۱: لیس للمرأة ان تلبس الثیاب الضیقة لما فی ذلک من تحدید جسمها و ذلک مشار للفتنة ... (فتاوی هیئة کبار العلماء: ج ۲، ص ۸۳۹).

و علی هذا لا یحل النظر الی عورة غیر فوق ثوب ملتزق بها یصف حجمها (ردالمختار: ج ۶، ص ۳۶۶، سعید).

۲: لا بأس بلبس الثیاب الاجمیلة اذا کان لا ینکر علیه في (البحرالرائق: ج ۸، ص ۳۴۹، فصل فی اللباس).

۳: و علی هذا لا یصل النظر الی عورة غیره فوق ثوب ملتزق بها یصف حجمها (ردالمختار: ج ۶، ص ۳۶۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې قمیص یې ګردی وي او ډېر لنډ او تنګ یې جوړوي، چې ځوک یې واغوندي د هغه د بدن ساخت او اندامونه ځني واضح معلومېږي، لهذا د دغسي لباس اغوستل چې د چا د بدن ساخت او اندامونه یې واضح معلومېږي جائز نه دي حرام دي. (۱)

**د بنګله (جانکټ او لمن) لباس د اغوستلو حکم:**

د جانکټ و لمن په نامه د تېرو وختو ځخه مشهور لباس دئ، چې اوس یې ځوک د بنګله په نامه باندي هم یادوي، د جوړښت کیفیت او طریقه یې دا ډول وي چې د نامه تر حدودو پوري یې جانکټ وي او بیا جلا لمن وي، یعني جوړ یې داسي وي چې جانکټ یې جلا وي لمن یې جلا وي او د اغوستلو پر مهال دواړه سره متصل اغوستل کېږي، بعضي ښځي یې بېله لستوڼو یا نیم لستوڼو هم جوړوي.

لهذا د جانکټ او لمن په نامه یا بنګله په نامه باندي دغه لباس که چیري بېله لستوڼي یا نیم لستوڼي وي نو اغوستل یې جائز نه دي، البته که لستوڼي یې پوره وي نو بیا یې اغوستل جائز دي. (۲)

**د شاراره لباس د اغوستلو حکم:**

د شرارې په نامه لباس هغه لباس دئ چې په دا ډول یې ځوک جوړوي چې قمیص او پرتوګ دواړه آزاد جوړېږي، د چا د بدن سره چسپ نه وي نو په دغسي صورت کي یې اغوستل جائز دي البته بعضي اوقات یې ځوک داسي هم جوړوي چې لستوڼي یې نه وي ورکړي که یې ورکړي هم وي مګر لنډ وي نو بیا

---

۱: قال العثمانی مدظله العالی: فکل لباس ینکشف معه جزء من عورة الرجل وامرأة لا تقره الشریعة الاسلامیه مهما کان جمیلاً ... و کذلک اللباس الرقیق او الاصق بالجسم الذی یحکی للناظر شکل حصة من الجسم ... فهو فی حکم ما سبق فی الحرمة و عدم الجواز (تکملة فتح الملهم: ج ۴، ص ۸۸، کتاب اللباس).

۲: لا بأس بلبس الثیاب الجمیلة اذا کان لا ینکر علیه فیه (البحر الرائق: ج ۸، ص ۳۴۹، فصل فی اللباس).

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې اغوستل جائز نه دي.(۱)

**د ګیر پرتوګ د لباس د اغوستلو حکم:**

په اوسني عصر (وخت) کي د ښځو د لباسو ډیزاینونه او فیشنونه دومره ډېر ډولونو ته رسیږي، چي د هغو د جوړښت کیفیتونو ته او د جوړ طرزونو ته څوک په تعجب کي کیږي، د هغو فیشني لباسو څخه یو لباس په نامه ګیر پرتوګ دئ، چي جوړ یې داسي سوی وي چي پرتوګ یې ډېر او بې حده لوی جوړ کړی وي او قمیص یې لنډ ور جوړ کړی وي چي محض یې سروزنه په لمن پټه کړې وي دا ډول لباسونه چي یو طرف ته پرتوګ یې دومره لوی وي بل طرفته یې دومره کوچنی او لنډ قمیص وي نو دغه ډول لباسونه محض د شهرت او تفاخر لپاره اغوستل کیږي، بلکي په دا ډول لباس اغوستلو کي یو ډول بداخلاقي ، بې حیایي او اسراف هم وي نو لهذا د یوې مسلماني او حیاداري ښځي لپاره دا ډول لباس اغوستل مناسب نه دي.(۲)

**د افغاني لباس حکم:**

د افغاني لباس په نامه دا هغه لباس دئ، چي د څه مودې څخه رائج دئ، او د هغه جوړښت دا ډول وي چي مکمل څوک پکښې مستور وي یعني پخپل مناسب انداز باندي جوړ وي، چي نه تنګ او نه لنډ وي او نه دا چي لستوڼي یې لنډ وي او د قمیص غاړه یې پراخه او آزاده وي.

نو دا ډول لباسونه چي ښه څوک پکښې مستور وي په اوسني وخت کي

---

۱: لا بأس بلبس الثياب الجميلة اذا كان لا ينكر عليه فيه (البحرالرائق: ج ۸، ص ۳۴۹، فصل فی اللباس).

۲: قال الملا علي قاري رحمه الله: من تشبه بقوم ای من شبه نفسه بالكفار مثلاً فی اللباس و غيره او بالفساق او الفجار ... فهو منهم ... ای فی الاثم و الخير ... (مرقات المفاتيح: ج ۸، ص ۱۵۵).

والأصل فی هذا الشرط ما قال رسول الله ﷺ: من لبس ثوب شهورة فی الدينا البسه الله ثوب مزلة يوم القيامة ثم الهب فيه ناراً (ابوداود: كتاب اللباس، ج ۲، ص ۳۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې اغوستل د فتنې د ډېرښت د وجې د ښځو لپاره ضروري او لازمي دي که څه هم قيمتي او د ډېرو پيسو او ښايسته لباس وي. (۱)

**د شېرواني (چپنه والا) لباس حکم:**

چونکه د لباسو اغوستل په اوسنۍ زمانه کې بعضې څوک دا فکر کوي چې څه اندازه بدن پټول د لباس مقصد دئ بس، نو ځکه داسې ډول ډول لباسونه رائج سول، چې په هغو کې د چا بدن مکمل نه وي پټ او بعضې داسې وي چې د فاسقانو او کفارو د لباسو په ډول وي او بعضې دا ډول وي، چې ظاهراً يې بدن په پټ وي مګر د چا د بې حيايۍ او بې شرمۍ او بداخلاقۍ شاهدي ورکوي او د فتنې لور ته د چا فکر وراړوي، او دا هغه لباسونه دي چې نن سبا يې بعضې ښځې د شېرواني (چپنه والا) په نامه باندې اغوندي او جوړښت يې دا ډول وي چې يو خو يې د عام بارچاکي لباس په ډول بغلونه بارچاکونه لري دا خو په هر صورت دوهم دا چې د مخ لمني ته يې لوی بارچاک ورکړی وي او دغه د مخ لمني ته دومره لوی بارچاک ورکول چې د انسان د ورنو لوړه حصه هم ورڅخه معلومېږي او دا هغه لباس دئ چې د چا بې حيايي او بې شرمي ور په ګوته کوي او د دې سره سره دا د کفارو او فاسقو ښځو لباسونه دي، چونکه هغوی نه حيا لري نه اخلاق او نه د دغو شيانو مراعت ساتي.

لهذا د مسلمانو او ديندارو ښځو لپاره دا ډول لباس اغوستل چې په هغه کې د چا حيا او شرم نه وي خوندي جائز نه دي، خصوصاً چې بيا د کفارو او بې دينو ښځو څخه دا لباس رائج سوی وي يا د هغوی لباس بلل سوی وي. (۲)

---

۱: لا بأس بلبس الثياب الجميلة اذا كان لا ينكر عليه فيه (البحر رائق: ص ۳۴۹، ج ۸، فصل فى اللباس).

فان الاسلام ... لم يقصره على نوع دون نوع و لم يقرر للانسان نوعاً خاصاً او هيئة خاصه من اللباس... و انما وضع مجموعة من المبادی (تكملة فتح الملهم: ج ۴، ص ۸۷).

۲: ليس للمرأة ان تلبس الثياب الضيقة لما فى ذلک من تحديد جسمها و ذلک مشار للفتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د سینه بند د استعمالولو حکم:**

د سینه بند د استعمال بنیادي مقصد د ځیګر حفاظت دئ، نو ځکه د ښځو لپاره یې استعمالول جائز او ښه کار دئ. البته که چیري د سینه بند استعمال په داسي ډول وي چي د چا ځیګر ښکاره او واضح پکښني معلومیږي نو بیا یې استعمال جائز نه دئ.

لهذا که د سینه بند استعمال په نیت د ځیګر د حفاظت وي نو جائز او اولی کار دئ او که د سینه بند استعمال په نیت د ځیګر د واضح او د بل توجه ځان ته د را اړولو لپاره وي نو د خاوند دمخه ماسوا د بل چا په مخکي ښکاره کول یې جائز نه دي.(۱)

**د زنانه جانکټ (انګیا) د اغوستلو حکم:**

هغه جانکټ (انګیا) چي عموماً د ښځو لپاره د یخ څخه د ځان ساتلو لپاره جوړیږي او کیفیت او جوړ یې هم د نارینه وو د جانکټ (انګیاوو) څخه جلا وي نو د ښځو لپاره یې اغوستل جائز دي. البته که د هغه جانکټ (انګیا) جوړ او استعمال د نارینه وو لپاره خاص وي نو د ښځو لپاره یې اغوستل جائز نه دي او که د ښځو لپاره یې جوړ او استعمال خاص وي نو د نارینه وو لپاره یې اغوستل جائز نه دي.(۲)

---

والغالب فی البنطلون انه ضیق ... (فتاوی هیئة کبار العلماء: ج ۲، ص ۸۳۱).
و تعد مجاوزتها خرقاً للحیاء و خدشاً للمروءة ... حتی لا یکون لباسها لباس شهوة لمخالفته عادة الناس ... (احکام لتجمیل النساء: ج ۱، ص ۱۰۷).

[1]: لا بأس بلبس الثیاب الجمیلة اذا کان لا ینکر علیه فیه (البحر الرائق: ج ۸، ص ۳۴۹، فصل فی اللباس).

[2]: لا بأس بلبس الثیاب الجمیلة اذا کان لا ینکر علیه فیه (البحر الرائق: ج ۸، ص ۳۴۹).
لعن رسول الله ﷺ المتشبهین من الرجال بالنساء ... الخ و هذا الحدیث اصل فی عدم جواز تشبه الرجال بالنساء و العکس فی اللباس والزینة ... دون الاخر (احکام تجمیل النساء: ص ۱۰۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د ښځو لپاره د رخچيني د استعمال حکم:**

رخچيني پر دوه ډوله دي، يو هغه ډول دي چي د نارينه وو لپاره خاص دي، چي عموماً يې نارينه استعمالوي نو د نارينه وو د رخچيني استعمال د ښځو لپاره جائز نه دئ. دوهم هغه رخچيني دي چي بعضي سپين سري ښځي يې د وربښتانو د حفاظت لپاره استعمالوي نو په دغه نيت يې استعمال جائز دي. البته که چيري يې استعمال د فېشن لپاره وي که څه هم حفاظت پکښې راغلی وي نو بيا يې هم استعمال جائز نه دئ.(۱)

**پر لباس باندي د تصوير (عکس) حکم:**

درې ډوله تصويرونه (عکسونه) پر لباسو باندي نقش کېږي يا جوړېږي، د درو سرو حکم به انشاء الله په تفصيل سره جلا جلا ذکر سي.

**اول:**

د ذي روح (ساه اخيستونکو) شيانو تصويرونه (عکسونه) مثلاً لکه د انسان يا نورو حيواناتو يا مرغانو.

**دوهم:**

د غير ذی روح (د ساه نه اخيستونکو) شيانو تصويرونه (عکسونه) مثلاً لکه د ستوري، لمر، درختي، ډبري او داسي نورو شيانو.

**دريم:**

د کفارو د شعائرو تصويرونه (عکسونه) مثلاً لکه د صليب يا د هغو نښو تصويرونه چي دوی ته منسوب وي، د دې په ضمن کي نو د دوی د ممالکو د بيرغونو تصيرونه (عکسونه) هم راځي.

**پر لباس باندي د ذي روح (ساه اخيستونکو) شيانو د عکسونو حکم:**

---

۱: عن ابن عباس رضي الله عنه قال لعن رسو ل الله ﷺ المتشبهين من الرجال ...... من النساء بالرجال. ترغيب والترهيب ج: ۳ ص: ۱۰۳

اذا کان اللباس غالبه لباس رجال نهيت عند المرأة و ان کان ساتراً (احکام تجميل النساء: ص ۱۱۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ذي روح (ساه اخيستونکو شيانو) لکه د انسانانو، حيوانانو او مرغانو عکسونه جوړول يا په بل باندي جوړول يا د کېمرې په ذريعه ورڅخه اخيستل يا پخپله اخيستل يا په کورونو کي ايښوول يا ځړول يا پر لباسو باندي نقش کول يا هغه لباس اغوستل چي پر هغه باندي د ساه اخيستونکو شيانو عکسونه وي دا ټول په شريعت مقدسه کي حرام دي، او کوونکی يې د عذاب مستحق دئ او دا ډول په هغو ځايو کي لکه کوټه، صالون او داسي نورو کي چي عکسونه ځړېږي هلته لمونځ کول مکروه دي او په هغه لباس کي لمونځ کول چي پر هغه باندي د ساه اخيستونکو شيانو عکسونه وي د نارينه او ښځينه وو لپاره مکروه تحريمي دي.

ليکن بعضي غافله مسلمانان يا د کفارو د فېشن څخه متأثر مسلمانان داسي لباسونه پخپله اغوندي يا يې په ښځو يا پخپلو کوچنيانو باندي اغوندي چي هغه لباسونه يا هغه ډول لباسونه کفار او فاجران استعمالوي او خصوصاً هغه لباسونه لکه انګيا يا کوټونه او داسي نور بعضي مسلمانان يې اغوندي چي پر هغه باندي د مشرکانو هندوانو د فلمونو د اداکارانو عکسونه وي.

لهذا دغه اعمال او کارونه او دا ډول لباسونه اغوستل چي مخکي ذکر سول حرام او کوونکی يې د عذاب مستحق دئ.

ځکه په حديث شريف کي نبي ﷺ فرمايي:

عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول اشد الناس عذاباً عندالله المصورون.(١)

ترجمه: د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ: دی وايي چي ما د نبي کريم ﷺ څخه واورېدل چي د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب د عکسو جوړونکو لپاره وي.

او په بل حديث شريف کي نبي کريم ﷺ فرمايي:

١: (مشکوة: ج ٢، ص ٣٨٥).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن ابن عباس رضي الله عنه سمعت رسول الله يقول: من صور صورة فى الدينا كلف ان نفخ فيها الروح يوم القيامة و ليس بنافخ. (۱)

ترجمه: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه مي واورېدل چي ده مبارک وفرمايل: چا چي يو صورت په دنيا کي جوړ کړ نو د قيامت په ورځ به دی مکلف سي چي دغه (جوړ سوي) صورتو ته ساه ورکړه، دی به يې نه سي ورکولای.

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم په بل حديث شريف کي فرمايي:

لاتدخل الملائكة بيتاً فيه كلب ولا تصاوير، متفق عليه (۲)

چي په کوم کور کي تصويرونه (عکسونه) وي يا سپی وي و هغه کور ته د رحمت ملائکي نه داخلېږي. (۳)

**که پر لباس باندي د ذي روح (ساه اخيستونکي) ډېر کوچني عکسونه وي؟**

که چيري تصوير (عکس) ډېر کوچنی وي او د ليري ځای څخه نه معلومېږي، که څه هم څوک ورنژدې سي ورته معلوم سي يا په ډېر فکر کولو سره ورته معلوم سي نو د مجبورۍ په وجه يې اغوستل جائز دي او بېله

---

۱: (مسلم: کتاب اللباس، ص ۲۰۲، ج ۲).

۲: (مشکوة: کتاب اللباس، ج ۲، ص ۳۸۵).

۳: فظاهر كلام النووى فى شرح مسلم الاجماع على تحريم تصوير الحيوان: و قال: سواء صنعه لما يمتهن او لغيره قصنعته حرام بكل حال ... و سواء كان فى ثوب او بساط ... و غيرها (ردالمختار: ج ۱، ص ٦٤٧، سعيد).

و لبس ثوب فيه تصاويرالذي له روح للتشبه بعبادتها! اى من المكروه ... و هو اى الثوب مكروه بذاته: فكيف به فى الصلاة و المقصود هنا الكراهة التحريمية (درالمختار: ج ۱، ص ۴۳۵).

و من خلاصة ما سبق لتضح ان اقتناء المرأة لصورة ذات الأرواح فى لباسها او فى حليها هو أمر محرم: لو رود العقوبة فيه و العقوبة لا تكون الا على فعل محرم (احكام تجميل النساء: ص ۳۳۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورته يې اغوستل ښه کار نه دئ(۶۱).

**پر لباس باندي د سر پرې سوي ذي روح شيانو عکسونه:**

پر لباس باندي د داسي تصوير (عکس) وجود چي د هغه تصوير (عکس) سر نه وي يعني ورڅخه قطع سوی يا يې مخ نه وي يا يې داسي اندام نه وي چي د هغه پرته دغه ذي روح شی ژوند نه سي کولای، که څه هم د هغه تصوير جوړښت داسي سوی وي چي سر يا هغه اندامونه چي د هغه ماسوا ژوند نه سي کولای نه وي يا يې وروسته تر جوړښته هغه سر يا اندام ورڅخه قطع کړی وي چي بېله هغه ژوند نه سي کولای، نو د داسي لباس اغوستل چي پر هغه باندي د دغه ذکر سوو ډولونو تصويرونه (عکسونه) وي جائز دي.(۱)

**پر لباس باندي د غير ذي روح شي د تصوير حکم:**

پر لباس باندي د غير ذي روح شيانو تصويرونه لکه د درختي، ګلانو، مېوو، ډبرو او داسي نورو پروا نه لري جايز دي، که څه هم لمونځ په دغه تصوير لرونکي لباس کي وکړي مکروه نه دئ، او دا ډول که په کور کي په خونه او صالون کي ځړول سوي وي هم جائز دي.(۲)

**پر لباسو باندي د کفارو د شعائرو او تصويرونو حکم**

**د صليب لرونکي لباس د اغوستو حکم:**

---

(۶۱) (الا ان تكون صغيرة) لان الصغار جداً لا تعبد، فليس لها حكم الوثن لا تكره فى البيت والمراد بالصغيرة التى لا تبدو للناظر على بعد و الكبيرة التى تبدو للناظر على بعد (كذا فى فتح القدير: ص ۴۱۴، ج ۱).

۱: او مقطوعة الرأس اوالوجه او ممحوة عضو لا تعيش بدونه... قوله او مقطوعة الرأس اى سواء كان من الاصل او كان لها رأس و محى و سواء كان القطع بخيط... برون الرأس عادة (الدر المختار مع رد المختار: ج ۱، ص ۶۴۸، سعيد).

۲: قال النووي رحمه الله و اما الشجر و نحوه مما لا روح فيه فلا يحرم صنعة و لا التكسب به: وسواء الشجر المثمر و غير (شرح النووى على الصحيح المسلم: ج ۱، ص ۱۳۰، كتاب اللباس).

فان غير ذى الروح لا يكره كالشجر (فتح القدير: ج ۱، ص ۴۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنيا ټوله تجارت تقريباً په اوسنۍ زمانه کې د کفارو په لاس کې دئ، په تجارت کې د مال د ډېرښت تر څنګ يو مهم کار يې د خپل دين د ترقۍ او د خپلو شعائرو د عامېدو لپاره په تجارت کې دا هم کړی دئ، چې د خپل باطل دين او باطل مذهب عقيده او د هغه نښي و نښانې د فېشن او ډيزاين په صورت کې په ټوله دنيا کې وغوړولې او نشر يې کړي او د شعائرو نشر يې دا ډول نه دئ چې يوازې پر يو خاص شي باندې وي، بلکې پر لباس باندې، پر رخچينه باندې، پر کوټ باندې حتی د تعليم پر اسبابو باندې لکه: قلم، کتابچه او داسې نورو شيانو. داسې شی نسته چې پر هغه باندې يو ډول د ډولونو يو تصوير (عکس) موجود نه وي، کله د صلب د نښان عکس وي چې صورت او کيفيت يې دا ډول وي لکه د جمع علامه خو څه فرق يې دا دئ چې په صليب کې يې لاندې خط اوږد وي، کله د يهودو د شپږ کونجه ستوري تصوير (عکس) وي. او س موږ دغه کار ته سازش ويلای سو، او که د خپل ځان لپاره غفلت؟

دا يو فکري جګړه ده چې مغربي هيوادونو د مسلمانانو پر خلاف شروع کړې ده، چې مسلمانان يې د خپلو شعائرو څخه غافل کړي دي او په دغه د فېشن او ډيزاين په نامه يې د مسلمانانو شکلونه، لباسونه چې حتی د مسلمانانو معاشرې او محلې يې د ځان په ډول جوړې کړې دي.

که موږ وګورو مغربي نړۍ پر خپلو لباسو د خپلو شعائرو څومره اشاعت کوي، چې په ټوله دنيا کې يې خپل د دين شعائر پيژندلي دي حتی چې محض يو کمزوري مسلمانان يې هم استعمالوي او د صليب د نښان استعمال خو څه بلکې ماتول يې په شريعت مقدسه کې ضروري دي او د نبي کريم ﷺ عمل هم دا وو، چې چيرې به يې داسې شی وليدی چې پر هغه باندې د صليب د نښان سره مشابهت وو نو نبي کريم ﷺ هغه ماتوی. (۱)

د صليب د نښان عکس د نورو شيانو د عکسو څخه جلا دئ، ځکه چې د

---

۱: عن يحيى عن عمران بن حطان ان عائشة حدثته ان النبي ﷺ لم يكن يترک فی بيته شيئاً فيه تصاليب الا نقضه (بخاري: کتاب اللباس، ص ۸۸۰، ج ۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library


صلیب د نښان خصوصاً عبادت کېږي او هغه د یوه معبود په ډول بلل کېږي، نو لهذا د ساه اخیستونکو تر تصویر ډېر بد په شریعت کي بلل شوی دئ.

او د صلیب نښان استعمالول یو ډول د دوی سره مشابهت کول دي او په حدیث شریف کي نبي کریم ﷺ فرمایي: چا چي د دوی سره (یهود او نصاری) مشابهت وکړ نو مشابهت کوونکی هم د دوی څخه دئ او که د مشابهت نیت یې کړی هم نه وي خو معناً د دوی سره په عقیده کي ګډ بلل کېږي او د صلیب څخه د دوی مراد دا دئ، چي عیسی علیه السلام وفات شوی دئ او دغه عقیده د قرآنکریم د آیات څخه صریح او واضح خلاف ده.

په هر صورت د مسلمانانو لپاره د کفارو د شعائرو خصوصاً د صلیب د نښان استعمالول د اسلامي غیرت خلاف دي او په شریعت مقدسه کي دا ډول لباس اغوستل چي پر هغه باندي د صلیب تصویر وي د ټولو مسلمانانو لپاره حرام او ناجائز دي.(۱)

**د کفارو د بیرغونو د لباس د اغوستلو حکم:**

پر بعضو لباسونو باندي یا پر نورو داسي شیانو باندي چي پر هغه باندي د بیرغ د جوړولو ضرورت نه وي خو بیا هم ډېر داسي مسلمانان وي چي پر لباس باندي د کفارو د ملکو بیرغونه وي او د ملک بیرغ دا د هغه ملک یا وطن علامه او نښاني وي او د کفارو د ملکو بیرغونه پر خپلو لباسو باندي جوړول یا داسي لباس اغوستل چي پر هغه باندي د کفارو د هیواد بیرغ وي د مسلمان د اسلامي غیرت خلاف دي او بل دا چي په حقیقت کي د کفارو د بیرغ

---

۱: من تشبه نفسه بالکفار مثلاً فی اللباس و غیره او بالفساق او بالفجار ... فهو منهم فی الاثم والاخیر (مرقات: کتاب اللباس، ج ۸، ص ۱۵۵).

ان الصلیب شعار یختص بالنصاری و هو أمر عبادة لدیهم ... و لبس المسلم له یعدرضیاً بالانتساب الیهم ... و لبس الصلیب فیه اظهار من لابسه لموافقة النصاری فی رعمهم انهم قتلوا عیسی علیه السلام و هذا مناف لصریح القرآن، حیث یقول الله تعالی: و ما قتلوه و ما صلبوه و لکن شبه لهم (احکام تجمیل النساء: ص ۳۴۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکي لباس اغوستل یو ډول د دوی سره نفرت نه کول دي او د اسلامي ښځو سره محبت نه کول دي او نبي کریم ﷺ چي د صلیب او د شرک نښي ماتولې او بیا د نبي کریم ﷺ دا فرمان چي خبردار د مشرکانو دزیم ... ځخه ځان وساتئ.(١)

لهذا معلومه سوه چي د مسلمان لپاره دا ډول لباس اغوستل مناسب نه دي چي پر هغه باندي د کفري هیوادو بیرغونه وي او دا عمل د اسلام د غیرت خلاف دئ.

**که پر لباس باندي تصویر (عکس) وي نو څه به کوي؟**

که پر لباس باندي یا بل د اغوستلو پر شي باندي یا په کور کي د ځړولو یا ایښوولو پر شي باندي تصویر (عکس) وي نو اول خو دي یې لیري کړي او د ایښودلو او استعمال ځخه دي یې پرهېز وکړي. دا بهتر او ښه کار دئ او که یې لیري کول یا ضایع کول ناممکن وي د هغه شي استعمال ضروري وي نو بیا دي په لاندي طریقو کي په یوه طریقه باندي عمل وکړي:

**اول:**

د تصویر (عکس) سر دي ورڅخه پرې کړي ځکه علماء فرمایي چي کله د تصویر سر ورڅخه پرې سي نو د هغه ممانعت ختمېږي(٦٧).

**دوهم:**

د تصویر (عکس) هیئت دي ورخراب کړي که څه هم نیمی پاته سي.

**دریم:**

یا دي د هغه لباس استعمال پرېږدي یا دي داسي کار ورڅخه واخلي چي په هغه کي د تصویر توهین راسي.

**څلورم:**

یا دي پر تصویر (عکس) باندي یو شی وموږي چي د تصویر هیئت ختم

---

١: و ایاکم والتنعم وزی اهل الشرک (صحیح مسلم: ص ١٩١، ج ١).

(٦٧) (فتح الباري: ج ١٠، ص ٣٨٨).

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي يا يې هيئت معلوم نه سي.

دا ډول که د صليب تصوير وي يا د صليب مجسمه وي نو تصوير دي خراب کړي او که يې مجسمه وي نو بيا دي يې ماته کړي.

که د صليب نښان پر لباس باندي وي نو د لباس څخه دي يې خراب کړي که څه هم د صليب نښان پر قالين، غالى، فرش باندي وي بيا يې هم خرابول ضروري دي، ځکه چي د صليب نښان د تصوير څخه ډېر شنيع او بد دئ.(۱)

**د نوروز د ورځي په نيت د نوي لباس د اغوستلو حکم:**

نوروز چي د حمل اول تاريخ دئ، او مهرجان چي د ميزان اول تاريخ دئ، دا هغه دوې ورځي دي چي د جاهليت په زمانه کي لمانځل کېدلې نو کله چي نبي کريم ﷺ مديني منورې ته تشريف راوړی د مديني منورې خلکو دغه ورځي لمانځلې، يعني په دغو ورځو کي يې خوشحالۍ کولې او مېلو ته به خلک تلل، نوي لباسونه به يې اغوستل او داسي نور، نو نبي کريم ﷺ د دوی څخه پوښتنه وکړه چي دا څرنګه ورځي دي؟

دوی وويل، چي د جاهليت په زمانه کي موږ په دغو دوو ورځو کي خوشحالۍ کولې.

پيغمبر ﷺ وفرمايل: په تحقيق سره الله تعالى د دغو دوو ورځو په بدل کي بهتره او خيرتر دې درکړي دي يوه د لوی اختر ورځ بله د کوچني اختر ورځ ده او د دې څخه وروسته بيا هم کفار په دغو ورځو کي خوشحالۍ کولې او لمانځلې يې، آن تر نني زمانې پوري چي په اوسنۍ زمانه کي بعضې کمزوري مسلمانان يې هم په دا ډول لمانځي چي نوي لباسونه کوي، يو تر بله مهمانۍ سره کوي حتى چي بازارونه بند وي، يو تر بله د دغو ورځو مبارکي سره ورکوي، دا ټول د کفارو، مجوسيانو، مشرکينو او شيعه ګانو رواجونه دي.

لهذا د مسلمانانو لپاره دا ورځي لمانځل نه دي په کار او په دغو ورځو

---

۱: ان کانت الصورة الذرات الارواح و هى فى لباسها ... ان تقطع رأسها ... ان تفرق هيئتها ... ان تغير من استعمالها ... او بقطع رأس فلا امتناع (احکام تجميل النساء: ص ۳۴۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي په دې نيت چي د نوروز اوله ده نوي لباسونه ځان ته او اولادو ته کول دا ډول مبارکي سره ورکول جائز نه دي.(۱)

**د نقش او کشيده کاري لرونکي لباس حکم:**

لباسونه مختلف رنګونه لري هر رنګ ځان ته زينت لري او د لباس د لا زينت او ښايست لپاره ښځي پر لباسو باندي د کشيده کارۍ کار يا د ګلدوزۍ کار کوي او د ښځو دا ډول لباسونه خوښ دي.

لهذا د ښځو لپاره نقش او کشيده کاري سوی لباس اغوستل جائز څه بلکي افضل او ښه کار دئ، خو په دې شرط چي د شريعت مقدسه د اصولو مطابق وي.(۲)

**د دستکلو او جرابو د استعمال حکم:**

ښځي اکثر اوقات د خپل لباس سره د حجاب (چادرۍ) د اغوستلو پر مهال دستکلې په لاسوي او جرابي په پښو کوي، که د دستکلو او جرابو د استعمال نيت د خپلو لاسو او پښو د زينت پټول وي، نو د دستکلو او جرابو استعمال جائز خو څه بلکي په اوسنۍ زمانه کي اولی او بهترين کار دئ.

البته که چيري د دستکلو او جرابو رنګ او پر هغو باندي نقش او نګار دا ډول وي چي په ورته کتلو سره څوک ورته متوجه کېږي نو بيا د دا ډول دستکلو

---

۱: (مشکوة: ج ۱، ص ۱۲٦ – مرقات: ج ۳، ص ۵۴۳).
قال المظهر فيه دليل على ان تعظيم النيروز والمهرجان و غيرهما اى من اعياد الكفار منهى عنه.
والاعطار باسم النيروز والمهرجان لايجوز (مجموعة الفتاوى: ج ۲، ص ۲۹۲).
و يخروجه الى نيروز المجوس لمرافقته معهم فيها ... و باهدائه ذلک اليوم للمشرکين و لو بيضة تعظيماً کذلک (هنديه: ج ۲، ص ۲۷٦).

۲: لا بأس بلبس الثياب الجميلة اذا کان لا ينکر عليه فيه (البحر الرائق: ج ۸، ص ۳۴۹، کتاب الکراهية).

(c) ketabton.com: The Digital Library


او جرابو استعمال جائز نه دئ(۱)

**په عده کي د ښايسته لباس اغوستل جائز دي؟**

د هغو ښځو لپاره چي خاوند يې مړ سوی وي يا خاوند دا طلاقه کړې وي تر څو چي د خاوند د مرګ يا د طلاق عده تېره سوې نه وي نو د داسي ښځي لپاره ښايسته لباس اغوستل يا د ښايست شيان استعمالول جائز نه دي(۲)

**د ښځو لپاره د وريښمو لباس اغوستل جائز دي؟**

د وريښمو استعمال د ښځو لپاره جائز دئ که وريښم اصلي وي که مصنوعي وي، که يې ډېر استعمالوي که لږ، په هر صورت کي د ښځو لپاره د وريښمين لباس اغوستل جائز دي.

البته د نارينه وو لپاره که لوی وي که کوچني وي بلا عذره د وريښمين لباس اغوستل جائز نه دي(۳)

**د لويو او کوچنيو نجونو په لباس کي فرق سته؟**

هغه لباسونه چي د هغو اغوستل د لويو ښځو لپاره په يوه وجه د وجوهاتو په شرعت کي منع سوي وي د کوچنيو نجونو لپاره څه فرق لري:

**اول:**

يو هغه لباسونه دي چي د لويو ښځو ښخه په دغه وجه منع سوي وي چي هغه ډېر باريک يا لنډ يا پر بدن باندي چسپ وي او يا داسي نور. د دا ډول لباس په هغو نجونو اغوستل چي عمر يې د نهو کلونو ښخه کم وي يا د فتنې

---

۱: و ثانيهما: ما يقصد به مستر القدم عن النظر اليها و هو الجورب او النعل ان کان من النوع الساتر (تجميل احکام النساء: ۲۳۱ مخ).

۲: عن ام سلمة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال المتوفی عنها زوجها لا تلبس المعصفر من الثياب ولا المشطة ولا الحلی و لا تخصب ولا تکتحل، (مشکوة: ۲۸۶ مخ).

۳: و يحل للنساء لبس الحرير ولا يحل للرجال، (مجمع الانهر: کتاب اللباس، ج ۴، ص ۱۹۴). يکره لبس الحرير للذکور صغيراً کان او کبيراً، (الفتاوی السراجيه: باب فی اللبس، ص ۷۵، سعيد).

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېره د ډېر کوچنيوالي په خاطر نه وي نو اغوستل يې جائز دي، البته چي آينده د دغو کوچنيو نجونو تربيه او عادت خرابېږي يا په لوی والي کي يې دا ډول لباس عادت جوړېږي نو ځکه يې اغوستل مناسب نه دي.

**دوهم:**

هغه لباسونه چي د هغو اغوستل په دغه وجه منع سوي وي، چي پر هغو باندي د ذي روح شيانو تصويرونه (عکسونه) وي يا د صليب تصوير (عکس) وي او يا داسي نور نو د دغه لباس اغوستل په کوچنيو اولادو باندي جائز نه دي، لکه څرنګه چي د لويانو نارينه او ښځينه وو لپاره يې اغوستل جائز نه دي بلکي که څوک په کوچنيو اولادو باندي دغه ډول لباسونه واغوندي نو د هغو ګناه هم پر اغوستونکو (پر مور او پلار) باندي ده.

لهذا اول ډول لباسونه په اولاد باندي اغوستل مناسب نه دي او دوهم ډول لباسونه په اولادو باندي اغوستل جائز نه دي که يې په واغوندي ګناه يې پر اغوستونکو باندي ده.[1]

# د لباس آداب

د لباس د اغوستلو د آدابو څخه څه آداب د ښځو لپاره په لاندي ډول ذکر سوي دي:

(۱)

## د لباس په اغوستلو کي ښه نيت

تر ټولو دمخه د لباس د اغوستلو پر وخت ښه نيت خپلول چي زه کوم لباس

---

[1]: اما الصبيان: فان كان مميزاً غير ذی شهوة فله نظر ما فوق السرة و ما تحت الركبة اذ انه لا شهـ [illegible] له اشبه الطفل ... و لا يجب لاستتار عمن هو دون سبع سنين فی امر من الامور (احكام تجميـ[illegible]: ص ۱۰۲).

و ما يكر[illegible] لبسه يكره للغلمان والصبيان ... ولاثم على من البسهم لانا امرنا بحفظهم، (هنديه: ج ۵، ص [illegible]۳۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library


اغوندم د دغه مقصد د ستر پټول دي او د الله تعالی د نعمت اظهارول او ښکاره کول دي، چي الله تعالی ما ته د داسي لباس د اغوستلو توفیق راکړی او د رانیولو قدرت یې راکړی دئ، چي د هغه په وجه سره زه خپل خاوند ته په ښه ښایسته شکل او صورت کي ښکاره سم:

ان الله یحب ان یری أثر نعمته علی عبده.

بېشکه چي الله پاک خوښوي چي د ده ورکړل سوي نعمتونه پر خپل بنده باندي وویني (۱).

(۲)

## د لباس د اغوستلو دعا

د لباس د اغوستلو پر وخت د لباس دعا کول او تر ټولو مختصره او بهتره دعا په لاندي ډول ده:

اَلْحَمْدُلله الَّذِیْ كَسَانِیْ هَذَا الثَّوْبَ وَ رَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّیْ وَ لاَ قُوَّةَ.

ترجمه:

ټوله ثنا او صفت الله تعالی لره ثابت دي، هغه الله چي ما ته یې دغه لباس را اغوستی دئ، او زما بېله طاقت او استعداد یې ما ته راکړی دئ (۲)

(۳)

## لباس اغوستل د راسته طرفه څخه شروع کول

د لباس د اغوستلو پر وخت د راسته طرفه څخه شروع کول یعني د قمیص د اغوستلو پر مهال اول راسته لستوڼی اغوستل او د پرتوګ اول راسته پایڅه په پښه کول، د نبي کریم ﷺ سنت او د لباس آداب دي (۳)

(۴)

---

۱: ترمذي: کتاب الادب، ج ۲، ص ۱۰۹

۲: (ابو داود: کتاب اللباس، ج ۲، ص ۵۵۸).

۳: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَبِسَ قَمِيصًا بَدَأَ بِمَيَامِنِهِ (ترمذي: كتاب اللباس، ج : ٦ ص : ٣٩٠ ، ط : المكتبة الشاملة ورقم الحديث : ١٦٨٨

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د لباس کښل د چپه طرفه شروع کول

د لباس د کښلو پر مهال د چپه طرفه څخه شروع کول، یعني د قمیص د کښلو پر مهال اول چپه لستوڼی کښل او د پرتوګ د کښلو پر وخت اوله چپه پایڅه کښل سنت او د لباس آداب دي (۱)

## د لباس د کښلو دعا

لباس که د پرېوللو یا د خوب (پرېوتلو) لپاره کښل کېدی نو دغه لاندي ذکر سوې دعا دي ووایي:

بسم الله الذي لا اله الا هو (۲)

(۵)

## د لباس د اغوستلو دمخه په لباس کي کتل

د لباس د اغوستلو دمخه په لباس کي کتل یا لباس ټکوهل د سنت او آدابو څخه دي، ځکه نبي کریم ﷺ فرمایي: څوک چي پر الله تعالی او د آخرت پر ورځ ایمان لري نو موزې دي نه اغوندي تر څو چي ټکوهلی یې نه وي.

تشریح: که څه هم دغه حدیث د الفاظو له رویه د موزو په اړه وارد سوی دئ مګر علماء کرامو د اغوستلو د ټولو انواعو (قسمو) لپاره بللی دئ، ځکه د حشراتو (خزندو) څخه د ځان ساتلو لپاره د اغوستلو په هر شي کي کتل سنت دي (۳)

---

۱: عن ابي هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال اذا انتعل احدکم فلیبدأ بالیمنی و اذا خلق فلیبدأ بالشمال ... (الحدیث). قال نووي رحمه الله فیستحب البداءة بالیسار فی کل ما هو ضد ما یتسحب فیه البدأ بالیمین ... و من ذلک ... والسراویل والکم ... الخ (شرح مسلم للنووي: ص ۷۴ – ۷۵، فتح الباري ص ۳۱۲، ج ۱).

۲: (اذکار النووي: ص ۲۴).

۳: من کان یؤمن بالله والیوم الآخر فلا یلبس خفیه حتی ننفضهما.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦)

## د لباس اوږدوالی

د ښځو لباس پر دوه ډوله دئ، يو مستحب دوهم جائز.

اول د ښځو لپاره مستحب لباس دا دئ، چي قميص يې د پښو (بجلکو) څخه يوه لوېشت لوړ.

دوهم: جائز لباس يې دا دئ، چي د پښو (د بجلکو) څخه يې قميص يو شرعي ګز لوړ وي(١)

(٧)

## په لباس کي د لويي (تکبر) څخه ځان ساتل

تزوير يعني د خلکو په مخکي خپل ځان يا لباس په دا ډول ښکاره کول چي دا ډول لباس يوازي زه لرم، بل څوک يې نه لري او پخپل لباس باندي په باطله طريقه ځان ښايسته کول. دا عمل د لباس د آدابو څخه نه بلل کېږي. بلکي په لباس کي اعتدال او ميانه روي اختيارول په کار دي(٢)

---

و هذا الادب و ان كان لفظه وارداً فى الخف ... عند تطبيقه فى سائر أنواع اللباس (احكام تجميل النساء: ص ٣٥٥).

١: و عن ابن عمر ﷺ قال رخص رسول الله ﷺ لامهات المؤمنين فى الذيل شبراً ثم استزدنه فزادهن شبراً فكن يرسلن الينا فنذرع لهن ذراعاً (ابوداود : كتاب اللباس، ص ٧٧٦، باب فى قدر الذيل).

و قال ابن حجر رحمه الله : والحاصل ان النساء لهن حالان: حال استحباب و هو ما يزيد على هو جائز للرجال بقدر الشبر و حال جواز بقدر الزراع (فتح الباري: ص ٢٥٩، ج ١٠).

٢: عن عائشة رضي الله عنها ان أمراة قالت يا رسول الله ﷺ اقول ان زوجى اعطانى ما لم يعطنى فقال رسول الله ﷺ المتشبع بما لم يعط كلابس ثوبى زور (مسلم: كتاب اللباس والزينة، باب النهن عن التزوير، ص ١٩٢، ج ٢).

والمقصود ان يظهر للناس اتصافه بدالک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸)

### په لباس کي تواضع کول

په لباس کي تواضع (عاجزي) کول خپل ځان د لباس د اغوستلو په ذريعه پر بل باندي لوړ بلل په کار نه دي، او په لباس کي اوسط لباس اغوستل مناسب دي [۱]

(۹)

### پاک لباس اغوستل

د لباس له آدابو څخه يو ادب پاک لباس اغوستل دي، ځکه چي کله لباس خيرن سي نو پرېوللې يې په کار دي، او نبي کريم ﷺ يو څوک وليدی چي هغه خيرن لباس اغوستی وو، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: آيا پاکونکی او يا داسي شی دي نه درلودی، چي لباس دي په پرېولی وای [۲]

# د ښځو لپاره مخصوص آداب

حيا د ښځو لپاره زينت ده، نو کله چي د ښځي څخه حيا ورکه (ليري) سي ګويا هر شی ور څخه ولاړل، ځکه حيا د ښځي لپاره خزانه او ښايست ده.

(۱)

### د نارينه وو د مجلس اجازه

ښځه بايد هغه مجلس ته چي په هغو کي نارينه ناست وي اجازه وا خلي که

---

[۱]: التواضع فی اللباس والتوسط فيه، فيستحب التواضع و ترک الترفع فی اللباس تواضعاً (تجميل احکام النساء: ص ۳۵۸).

[۲]: عن جابر بن عبدالله اتانا النبی ﷺ فرأى رجلاً شعثا ... و رأى رجلا آخر عليه ثياب وسخة فقال اما کان هذا يجد ماء يغسل به ثوبه (ابو داود: کتاب اللباس، ص ۳۳۲، باب فی غسل الثوب).

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه هم وروڼه یې وي او خصوصاً د پرپوتو (خوب) په وخت کي.

(۲)

## په کښته اواز خبري کول

ښځه باید په کښته آواز همیشه خبري وکړي که څه هم د غضب (درد) پر وخت وي.

(۳)

## دلاري پر کناره تلل

ښځه چي کله د یو ضرورت لپاره د کور څخه ووزي پر لاري دي د لاري په منځ کي نه ځي بلکي د لاري پر اړخ (کناره) باید ولاړه سي.

(۴)

## په لوړ آواز خندل

خصوصاً ښځه باید په ټلیفون کي یا په عام ځای یا لار کي په لوړ آواز خندا ونه کړي.

(۵)

## په لاره کي په زوره خبري نه کول

د ښځي لپاره په لار کي په زوره خبري کول یا په ګوتو باندي ټکان کول مناسب نه دي.

(۶)

## د لباس او د ناستي په کیفیت کي احتیاط کول

په لباس، تګ او ناسته کي احتیاط کول په کار دي.

(۷)

## په یوازي ځای کي لباس بدلول

ښځه باید د لباس د بدلولو پر مهال په خونه یا بل داسي ځای کي چي دا لباس بدلوي یوازي وي او د هغه ځای دروازه په ځان پسي بنده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸)

### د حمام دروازه ښه بندول

ښځه بايد حمام يا پای خانې (د ضرورت ځای) ته د داخلېدو په صورت کي دروازه ښه بنده کړي.

# دوهم فصل

## د ښځو د سينګار په اړه
## د زينت، جمال او تجمل معنی

**زينت:**

د زينت لغوي معنی د سمولو او ښايسته کولو په معنی ده، په عربي کي (امرأة زائنه) د جوړي سوي ښځي په معنی راځي، چي د هغه مقابل طرف (شين) د خراب سوي په معنی راځي.

د زينت اصلي ماده زين ده، ځکه د ښځي جوړونکي ته مزين ويل کېږي او دا ډول د زينت معنی پر هر هغه شي باندي صادقه راځي چي هغه شی سم سوی وي يا سم سي او د دغه يو لفظ د تزئين هم راځي، چي هغه باب د تفعل دئ، نو زنيت په لغت کي پر يو زائد شي باندي يې اطلاق کېږي، يعني پر اصل شکل او صورت (خلقت) باندي اضافه شي ته زينت ويل کېږي.

لهذا زينت سينګار او ښايسته جوړولو ته ويل کېږي.

**جمال:**

جمال په لغت کي د حسن او ښايست والي په معنی دئ، او د دوی دواړو مقابل لفظ قبح راځي، جمال په خلقت او فعل دواړو کي راځي. د جمال يا ښايسته والي د لفظ اطلاق پر صورت او سيرت دواړو باندي هم راځي، جميل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا ښايسته د مکمل جسم او د حسين صورت درلودونکي حيوان ته ويل کېږي.

يعني جمال د قدرتي حسن نوم دئ او زينت د مصنوعي حسن يا کوم شی چي په مصنوعي ډول پر زيات سوي وي د هغه نوم زينت دئ.

**تجمل:**

د تجمل معنی ده په تکليف سره حسين جوړول يا ښايسته جوړول يا يو شی يا انسان ښايسته کول او مزين کول.

يعني جمال قدرتي حسن دئ چي په هغه کي د اعضاوو (اندامو) خلقتاً برابروالی او صحيح والی هم شامل دئ او دا حسن بېله د يوه شي د اضافه کېدو په يوه شي کي وي او دغه د انسان پيدايښت او اصلي حسن دئ.

که څه هم زينت او سينګار ته اصلي حسن ويل سوي دي ځکه قرآنکريم د اصلي حسن بعضو شيانو ته زينت ويلي دي لکه په سورة نور کي په آيت نمبر (۵۹) کي د (غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ) څخه زينت او حسن اصلي مراد دئ.

او په بعضو احاديثو کي بيا د زينت څخه اضافي شيان لکه زېور، د ورېښتانو رنګ او نازک لباس مراد سوي دي (۱)

**د زينت او جمال فرق:**

**اول:**

د جمال لفظ يوازي تر هغه پوري خاص وي چي جمال (ښايست) يې اصلي پيدائشي وي بل شی پر زيات سوی نه وي.

د زينت لفظ د اصل خلقت حسن (ښايست) ته هم شاملېږي او چي يو شی پر زيات سوی وي هغه ته هم شاملېږي.

**دوهم:**

جمال خلقتي (پيدائشي) وي او زينت کسبي وي.

---

۱: تفسير ابن کثير: ج ۷، ص ۲۴۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته کله پر زينت باندې د زينت خلقتي (پيدائشي) اطلاق کيږي خو د هغه څخه (جمال خلقتي) مراد وي.

**د تجمل او تزين فرق:**

تزين، تجمل او تحسين د بعضو پر رايه باندې درې سره هم معنی دي، يعني ښايسته جوړول، د هغه کوښښ کول او د ښايست والي اسباب استعمالول، لکه د زيوراتو استعمال، د وريښتانو رنګ او داسې نور ... او د بعضو پر رايه باندې تزين او تجمل يو څه فرق لري، تزين هغه ښايست ته ويل کيږي، چې پر اصل ښايست باندې زياتوب سوی وي خو بيا هم د اصل څخه جلا وي.

د مثال په توګه الله تعالی فرمايي: وَزَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ. (سوة الملک: ۴آيت)

ترجمه: موږ د دنيا آسمان ښايسته کړی دئ په ستورو باندي.

او تجمل هغه ښايست ته ويل کيږي، چې پر اصل ښايست باندي څه زياتوب سوی وي او زياتوب د اصل سره متصل وي، د مثال په توګه الله تعالی فرمايي، وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ. (تغابن: ۲)

يادونه:

پورتنی تحقيق له لاندي کتابونو څخه اخيستل سوی دئ:(۱)

**زينت او سينګار د شريعت له نظره:**

زينت او سينګار د ښځي فطري حق دئ، ميک اپ کول، ځان ښايسته کول د ښځي د فطرت سره موافق دي، ځکه هره ښځه طبعاً حسن او جمال خوښوي او هره ښځه غواړي چې زه ښه وايسېږم.

اسلام د ښځي د دغه فطري خواهش مخالف نه دئ، بلکي دا غواړي چې

---

۱: لسان العرب: ج ۱۱، ص ۱۲۵ – ۱۲٦. القاموس المحيط: ج ۳، ص ۳۵۱. په حواله د تجميل احکام للنساء: ص ۷۵. الموسوعة الفقهيه: ج ۱۱، ص ۴۰۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور ښه منظم سي او خصوصاً چي د ښایست والي او د سینګار کولو هدف یې یوازي د هغه چا لپاره سي چي په ټوله ژوند کي د دې سره په ژوند کي شریک دئ او د هغه لپاره ځان ښایسته کول او سینګارول ضروري او لازمي دي.

لیکن په اوسنۍ زمانه کي نوي نوي فېشنونه راغلل او په هغو کي یو تر بله په مخکي کېدو کي تېزوالی شروع سو.

آن تر دې چي ښځي د سینګار او ښایست تر حدودو ووتلې که څه هم اسلام د ښځو د سینګار مخالف نه دئ البته دومره ضرور غواړي چي ښځه دي په سینګار او ښایست کي د شرعي حدودو څخه دباندي نه وزي او د سینګار کولو لپاره دغه لاندي ذکر سوي خبري په پام کي درلودل د سینګار د جواز لپاره ضروري دي:

۱. د نامحرم په مخ کي به سینګار نه کوي یا د هغه په مخ کي به د سینګار په حال کي نه تېرېږي.

۲. سینګار به د اسراف په توګه نه وي یعني په سینګار کي به غیر ضروري زائد شیان نه استعمالوي.

۳. سینګار به د ریاکارۍ او د همعصرو ښځو د مقابلې لپاره نه وي.

۴. سینګار به په شرعي حدودو کي وي د شرعي حدودو تر دائرې به نه وي وتلی.

او نبي کریم ﷺ فرمايي: هره سترګه زناکوونکې ده، ښځه چي کله عطر (خوشبویي) ووهي نو وروسته دباندي ووزي د (نارینه وو) د مجلس سره تېره سي هغه داسي یعني لکه زانیه ده ([1])

الله تعالی جل جلاله فرمايي:

وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ (سوة الانعام: ۱۴۰آیت)

ترجمه: تاسي اسراف مه کوئ، ځکه الله پاک جل جلاله اسراف کوونکي نه خوښوي.

---

[1]: الترغیب والترهیب: ج ۳، ص ۸۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او الله تعالی ښځي په دې باندي مکلفي کړي دي چي خپل زینت به د نامحرمو نارینه وو په مخ کي نه ښکاره کوي او د دنیا ټوله نارینه او ښځینه پر دې خبره موافق دي چي د ښځي د زینت او سینګار او ښایست اصلي ځای او مرکز یوازي مخ دئ، ځکه مخ د ښځي هغه ځای دئ، چي تر نور بدن په مخ باندي ډېر مصرف کوي او د انسان ښایست هم خصوصاً په مخ کي وجود لري.

قرآنکریم هم ښځو ته د مخ د نه لڅولو حکم کړی دئ، او د ښځي لپاره په لڅ مخ د نامحرمو نارینه وو مجلس ته راتګ نه دئ جائز کړی او که زینت او سینګار وکړي بیا د نامحرمو نارینه وو مجلس ته راتګ خو بالکل جائز نه دئ.(۱)

یوه مؤمنه حیاداره ښځه چي د هغې په زړه کي یوه ذره ایمان موجود وي د نامحرمو نارینه وو مخ ته بیا چي زینت او سینګار یې هم کړی وي نه راځي.

د ښځي تګ د نامحرمو نارینه وو مجلس ته چي زینت او سینګار یې هم کړی وي د څه مقصد لپاره ځي؟ او د زینتي او سینګار کړي ښځي تېرېدل د نامحرمو نارینه وو په مخ کي څه مقصد دئ؟

لهذا د مؤمني حیاداري ښځي لپاره د زینت او سینګار سره د نامحرمو نارینه وو مخته راتګ او په سینګار کي اسراف کول یا په سینګار کي یو تر بله مقابله کول او په سینګار کي د شرعي حدودو څخه وتل دغه ټوله کارونه د ښځي او د هغې د کور او معاشرې لپاره نقصان رسوونکي کارونه دي.

**د سینګار کولو شرطونه:**

ځرنګه چي ځان ښایسته کول یا سینګارول د ښځي طبیعي غوښتنه ده، خو شریعت مقدسه د ځان ښایسته کولو او سینګارولو لپاره څه شرطونه مقرر کړي دي، د هغو شرطو مطابق یې د ځان د ښایسته کولو او سینګارولو جواز ورکړی دئ.

---

۱: وَقُل لِلمُؤمِنَات يَغضُضنَ من أبصَارهنَ وَيَحفَظنَ فُرُوجَهُنَ وَلاَ يُبدِينَ زِينَتَهُنَ إلاَ مَا ظَهَرَ مِنهَا وَليَضرِبنَ بِخُمُرِهِنَ عَلى جُيُوبِهِنَ وَلاَ يُبدِينَ زِينَتَهُنَ ...... النور اية ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه شرطونه په لاندې ډول ذکر کېږي:

**اول:**

خپل زينت به پټوي او خپل زينت به بل نامحرم ته نه ښکاره کوي، ځکه الله تعالى فرمايي:

وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ (۱)

ترجمه: او دوی دي خپل زينت او ښايست نه ښکاره کوي مګر هغه چي ښکاره کېږي د هغه څخه (لکه پوړنی يا لباس) او دوی دي پر خپلو ګرېوانو باندي خپل پوړني واچوي.

او دا ډول بل ځای الله تعالى فرمايي:

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى....(۲)

ترجمه: او قرار ونيسئ (اې ښځو واوسېږئ) پخپلو کورونو کي او مه ښکاره کوئ (خپل ښايست بېګانه خلکو ته) د مخکنيو جاهلو (ښځو) په ډول د (ښايست) اظهار مه کوئ.

**تشريح:**

د اسلام تر راتګ مخکي د جاهليت په زمانه کي به ښځي بې پردې ګرځېدلې او د خپل بدن، لباس، ښايست او سينګار ښکاره کول او ښوول به يې په علانيه ډول سره کوله، دغه بد اخلاقي او بې حيايي د اسلام مقدس دين ناجائز او حرام وګرځوله او ښځو ته يې واضح حکم صادر کړ چي دوی دي پخپلو کورونو کي هستوګنه وکړي او د جاهليت د زمانې په شان دي د باندي نه وزي او نه دي د خپل حسن، جمال او سينګار نمايش او ښودنه کوي.

**دوهم:**

خپل زينت او سينګار د خپلو محارمو ماسوا بل چا ته ښکاره کول جائز نه دي، بلکي د ښځو لپاره ضروري دا دي چي د زينت او سينګار په کولو کي نيت

---

۱: سورة النور: ۳۰ آيت

۲: سورة الاحزاب: ۳۳ آيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاص د خپل خاوند د خوشحاله کولو او د خاوند د نظر، فکر او زړه د راجلبولو لپاره وکړي او د زینت او سینګار کولو مقصد هم د خاوند نظر او فکر ځانته را اړول دي.

لکه څرنګه چي الله تعالی په قرآنکریم کي فرمایي:

وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ (سورة النور: ۳۰ آیت)

ترجمه: او نه دي ښکاره کوي خپل مخ زینت ښایست (او ځای د ښایست) (هیچا ته) مګر د خپلو مېړونو (خاوندانو) لپاره (چي دغه د هغه دي) یا خپلو پلرونو (او نیکه ګانو) یا د خاوندانو پلرونو یا خپلو زامنو (او لمسیانو) ته یا د خپلو خاوندانو زامنو ته یا خپلو ورونو ته یا خپلو د ورونو زامنو ته یا د خپلو خوندو زامنو ته یا خپلو ښځو ته یا هغه چا ته چي دوی یې مالکاني سوي وي یا د هغو نارینه وو څخه چي (ښځو ته) احتیاج (اړتیا) نه لري یا هغو هلکانو ته چي دوی د ښځو په اسرارو نه وي خبر.

**تشریح:**

ښایست او سینګار عرفاً خارجي او کسبي ارائش ته ویل کېږي، چي هغه د لباس یا زېور او نورو شیانو څخه حاصلېږي، ځکه چي د زیبائش (ښایست) لفظ هر قسم خلقي او کسبي زینت ته شامل دئ، او د ښایست پخپل ځان کي که څه هم څو درجې لري لهذا ښځو ته د خپل هیڅ قسم خلقي یا کسبي ښایست د خپلو محارمو سوا بل چا ته ښکاره کول او اظهارول جائز نه دي.

البته په دغو محارمو کي هم د مراتبو فرق سته، مثلاً هغه زینت او ښایست چي دا یې د خپل مېړه (خاوند) په مخ کي ښکاره کولای سي هغه د نورو محارمو په مخ کي نه سي څرګندولای.

**یادونه:**

د محارمو پېژندنه او د هغو تفصیل د مؤلف په هغه رساله کي چي (د ښځي د پردې شرعي حدود) په نامه ده وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دريم شرط:**

دا دئ چي هغه هم ډېر مهم شرط دئ چي اکثره ښځي په اوسنۍ زمانه کي ورڅخه ناخبره دي هغه دا چي ښځي دا فکر کوي چي موږ خو ښځي يو هم مثل يو او د نارينه په ډول شهوت موږ نه لرو، لهذا يوه ښځه د بلي ښځي ټوله بدن ته کتلای سي، بلکي داسي نه ده، ځکه د ښځي لپاره مطلق خپل زينت و خپل خاوند ته ښکاره کول جائز دي، بل چا ته په هغه اندازه باطني زينت ښکاره کول که څه هم ښځو ته وي جائز نه دي.

نبي کريم ﷺ فرمايي، چي: يو نارينه دي د بل نارينه عورت ته نه ګوري او يوه ښځه دي د بلي ښځي عورت ته نه ګوري، او دا ډول دوه نارينه دي په يوه بستره کي نه پرېوزي او نه دي دوې ښځي په يوه بستره کي پروزي[1]

**څلورم شرط:**

دا دئ چي په سينګار کي به يې داسي شی نه وي استعمال کړی، چي د هغه په کولو سره ښځي ته د نارينه وو نظر او فکر ور واوړي، لکه پايزېبونه په پښو کول، ځکه د جاهليت په وخت کي به ښځو پايزېبونه په پښو کول نو کله چي به يې تګ کاوه نو د پايزېبو آوازونه نارينه وو اورېدل نو نارينه به يې ځان ته متوجه کړ، يا د خوشبويۍ (عطرو) په وهلو (لګولو) سره و ښځي ته د نارينه وو فکر کېږي، خصوصاً چي ښځه بيا د کور څخه ووزي.

نبي کريم ﷺ د دغه ډول عمل کوونکو ښځو په باره کي فرمايي:

عن ابى موسى رضي الله عنه عن النبى ﷺ قال: كل عين زانية، والمرأة اذا استعطرت فهرت بالمجلس فهى كذا كذا يعنى زانية (۲)

ترجمه: د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: هره سترګه زنا کوونکې ده، ښځه چي کله عطر (خوشبويي) ووهي نو پس دباندي ووزي د نارينه وو د مجلس سره تېره سي هغه داسي ده يعني

[1]: (مسلم: كتاب الحيض، باب التحريم النظر الى العورات).

[2]: (الترغيب والترهيب: ج ۳، ص ۸۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه زانیه ده.

**پنځم شرط:**

د مسلماني ښځي د زينت او سينګار لپاره يو شرط دا دئ، چي په زينت کي به يې د نارينه وو سره مشابهت نه وي کړی يا په سينګار او زينت کي به يې داسي شی نه وي استعمال کړي چي هغه د نارينه وو سره خاص وي يا په زينت او سينګار کي داسي يو عمل اختيار کړي چي هغه عمل په نارينه وو پوري خاص وي. ځکه حضرت ابن عباس ﵄ فرمايي، چي نبي کريم ﷺ لعنت کړی دئ پر هغو ښځو باندي چي د نارينه وو سره يې مشابهت کړی وي او پر هغو نارينه وو باندي چي د ښځو سره يې مشابهت کړی وي.

او دا حديث شريف يوه قاعده ده د مشابهت د نه جواز په باره کي او هغه مشابهت که په لباس کي وي يا په زينت او سينګار کي وي او يا په داسي نورو عملونو کي (۱)

**شپږم شرط:**

دا دئ چي په زينت او سينګار کي به يې يو ناجايز عمل نه وي اختيار کړی، مثلاً د سر د کوڅيو پرې کول (په هغه اندازه چي د نارينوو سره مشابهت راسي)، يا وروځي کول يا د بلي ښځي وريښتان پر خپل سر باندي ايښوول يعني مښلول او داسي نور.

که څه هم د خاوند لپاره زينت او سينګار کول اولی او ښه کار دئ، خو هغه زينت او سينګار به يې د شريعت مقدسه مطابق وي البته که خاوند د هغې دزينت او سينګار غوښتنه کوله چي هغه په شريعت مقدسه کي جواز نه درلودی نو د خاوند لپاره دي د شريعت حکم نه پرېږدي.

---

[1]: لعن رسول الله ﷺ المشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال (بخاري: كتاب اللباس، ج: ١٨ ص: ٢٣٩، ط: المكتبة الشاملة ورقم الحديث: ٥٤٣٥).

و هذا الحديث اصل فى عدم جواز تشبه الرجال بالنساء والعكس فى اللباس والزينة (احكام تجميل النساء، ص ١٠٨).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نبي کريم ﷺ فرمايي، چي د مخلوق اطاعت (پيروي) د الله تعالى په ناراضي کي مه کوئ.

عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ(۱)

او په يو بل حديث شريف کي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي، چي: لعنت دي وي پر هغه چا باندي چي ورېښتان ايږدي يا وراېږدي يا وروځي کوي يا يې ورکوي (۲)

**اووم شرط:**

په زينت او سينګار کي به يې د کفارو يا فاسقانو يا اهل کتاب ښځو سره مشابهت نه وي اختيار کړی او د مسلماني ښځي د زينت او سينګار په باره کي دا يو لوی شرط دئ، ځکه په دغه شرط سره د مسلماني ښځي فرق د فاسقانو او فاجرانو ښځو سره راځي.

او مسلماني ښځي ته الله تعالى د دنيا په ټولو ښځو کي يو خاص امتياز ورکړی دئ مسلمانه ښځه د عامو ښځو په ډول نه ده، بلکي د مسلماني ښځي مرتبه ډېره لوړه ده او هغه د هغه چا څخه بېزاري اختياروي چي د الله تعالى د احکامو لحاظ او مراعت نه کوي، که څه هم بعضي مسلماني ښځي له دغه شرط څخه غافلي دي الله تعالى دي دوی ته هدايت ورنصيب کړي (۳)

**اتم شرط:**

په زينت او سينګار کي به داسي شيان نه استعمالوي چي په هغه سره د چا صحت، شکل او صورت او بدن ته نقصان ورسېږي او په داسي شي باندي به د زينت او سينګار نه کوي چي آينده نور تاوانونه را منځته کړي.

---

۱: مسند احمد ج: ۳ ص: ۴۷ ط: المکتبة الشاملة

۲: واشمه والمشتوشمه ... الخ (بخاري: کتاب النکاح، باب لا تطيع المرأة).

۳: و هذا شريط عظيم فى زينة المرأة المسلة و به تتميز عن اهل الفسق والخنا و الفجور ... و هذا الشرط افعل کثراً فى مجتمعات النساء اليوم (احکام تجميل النساء: ص ۱۱۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نبي کريم ﷺ فرمايي: لاضرر و لا ضرار ... (۱)

دا حديث د زينت او سينګار په سلسله کې يو لوی اصل او قانون دئ، چې د هر هغه شي چې د هغه استعمال نقصان رسوونکی وي په هيڅ صورت کې يې استعمال جائز نه دئ، ځکه شريعت مقدسه د انسانانو د نفع د ډېرښت او د مفاسدو د کمښت ختمولو لپاره راغلی دئ.

الله تعالی چې کوم شيان حرام کړي دي د هغو يوازې او يوازې لامل دا دئ، چې په حراموالي کې د انسانانو د دنيا او آخرت نفع او ګټه وي که څه هم بعض وختونه د حراموالي حکمت زموږ څخه پټ وي. (۲)

**نهم شرط:**

دا دئ چې د شهرت د لباس څخه به پرهېز کوي، د شهرت د لباس څخه مقصد دا دئ چې د دومره زيات قيمتي لباس اغوستل چې د هغه په اغوستلو سره شوک په عامو خلکو کې جلا معلومېږي.

يا په بل عنوان باندې د شهرت لباس داسې لباس اغوستل چې ډېر کم قيمته او په اغوستلو سره يې شوک په عامو خلکو کې جدا معلومېږي، او دا هم يو ډول شهرت دئ.

او د هر ډول شهرت د لباس اغوستونکو لپاره د نبي کريم ﷺ د حديث ارشاد داسې فرمايي:

نبي کريم ﷺ فرمايي چا چې د شهرت لباس واغوستی د قيامت په ورځ به الله تعالی هغه ته د ذلت لباس ور واغوندي او بيا به په هغه کې اور ولګېږي.

**تشريح:**

په حديث شريف کې د شهرت څخه مراد دا دئ چې د شي ظاهروالی او ښکاره والی د دې لپاره چې په خلکو کې مشهوره سي او د شهرت اندازه د

---

۱: (ابن ماجه: کتاب الاحکام ص ۷۸۴، ج ۲، باب من بنی فی حقه ما يضر لجاره).

۲: ان شريعة الاسلاميه جاءت بجلب المصالح والمنافع وتکثيرها و دفع المفاسد والتقليل منها ... و الاصل فی هذا قول النبی ﷺ لا ضرر و لا ضرار (احکام تجميل النساء: ص ۱۱۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپلي معاشرې او وطن و علاقې د خلکو د عاداتو څخه معلومېږي، چي د هغو د رواج او عاداتو څخه ډېر قیمتي یا کم قیمته لباس واغوندي، دا شهرت بلل کېږي.(۱)

**لسم شرط:**

د زینت او سینګار د شرطو څخه یو شرط دا دئ، چي پر مسلماني ښځي باندي دا لازمه ده چي په زینت او سینګار کي اعتدال وکړي، د اسراف څخه ځان وساتي، ځکه په اعتدال نه کولو سره څوک تبزیر او اسراف ته رسېږي او د دې بېره هم سته چي څوک دي په تکبر او لویي کي اخته سي او خپل مقصد چي محض زینت وو هغه ور څخه پاته سي.

لهذا د اسراف کوونکو او اعتدال نه کوونکو په باره کي د الله تعالی ﷻ ارشاد مبارک دئ(۲):

وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَـٰطِينِ ۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَـٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ﴿٢٧﴾ (سورة اسراء: ۲۶ – ۲۷ آیتونه)

ژباړه: تاسو زیات اسراف مه کوئ، باور وکړئ چي اسراف کونکي د شیطانانو ورونه دي او شیطان خپل رب لره پوره ناشکره دئ.

**یوولسم شرط:**

دا دئ چي په زینت او سینګار کي به یې نیت صحیح وي یعني نیت به یې یوازي د زینت او سینګار کولو نه وي بلکي په زینت او سینګار کي به یې نیت دا وي چي د خاوند په مخ کي ښه و ایسېږم او خاوند خپل حسن او زینت ته

---

۱: من لبس ثوب شهرة فی الدینا البسه الله ثوب مذلة یوم القیامة، ثم الهبة فیه ناراً (ابن ماجه: لبس شهرة من الثیاب، ص ۲۵۷).

۲: ولاتسرفوا انه لایحب المسرفین – لانه لا یحب الاسراف و قد ذکرنا ان المفروض من الستر هو یستربه العورة و اما غیره فانما هو علی دفع الاذی والتجمل (تفسیر الماتریدي، ج ۴، ص ۴۰۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



را جلب کړم او د عامو ښځو په مخکي پاکه صافه معلومه سم. ځکه الله پاک هر چا ته پر نېک نيت باندي اجر او ثواب ورکوي.

نو که ښځه زينت او سينګار په دا نيت وکړي چي خاوند ته ښه معلومه او ښه وايسېږم نو الله پاک پر دغه نيت باندي ثواب ورکوي او دا ډول که ښځه د ښه لباس په اغوستلو کي او په زينت او سينګار کولو کي دا نيت وکړي چي په ښه لباس او زينت کي مي نيت د نورو ښځو ترغيب دئ چي نوري ښځي به هم ښه لباس وکړي چي هغه هم د شريعت موافق سي او د خيرن لباس او خيرن بدن څخه ځان وساتي تر څو چي د لباس او بدن د پاکۍ يې عادت سي که څه هم ډېري ښځي زينت او سينګار کوي او دا ډول ښه ښه لباسونه هم اغوندي خو په کور کي د خاوند لپاره يې نه کوي، بلکي چي دوی يوې ښادۍ ته ځي نو زينت او سينګار کوي په دا نيت چي موږ د نورو ښځو په مخ کي ښې معلومي سو نو په دې نيت دوی اجر او ثواب نه سي پيدا کولای، بلکي دغه نيت د دوی لپاره د لويي او تکبر ذريعه او سبب ګرځي.

لهذا په زينت او سينګار کي ښه نيت مراعتول ضروري دي، ځکه چي اجر او ثواب پر نيت باندي مرتب دئ.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ (سورة لقمان: ۱۸ آيت) (۱)

ژباړه: باور وکړئ چي الله جل جلاله په کبر سره تګ کونکی او فخر کونکی نه خوښوي

---

۱: انما الاعمال بالنيات و انما لکل امرئ ما نوی ... فهجرته الی ما هجر اليه (بخاري: ص ۱، ج ۱).

د تعليم الاسلام ويب پاڼې له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم فصل

## د ښځو د وېښتانو په اړه

### د ښځو لپاره د سر د وېښتانو پرې کول (لنډول) جائز دي؟

خصوصاً د ښځي د جمال او زینت یو جزء په وېښتانو کي هم دئ او د وېښتانو اوږدوالی او ډېروالی د ښځي لپاره د جمال او زینت نښاني ده او بیا خصوصاً په تېره سوې زمانه کي د ښځو لپاره اوږده وېښتان پرېښودل د ښځو پر زینت او جمال باندي دلالت کوي.

آن تر دې چي د صحابیاتو رضي الله عنهن څخه یوې صحابي ام سلمة رضي الله عنها د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه سوال وکړ چي یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! زما د سر کوڅۍ سختي اودل سوي دي نو د جنابت د غسل پر مهال د وېښتانو د کوڅیو خلاصېدل ضروري دي که یا؟

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چي ستا لپاره درې واره اوبه پر سر باندي اچول کافي دي (چي د وېښتانو بېخو ته ورسېږي) بیا پر نور بدن باندي اوبه واچوه نو ته به پاکه سې.

دا حدیث د صحابیاتو د وېښتانو پر اوږدوالي باندي دلالت کوي.

او دا ډول د ازواجو مطهراتو رضي الله عنهن د وېښتانو په باره کي حضرت ابو سلمة رضي الله عنه بن عبدالرحمن روایت کړی دئ، فرمایي چي زه او د حضرت عائشي رضي الله عنها رضعي ورور د حضرت عائشي رضي الله عنها و حضور ته حاضر سوو، نو د حضرت عائشي رضي الله عنها رضعي ورور د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د جنابت د غسل په اړه وپوښتل.

حضرت عائشې رضي الله عنها یو لوښی د پیالې په اندازه راوغوښتی نو دې غسل پکښې وکړ، زموږ او د دې مبارکې په مابین کې پرده وه ... حضرت ابو سلمه رضي الله عنه بن عبدالرحمن فرمایي چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ازواجو مطهراتو وېښتان د وفره (تر اوږو څخه کښته) په اندازه وه.

د دغه حدیث شریف څخه دوې خبرې معلومې سوې اول دا چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ژوند کې د ازواجو مطهراتو وېښتان نه وه پرې (لنډ)، دوهمه خبره دا چې وېښتان د ښځې لپاره یو نوع مهم زینت دئ، خصوصاً چې د ښځې وېښتان څو مره ډېر وي او اوږده وي.

په مخکنیو وختو کې چې به د ښځې خاوند مړ سو نو مېرمن به یې وېښتان کوچني (لنډ) کړه، ځکه چې په زینت کې یې د عدې د تېرېدو تر وخته پورې کموالی راسي.

مګر د څه مودې څخه وروسته هغه عمل (د وېښتانو لنډول) چې د ښځې د بدرنګۍ او د نه ښایست او نه زینت نښانه وه په اوسني وخت کې هغه د زینت او سینګار نښانه جوړه سوې ده.

لهذا د ښځو لپاره د سر د وېښتانو دوفره د اندازې څخه چې تر اوږو د لاندې حصې پورې یې اندازه ده د (صحیح قول مطابق) تر هغه کمول یا لنډول یا د وېښتانو دومره کوچني کول یا لنډول چې د نارینه وو سره یا فاسقو او فاجرو ښځو سره یې مشابهت راسي جائز نه دي، بلکې مکروه تحریمي دي.

که څه هم د خاوند په غوښتنه وي ځکه د الله تعالی ناراضه کول د بنده (مخلوق) د راضي کېدو لپاره جائز نه دي، البته په حج کې یې د ټوله سر د وېښتانو څخه د ګوتې د یوه بند په اندازه پرې کول جایز دي.(۱)

---

[1]: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي فَأَنْقُضُهُ لِغُسْلِ الْجَنَابَةِ قَالَ لَا إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِيَ عَلَى رَأْسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ ، صحيح مسلم ، ج : ۲ ص : ۲۱۸ ط : المكتبة الشاملة ، ورقم الحديث : ٤٩٧

عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَفْصٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ أَنَا وَأَخُوهَا مِنْ الرَّضَاعَةِ فَسَأَلَهَا عَنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځي لپاره د سر د مخ (پېکي) وېښتان پرېکول يا لنډول جائز دي؟**

د سر د مخ د طرف (پېکي) پرېکولو يا لنډولو ته په عربي ژبه کي قـصّه وايي، نو د پېکي په پرې کولو يا لنډولو کي يا کله په اوږدوالي کي د ښځي په زينت يا ښايست والي کي زياتوالی راولي او د ښځي لپاره زينت کول جائز دي.

لهذا د ښځي لپاره د پېکي وېښتان پرې کول يا اوږدول دواړه جائز دي، البته د فاسقو او فاجرو ښځو سره يا د نارينه وو سره به يې مشابهت نه وي کړی.(۱)

**د ښځي لپاره د سر د وېښتانو پرېکول جائز دي؟**

د ښځي لپاره د سر د وېښتانو د پرې کېدو حکم په مخکنۍ مسئله کي ذکر سو او د ښځي لپاره د سر د وېښتانو د تراشلو حکم دا دئ که د سر د وېښتانو پرېکول محض د فېشن او زينت لپاره وي جائز نه دي، البته بعض

---

غُسْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْجَنَابَةِ فَدَعَتْ بِإِنَاءٍ قَدْرِ الصَّاعِ فَاغْتَسَلَتْ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَهَا سِتْرٌ وَأَفْرَغَتْ عَلَى رَأْسِهَا ثَلَاثًا قَالَ وَكَانَ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذْنَ مِنْ رُءُوسِهِنَّ حَتَّى تَكُونَ كَالْوَفْرَةِ ، مسلم كتاب الحيض ، ج : ٢ ص : ٢٠٠ ط : المكتبة الشاملة ورقم الحديث : ٤٨١

فی الدر المختار عن المجنبی اقطعت شعر رأسها اثمت و لعنت زاد فی البزايه و ان يأذن الزوج لانه لا طاقة لمخلوق فی معصية الخالق ... فی الاشباه ... و تمنع من حلق رأسها ای حلق شعر راسها ... ان المراد بحلق راسها ازالته سواء كان بحلق او قص او نتف او نورة فليحرر و المراد بعدم الجواز كراهة التحريم (درالمختار: ، ج : ٦ ص : ٧٢٧،ط: المكتبة الشاملة امداد الفتاوی: ج ۴، ص ۲۲۷ – ۲۲۸).

و فريق يری الا باحة لكنه يشرط عدم التشبه بالرجال والكافر ... و فی هذه الحالة كرهه لها (فتاوی هيئة كبار العلماء: ج ۲، ص ۳۲۹).

۱: و قد شاع فی هذه الآونة ان تقص المرأة شعرها من الأمام فقط و تسمی هذه الطريقة (الـقـصّة) و قد تكون بحيث تغطی الجبهة فقط او اقصر قليلاً او اطول قليلاً و قد اشار الی جواز ذلك بعض العلماء المعاصرين بالشروط السابقه ... الخ.

و فريق يری الاباحة لكنه يشترط عدم التشبه بالرجال ولا الكافرات (احكام تجميل النساء: ص ۱۲۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوقات د سر د وېښتانو سرونه دوه درې (ښاخونه) وکړي او د هغه وجې د سر وېښتان تويېږي نو بيا يې پرېکول جائز دي. يا په وېښتانو کي کله فرق وي بعضي کوچني وي بعضي غټ وي نو د کوچنيو وېښتانو د غټولو لپاره که د کوچنيو وېښتانو سرونه پرېکړي نو هم جائز دي. (۱)

**د ښځي لپاره د ناجوړى يا بل عذر د وجې د سر وېښتان خريل يا ډېر کوچني کول جائز دي؟**

که چيري د ښځي په سر کي يوه داسي ناجوړي پيدا سي چي د هغې تداوي د سر د وېښتانو سره يا د سر د وېښتانو د اوږدوالی سره نه سي کېدای نو د دغه شرعي عذر پر بناء باندي د سر خريل يا د وېښتانو کوچني کول جائز دي تر څو چي دغه ناجوړي ختمېږي او د ناجوړى تر ختمېدو وروسته بيا يې کوچني کول يې جائز نه دي. (۲)

**د فېشن او زينت لپاره ښځي کولای سي چي د سر په وېښتانو کي مختلف ډيزاينونه جوړ کي؟**

ښځه د خپل ښايست او زينت د لا زياتوالي لپاره پخپلو وېښتانو کي هر ډول ډيزاين او اندازه اختيارولای سي، البته د لاندي ذکر سوو شرطونو به مراعت کوي:

۱. د وېښتانو په ډيزاين جوړولو يا د يوې خاصي اندازې په خپلولو کي به د وېښتانو پرېکول يا لنډول نه وي.
۲. د وېښتانو د ډيزاين په جوړولو کي به د يوې کافري يا فاسقي او فاجري ښځي سره مشابهت نه وي کړى يا د هغې سره به يې د مشابهت په نيت دغه انداز نه وي خپل کړی.
۳. د وېښتانو په ډيزاين جوړولو کي به يې نيت خاص د خپل خاوند د

---

۱: فتاوی رحميه: ج ۱۰، ص ۱۲۰.

۲: و لو حلقت المرأة راسها فان فعلت لوجع اصابها لا بأس به و ان فعلت تشبها بالرجل فهو مکروه (هنديه: ج ۵، ص ۴۲۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ښي يا خوشحالۍ لپاره کړې وي.

۴. د وېښتانو په ډيزاين جوړولو کي به دومره وخت نه مصرفوي چي په نورو ضروري او مهمو کارو کي خلل پيدا سي. يا دومره پيسې په مصرف کي چي هغه د اسراف اندازې ته ورسېږي.(۱)

**د ښځي لپاره د سر وېښتان د بوک په ډول پر سر باندي يو ځای کول جائز دي؟**

مخکنيو ښځو د زينت او جمال لپاره يا د خلکو فکر ځان ته د را اړولو لپاره د سر ټول وېښتان به يې پر سر باندي لوړ جمع او بند کړل، نو د سر کيفيت او شکل به د اوښ د بوک په ډول معلومېدی.

د داسي وېښتانو د انداز د خپلونکو ښځو په باره کي نبي کريم ﷺ فرمايي:

دوې طايفې (ټولۍ) د اور د خاوندانو څخه دي، چي هغه دوې ټولۍ ما نه دي ليدلي، د دوی سره داسي څوک وه چي د هغوی سره به د غوا د لکۍ په ډول چلاخي وې په هغه باندي به خلک وهي، د هغه دوو صنفو (ډولو) څخه يو ډول هغه ښځي دي چي لباس يې اغوستی وي مګر لڅي به وې (چي د بدن جوړ به يې ورڅخه معلومېږي، د ډېر تنګوالی څخه يا ډېر نازکوالي څخه).

دوهم صنف (ډول) هغه ښځي چي د خلکو زړونه فحشاء او بدو ته مائلوي، او د دوی مائله کوونکي دي زنا او د هغه لاملونو ته، نو دغو ښځو به د سر وېښتان د اوښ د بوک په ډول جوړول، دغه ښځي به جنت ته نه سي داخلي او نه به د جنت بوی تر پزه کړي که څه هم د جنت بوی رسېږي تر کومه کومه ځايه

---

۱: عن ابن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهوه منهم (مشكوة: ج ۲، ص ۳۷۵).

ای من تشبه نفسه بالکفار مثلاً فی اللباس و غیره (مرقات: کتاب اللباس، ج ۸، ص ۱۵۵).

الاصل فی الاشیاء الاباحة عند بعض الحنفیه ... وفی الهدایة من فصل الحداد ان الاباحة اصل (الاشباه و النظائر: (ج ۱، ص ۲۰۸ – القاعدة الثالثة).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري.

او په بل روایت کي نبي کریم ﷺ ملعوني (لعنت پر سوی د الله د رحمت څخه لیري) بلل سوي دي.

لهذا د ښځي لپاره د خپل سر وېښتان په داسي شکل او انداز باندي جوړول چي هغه د ټولو وېښتانو د سر پر لوړه حصه باندي جمع کول لکه د اوښ بوک جائز نه دي.

البته هغه ډول وېښتان چي د سر د شا پر حصه باندي یې جمع کړي وي یا د سر پر بله حصله باندي یې جمع کړي وي لکه په اوسني وخت کي چي بعضي ښځي د کور د خدمت (کار) په وخت کي د وېښتانو د حفاظت لپاره یې دغه انداز عملي کړی دئ جائز دئ (۱)

**تر څه وخت پوري د وېښتانو پرې کول یا کوچني کول جائز دي؟**

د هغو نجونو لپاره چي عمر یې نهو کلونو ته رسېدلی وي، د وېښتانو پرې کول د نورو لویو ښځو په ډول جائز نه دي او د داسي نجونو لپاره چي عمر یې د نهو کلونو څخه کم وي نو د ښایست او زینت یا د بل جائز مقصد لپاره یې د وېښتانو پرې کول یا کوچني کول جائز دي، البته د کافرانو او فاسقانو د مشابهت څخه ځان ساتل ضروري دي.(۲)

**پیدائشي وېښتان خریل یا پرې کول ضروري دي؟**

په بعضو علاقو او کورنیو کي دا رواج وي چي د کوچنیو نجونو د سر وېښتان نه ورخروي، بلکي له دغه وخت څخه همدغه وېښتان غټ سي او دا

---

۱: عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ صنفان من اهل النار ... و نساء کاسیات عاریات ممیلات مائلات رؤسهن کاسنمة البخت المائلة لایدخلن الجنة و لا یجدن ریحها و ان ریحها لیوجد من مسیرة کذا کذا (احسن الفتاوی: ج ۸، ص ۷۴ – مسلم: کتاب اللباس و الزینة، ص ۲۰۵، ج ۲).

۲: قال العلامة ابن عابدین رحمه الله بل فی محرمات المنع و بنت لتسع فصاعداً مشتهاة اتفاقاً الخ (ردالمختار: ج ۳، ص ۶۴۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرعاً جائز نه دي ځکه نبي کريم ﷺ فرمايي، چي: کله چي يو کوچنی وزېږي نو پر اوومه ورځ يې عقيقه (پسه حلال) کړئ او نوم پر کښېږدئ او دا ډول يې سر ورخروئ، که څه هم د سر خريلو په باره کي د اوو کلونو روايت هم راغلی دئ. (۱)

**د مصنوعي (جوړ سوو) وېښتانو د ايښودلو حکم:**

په اوسني وخت کي د وېښتانو ايښودل د خلکو يو عام عادت او رواج دئ. هغه دا چي بعضي نارينه چي نزله (د سر وېښتان يې) ختلي وي يا بعضي هغه ښځي چي د سر وېښتان يې کم وي يا لنډ وي د زينت لپاره نور وېښتان ايږدي، چي د کمو وېښتانو ځای په ډک کړي يا پر هغه لنډو وېښتانو باندي نور وېښتان منښلوي چي هغه په اوږده سي، نو دغه وېښتان چي ورښودل کېږي کله د بل انسان يا د يو حيوان وېښتان وي، د حيوان وېښتان کله پاک وي کله نجس، يا مصنوعي وېښتان د يوې مادې څخه جوړ سوي وي لکه د ټوکره د تار څخه، يا داسي نور...

او دغه ډول وېښتان پر دوه قسمه ايښودل کېږي:

اول ډول دا چي د همېشه لپاره ايښودل سوي چي بيا نه ايسته کېږي.

دوهم ډول هغه دي چي عارضي ايښودل سوي وي که وغواړي ايښودلای سي او بيا يې ايسته کولای سي. د وېښتانو د ايښودلو دواړه صورتونه (ډولونه) که دائمي وي که عارضي وي که ايښوونکی وي او که ور ايښودونکی وي د ټولو په باره کي نبي کريم ﷺ فرمايي:

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي نبي کريم ﷺ وفرمايل، چي: د الله تعالی لعنت دي وي پر هغو ښځو باندي (چي د وېښتانو د اوږدوالي لپاره يا کموالي د وجي د بل نارينه يا ښځينه وېښتان) د خپلو وېښتانو سره يا د بل د وېښتانو سره ورمنښلوي او پر هغه ښځه باندي هم د الله تعالی لعنت دئ چي بلي ښځي ته ووايي چي د بل وېښتان زما پر وېښتانو

---

۱: (ترمذي: ج۱، ص ۱۸۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library


باندي راومبنلوه (۱)

حضرت حيمد بن عبدالرحمن بن عوف ﷺ فرمايي چي ما حضرت معاويه بن ابو سفيان ﷺ د حج په کال (په کوم کال چي هغه د خپل خلافت په زمانه کي حج کوی) پر منبر باندي څه ويل ما واورېدل. ده د وېښتانو يوه پنچه د يوه خادم په لاس کي وليدله وې فرمايل: چي ستاسي علماء چيري دي، ما د نبي کريم ﷺ د دغسي کړونو څخه منع کول اورېدلي دي او ده وفرمايل، چي: بني اسرائيل ځکه هلاک سول چي د هغوی ښځو دغه (د وېښتانو ايښودل يا ورايښودل) شروع کړل (۲)

لهذا د وېښتانو په ايښودلو کي د يوه انسان لپاره د بل انسان وېښتان ايښودل يا د نجس العين حيوان وېښتان ايښودل جائز نه دي بلکي حرام دي.

البته هغه وېښتان چي د حيوان وي د نجس العين حيوان نه وي يا مصنوعي وېښتان يې د يوه شي (مادې) څخه جوړ کړي وي هغه دايمي ايښودل سوي وي يا عارضي جائز دي.

او د دائمي ايښودلو په صورت کي د غسل کولو يا مسح کولو پر مهال يې ايسته کول ضروري نه دي ځکه د سر جزء ګرځي.

او د عارضي ايښودلو په صورت کي د غسل او مسح کولو پر مهال يې ايسته کول ضروري دي.

---

۱: عن ابن عمر ﷺ ان رسول الله ﷺ قال: لعن الله الواصلة والمستوصلة والوا شمة والمستوشمة (بخاري: باب الوصل، )

او حضرت اسماء بنت ابوبکر صديق ﷺ فرمايي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل، چي: د وېښتانو پر مبنلوونکو او ورمبنلوونکيو باندي د الله تعالی لعنت وي.

عن اسماء ﷺ بنت ابي بکر قالت لعن ... الواصلة والمستوصلة (بخاری: باب الوصل، ص ۸۷۹، ج ۲).

۲: عن حميد بن عبد الرحمن بن عوف انه سمع معاوية بن ابی سفيان عام حج و هو علی المنبر و هو يقول و تناول ... اين علماؤکم سمعت رسول الله ينهی عن مثل هذه و يقول انما هلکت بنو اسرائيل حين اتخذ هذه نساؤهم. (بخاري: ص ۸۷۸، ج ۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**یادونه:**

د ایښودلو وېښتانو که دائمي وي او که عارضي وي د ښځي د نامحرم په مخکي او په لمانځه کي د اصل وېښتانو حکم لري یعني ایښودل سوي وېښتان د ښځي هم عورت بلل کېږي.(۱)

**د ښځو لپاره د سر د وېښتانو رنګول جائز دي؟**

ښځي د خپل سر د وېښتانو د ښایسته کولو لپاره د کېمیاوي مادو څخه جوړ سوي رنګونه هغه که سور رنګ وي یا ژړ یا تور ته نژدې رنګ وي یا په نکریزو باندي رنګوي جائز دي او دا ډول که د ښځي وېښتان په کم عمر کي یا د یوې ناجوړۍ د وجي سپین سوي وي په تور رنګ باندي تورول یې هم جائز دي.

د دغه عذر پرته د نورو ښځو چي عمر یې د وېښتانو سپین کېدو ته رسېدلی وي جائز نه دي. البته د ټولو رنګو د استعمال لپاره مناسب دا دئ چي د وېښتانو په رنګولو کي وخت ضایع او عبث نه کړي او دا ډول یې دومره پرله پسې استعمال نه کړي چي بالاخره یې د مجبورۍ پر اساس رنګوي یا د ډېر رنګ د استعمال د وجي وېښتان ورسپین کړي نو بیا مجبوراً یې رنګوي چي سپین وېښتان ښکاره نه سي.(۲)

---

۱: الوصل بشعر الادمی حرام و کذلک الوصل بشعر نجس من غیر الادمی ... قال العثمانی حفظه الله و الذی یظهر من کتب الحنفیة ان الراجع عندهم القول الثانی و هو تخصیص الحرمة بشعر الادمی ... و لا بأس للمرأة ان تجعل فی قرونها و ذوائبها شیأ من الوبر ... و به ظهر ان اتخاذ القرا مل (و هی خیوط مریر) للنساء جائز ... الخ (تکملة فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۹۱ – فتاوی هندیه: ج ۵، ص ۳۵۸ – جدید فقهي مسائل: ج ۱، ص ۳۰۱).

۲: أما خضاب المرأة شعرها لتتزین لزوجها فقد اجاز قتادة کما اخرج عنه عبد الرزاق مصنفه و کذا اجازه اسحاق ... ابن قدامة فی المغنی (ج ۱، ص ۷۶ – تکمله فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۵۰) قال النووي: والاصح والأوفق للسنة استحباب خضب الشیب للرجل والمرأة بصفرة او بحمرة (شرح صحیح مسلم: ج ۱۴، ص ۸۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځي لپاره وروځي کښل (کول يا نري کول) جائز دي؟**

په اوسني زمانه کي د فېشن څخه يو دا هم دئ، چي ښځي د خپلو وروځو د باريک (نري) ښکاره کولو لپاره په تکليف سره د وروځو کنارې (څنډي) کوچني کوي يا يې کاږي، نو که يې پخپله وکاږي يا يې بل څوک ور وکاږي جائز نه دي بلکي حرام دي. البته يو هغه وېښتان وي چي عادتاً په وروځو کي نه بلل کېږي بلکي د وروځو څخه ماسوا پر تندي باندي راغلي وي نو د هغو وېښتانو کښل جائز دي

او په حديث شريف کي نبي کريم ﷺ پر کښونکو (نري کوونکو) او ورکښونکو (چي غوښتنه د کښلو ورڅخه کوي) لعنت ويلی دئ، يعني دغه عمل کوونکي دي د الله تعالی د رحمت څخه ليري وي.

**پاملرنه:**

هغه ښځي چي د وروځو د نري کولو يا کښلو په عمل باندي اخته وي د دوی لپاره دا فکر په کار دئ، چي د الله تعالی نبي ﷺ د دغه عمل کوونکو ښځو ته بدعايي (ښرا) کړې ده، هغه دا چي د دغه عمل کوونکي دي د الله تعالی له رحمت څخه ليري وي، دا د الله تعالی د نبي ﷺ بدعاء ده او موږ چي د يو عام ښه کس د بدعاء څخه هم ځان ساتو نو د الله د نبي د بدعايي څخه ځان ساتل څومره زموږ لپاره ضروري او لازمي دي.

لهذا د ټولو مسلمانو ښځو لپاره لازمي ده، چي د الله تعالی د نبي ﷺ د دغه بدعاء څخه ځان وساتي او د ښرا څخه د ځان ساتل هغه وخت راتلای سي چي موږ دغه د وروځو کښل يا نري کولو څخه پرهېز وکړو (۱)

---

عن ابي الدرداء ﷺ مرفوعاً من خضب بالسواد سود الله وجهه يوم القيامة (کنزالعمال: ج ٦، ص ٦٧١ – احکام تجميل النساء: ص ١٧٩).

[1]: حدثنا اسحق بن ابراهيم ... عن عبدالله قال لعن الله الواشمات والمستوشمات والنامصات و المتنمصات ... الخ (مسلم: ج : ١١، ص : ٥٣، ط : المکتبة الشاملة ورقم الحديث : ٣٩٦٦).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځې لپاره پر مخ باندې راغلې (شنه سوي) وېښتان کښل جائز دي؟**

د ښځې لپاره د هغه ځای څخه وېښتان کښل چې عادتاً د انسان پر هغه ځای باندې وېښتان نه شنه کېږي لکه تندی، بارخوګان، غاړه نو که وېښتان پر راشنه سي کښل يې جائز دي، البته چونکه د وېښته عادت دا دئ، چې په کښلو يا غچې کولو باندې د وخت په تېرېدو سره نور ډېرېږي او بل دا چې په کښلو کې يو ډول پر ځان باندې تکليف او اذيت تېرېدل هم دي او دسترګو ديد ته هم تاوان رسوي، په هغه صورت کې چې په تار باندې يې کاږي او که د کريم يه پاوډر په ذريعه يې کاږي، که څه هم دغه وجه نه وي خو په اوله وجه سره يې نه کښل اولی او ښه کار دئ.

دوهم که پر هغه ځای باندې وېښتان را شنه سي چې عادتاً د ښځې پر هغو ځايو باندې وېښتان نه شنه کېږي لکه ږيره، برېتونه نو د داسې وېښتانو د شنه کېدو په صورت کې د ښځې لپاره يې کښل ضروري او لازمي دي.(۱)

**د ښځې لپاره د لاسو (بازوګانو) پښو (پنډيو او ورنو) وېښتان خريل جائز دي؟**

د ښځو لپاره د بازوګانو او پنډيو وېښتان که د بال صفا په ذريعه وي يا د بل کريم په ذريعه وي ليري کول يې جائز دي، ځکه چې د ښځې په حق کې زينت مطلوب او مقصود دئ او د لاسو و پښو د وېښتانو په ليري کولو کې د خلقت تبدلي هم نه راځي او دا ډول په هغه کې څه دوکه هم نه معلومېږي ځکه يې د وېښتانو ليري کېدل جائز دي.

---

قوله: النامصات الخ انمص (بفتح النون و سكون الميم) نتف الشعر: و نمصت المرأة الشعر اى نتفته والنامصة هى التى تنتف شعر الوجه ... المتنمصة من تأمرا مرأة اخرى بنتف الشعر عن نفسها و اكثر ما تفعله النساء فى الحواجب و اطراف الوجه ابتغاء للحسن والزينة و هو حرام بنص هذا الحديث اما اذا نبتت للمرأة لحية او شارب او عنفقة فاخذها حلال عند الحنفية رحمهم الله (تكملة فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۹۵).

۱: و فى الشامية (قوله النامصة) ذكره فى الاختيار ايضاً والمغرب النمص نتف الشعر و منه ... فلو كان فى وجهها شعر ينفر زوجها عنها بسببه ففى تحريم ازالته بعد لأن الزينة للنساء مطلوبة للتحسين ... فلا تحرم ازالته بل تستحب (در المختار: ج ۶، ۳۸۳ ايچ ايم سعيد).

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته که چيري يې د وېښتانو په پرې کولو کي څه تکليف او اذيت وي نو نه پرې کول يې بهتره او ښه کار دئ.(۱)

**د ښځي لپاره د زيرناف او بغلو د وېښتانو د خريلو حکم:**

د زيرناف او بغلو د وېښتانو د خريلو (ليري کولو) د ښځي او نارينه لپاره مستقله شرعي مسئله ده او د فطرت په لسو شيانو کي داخل دئ لهذا د زيرناف او بغلو وېښتان په هفته کي يو وار پرې کول په کار دي، يا په پنځلسو ورځو کي يې پرې کول ضرور دي.

مګر د څلوېښتو ورځو پوري تأخير (ځنډ) ورکول ګناه بلل کېږي مکروه تحريمي دي.

او د وېښتانو ليري کول که څه هم د هر شي په ذريعه يې ليري کول جائز دي مګر د ښځي لپاره د پوډرو يا يو ډول کريم دي د هغه استعمال د چړې (د ماشين د چړې) پر ځای مناسب دئ او د نارينه وو لپاره دواړه مناسب دي(۲)

**د ښځي هغه وېښتان چي پخپله يې پرې کړي وي يا خودبخوده ختلي وي نو څه به په کوي؟**

د ښځي لپاره هغه وېښتان چي پرې کول يې پخپله موده کي ضروري وي لکه د زيرناف او بغلو وېښتان يا هغه د سر وېښتان چي خودبخوده تويېږي يا ښځه يې قصداً پرې کوي په دواړو صورتو کي د وېښتانو په خاوره کي پټول ښه او بهتر کار دئ يا په داسي ځای کي بايد کښېښنودل سي چي هلته نجاست نه وي يعني په غسل خانه يا پای خانه (بيت الخلاء) کي يې غورځول په کار نه

---

۱: والحاصل: ان کل ما يفعل فی الجسم من زيادة او نقص من اجل الزينة ... و اما ماتزينت به المرأة لزوجها من تحمير الأيدی او الشفاء والعارضين بما لا يلتبس بأصل الخلقة فانه ليس داخلا فی النهی عندا جمهور العلماء (تکمله فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۹۵).

۲: و يستحب حلق عانته و تنظيف بدنه بالاغتسال فی کل اسبوع مرةً والافضل يوم الجمعة و جاز فی کل خمسة عشرة و کره ترکه و راء الاربعين. قال العلامة الشامي رحمه الله ولا عزر فيما وراء الاربعين و يستحق الوعيد (رد المختار: ج ٦، ص ۴۰٦ کتاب الحظر والاباحة - مرقات: ص ۲۱۲، ج ۸، باب الترجل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، بلکې مکروه دي.

ځکه دا د انسان جزء دي او انسان محترم او معظم دئ بايد احترام او عزت يې وسي او د دې احترام په هغه صورت کې کېداى سي چې د هغه جزء حفاظت وسي او په فتاواى هنديه کې دا خبره ذکر سوې ده چې د نارينه او ښځې لپاره چې د وسواس او بد فکرى يو لامل هم دادئ چې دوى نوکان او وېښتان بې ځايه غورځوي. (۱)

۱: فاذا قلم اظفاره او جز شعره ينبغى ان يدفن ذلک الظفر و الشعر المجزوز فان رمى به لا بأس و ان القا فى الکنيف او فى المغسل يکره ذلک (حاشية الطحطاوى على الدر المختار: ج ۴، ص ۲۰۲، کتاب الحظر والاباحه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل

## د سينګار او زينت د شيانو په اړه دئ

**د خاوند لپاره د زينت او سينګار کولو حکم:**

* زينت او سينګار د ښځي فطري حق دئ او هره ښځه طبعاً حسين والی او ښايست خوښوي او دا غواړي چي زه ښه وايسېږم، خصوصاً بيا پر ښځي باندي لازم دي چي د خاوند لپاره د شريعت مقدسه په حدودو کي زينت او سينګار وکړي او د ښځي پر زينت او سينګار باندي هم هغه وخت اجر او ثواب مرتب کېدای سي، چي د خاوند لپاره يې کړی وي او دا ډول په شريعت مقدسه کي د هغي ښځي لپاره چي نکاح (واده) يې کړې وي په خيرن لباس او خيرن بدن ګرځېدل مکروه دي، بلکي په شريعت مقدسه کي خاوند ته دا اجازه سته که مېړمن يې د ده لپاره سينګار نه کوي نو تاديباً دي څه محدوده سزا ورکړي، ځکه چي پر مېرمن باندي د خاوند دا حق دئ، چي دا به خپل خاوند ته ځان سينګاروي.

البته په زينت او سينګار کي هغه کېمياوي دواوي استعمالول چي د انسان د وجود اعضاوو ته ضرر رسوونکي وي جائز نه دي، که څه هم د خاوند لپاره زينت او سينګار کوي.(۱)

---

۱: استعمال أدوات التجمل كتحمير الشفاء لابأس به و كذا تحمير الخدود فلا بأس به لاسيماً للمتزوجة.
تجمل المرأة لزوجها فى الحدود الشروعه ... ليس هناک ضرر طبى ... من استخدام المكياجات (المغنى، ج ۱، ص ۱٦۸، بحوالهٔ احكام تجميل النساء: ص ۲۰۱).

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د میک اپ (د سرخي او سفېدي کولو) حکم:

د زینت، سینګار او میک اپ (سرخی او سفېدي) استعمال د ښځي لپاره چي نکاح (واده) یې کړې وي جائز خو څه بلکي د خاوند لپاره خصوصاً ښه او بهترین عمل دئ.

خو البته زینت او سینګار د میک اپ (سرخی او سفیدي) د استعمال شیان اکثر په اوسني وخت کي د نورو خارجي وطنو څخه راځي، لکه: پاوډر، کریم، لوشن او داسي نور د زینت او میک اپ (سرخی او سفېدي) د شیانو په جوړېدو کي د خنزیر یا مردار سوو حیواناتو وازګي استعمالېږي او هغه شرعاً حرام دي.

سوال اوس دا دئ، چي د دغو شیانو استعمال شرعاً جائز دئ کنه؟

په جواب کي باید وویل سي که دغه د خنزیر یا مردارو سوو حیواناتو وازګي یقیني پکښې وي او د یوې کېمیاوي دوا په ذریعه یې حقیقت او ماهیت بدل سوی نه وي نو استعمال یې جائز نه دئ.

او که په دغو شیانو (کریم، پاوډر، لوشن او سرخي) کي یوازي د حرامو شیانو د استعمال شک کېدی نو محض د شک پر بنیاد باندي د دغو شیانو استعمال نه حرامیږي، تر څو چي یقین نه وي.

او دا ډول که د دغو شیانو (کریم، پاوډر، سرخي او لوشن) په جوړېدو کي یقیني حرام او حلال دواړه استعالېدل او د هغو حرامو شیانو حقیقت او ماهیت د کېمیاوي دواوو په ذریعه بدل سوی وي نو په دغه صورت کي یې د دغه شیانو استعمال جائز دئ.

ځکه چي اوس یې اصلي حقیقت او ماهیت بدل سوی دئ.[1]

---

[1]: قال العلامة الحصكفى رحمه الله و يطهر زيت تنجس بجعله صابوناً به يفتى للبلوى.
و قال ابن عابدين رحمه الله ثم هذه المسئله فرعوها على قول محمد بالطهارة بانقلاب العين الذى عليه الفتوى اختياره اكثر المشائخ ... فصار صابوناً يكون طاهر لتبدل الحقيقة (ردالمختار: باب الانجاس).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مېلمنو او کور به ښځو لپاره د زینت او سینګار کولو حکم:**

په اکثره ځایو کي داسي وي چي ښځي یو ځای مېلمنې وي نو زینت او سینګار کوي هغه نو کله پخپله کور کي زینت او سینګار وکړي یا ولاړه سي آرایشګاه ته هلته په ځان سینګار وکړي او دا ډول کور به ښځي چي دوی ته مېلمنې راځي نو دوی هم د مخکي مېلمنو په ډول پخپل کور کي ځان سینګار کړي یا ولاړي سي آرایشګاه ته هلته ځان سینګار کړي او د دواړو که مېلمنې وي که کور به ښځي وي په دې نیت ځان سینګاروي چي زه ښه وایسېږم یوازي د دغه نیت لپاره ډېري پیسې مصرفوي.

لهذا دغه خیالات او نیتونه یوازي په احساس کمتري کي لوېدل دي، نو د دغو شخه ځان ساتل په کار دي او دغه سینګار او مصرف چي دې ښځو په ځان وکړ دایې د بل لپاره سینګار او مصرف وکړي.

نبي کریم ﷺ د هغو ښځو په باره کي چي د بل لپاره یې سینګار کړی وي فرمایي چي په اجنبیانو (پردیو) کي د زینت سره تلونکې ښځه داسي ده لکه د قیامت د ورځي په تاریکه کي چي په هغې کي هیڅ نور نه وي.

د دې حدیث شخه معلومه سوه چي د بل لپاره زینت کول د قیامت په ورځ به په هغه تاریکیو کي وي، الله تعالی دي موږ او تاسي د قیامت د تاریکیو شخه وساتي.[1]

**د خاوند شخه ماسوا د نورو محارمو په مخکي د سینګار کولو حکم:**

د خاوند شخه ماسوا د نورو هغه محارمو چي د ګرد عمر لپاره یې نکاح نه سي ورسره صحیح کېدای لکه پلار، ورور، وراره، خوریی، اکا، ماما او داسي نورو په مخ کي زینت او سینګار کول د ښځي لپاره في نفسه خو جائز دي، البته په اوسنۍ زمانه کي د اکثرو خلکو په زړو کي فساد ډېر دئ او په اکثرو کورو کي د زړو د فساد او د اخلاقو د فساد اسباب موجود دي لکه تلوېزیون، وي

---

[1]: عن میمونة بنت سعد رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ مثل الرافلة فی الزینة فی غیر اهلها کمثل ظلمة یوم القیامة لا نور لها (ترمذي: باب ما جاء فی کراهیة خروج النساء)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي آر، او داسي نور اسباب او بيا خصوصاً په هغو کورو کي چي د خاوند قريبان لکه د خاوند ورور، د اکا زوی او داسي نور هم يو ځای ورسره اوسي، نو د دغو وجوهاتو پر بنياد باندي د ښځي لپاره د پرديو په مخکي خو بالکل جائز نه دئ او د خپلو محارمو په مخکي د ښځي لپاره زينت او سينګار کول مناسب نه دي، ځکه د فتنې څخه نه سي خالي کېدای، لهذا پرهېز ورڅخه کول په کار دي.(۱)

## د ښځي لپاره د لب شيرين کولو حکم:

په اوسني وخت کي ښځي د زينت او سينګار لپاره پر شونډانو د لب شرين په نامه يو ډول سور رنګ استعمالوي او دغه لب شرين (لپ سټيک) دوه قسمه دئ، يو قسم يې هغه دئ چي کله پر شونډانو باندي استعمال سي نو د ډېري غوړزګی له وجي د اوداسه او غسل کولو په صورت کي اوبه اصل شونډانو ته يا د شونډانو پوست ته نه رسېږي.

او دوهم قسم يې هغه (لب شرين) دئ، چي کله پر شونډانو باندي استعمال سي نو د اوداسه او غسل کولو په صورت کي اوبه اصل شونډانو ته يا د شونډانو پوست ته رسېږي.

نو لهذا في نفسه د دواړو قسمونو (ډولونو) لب شرين استعمال جائز دئ، البته د اوداسه او غسل کولو په صورت کي د اول قسم (ډول) لب شرين له شونډانو څخه پاکول ضروري دي، تر څو په اوداسه او غسل کولو کي اوبه اصل شونډانو ته يا د شونډانو پوست ته ورسېږي او که د اوداسه سره دغه اول ډول لب شرين استعمال کړی وو نو د لمانځه د ادا کولو پر مهال يې پاکول ضروري نه دي.(۲)

---

۱: (حواله احسن الفتاوی: ج ۸، ص ۶۸).

۲: و اما التحمير و نحوه فيجوز باذن الزوج و فی داخل البيت و يحرم بغير اذن الزوج و خارج المنزل (الفقة الاسلامي و ادلته: ج ۴، ص ۲۶۸۳، کتاب الحظر والاباحة).

و قال العلامة الحصکفي رحمه الله عليه: و لا يمنع الطهارة بخلاف نحو عجين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځي لپاره د باڼوګانو د رنګولو حکم:**

ښځي بعض اوقات د زينت او سينګار لپاره خپل باڼوګانو ته رنګ ورکوي او د باڼوګانو رنګول پر دوه ډوله دي يو هغه مادي استعمالېږي، چي د اوداسه او غسل کولو په صورت کي اوبه اصل وېښتانو ته نه رسېږي، په دغو صورت کي که څه هم د باڼوګانو رنګول جائز دي خو د اوداسه او غسل په کولو کي يې د رنګ ليري کول يا زائلول ضروري دي تر څو اوبه اصل وېښتانو ته ورسېږي، او په هغه اوداسه او غسل باندي لمونځ صحيح سي.

دوهم ډول د باڼوګانو په رنګولو کي هغه مادي استعمالېږي چي د اوداسه او غسل په کولو کي اوبه اصل وېښتانو ته رسېږي نو د دغه رنګ استعمالول جائز دي او د اوداسه او غسل کولو په صورت کي يې ليري کول او زائلول هم ضروري نه دي(۱)

**د ښځو لپاره د سترګو مصنوعي (نقلي) باڼوګانو ايښودل يا پر اصلي باندي نور مښلول جائز دي؟**

ښځي د زينت لپاره پر خپلو باڼوګانو باندي مصنوعي (نقلي) باڼوګان لګوي (مښلوي) ځکه چي بيا د دوى باڼوګان ګڼ او اوږده معلوم سي، د دغو باڼوګانو د لګولو (مښلولو) لپاره يو ډول مخصوص لوشن (کريم) او ماده ده، چي په هغه باندي مښلي که څه هم بعض اوقات د څه وخت (څو ساعتو) لپاره دغه باڼوګان لګول کېږي، د باڼوګانو د لګولو (مښلولو) د حکم دوه لحاظه دي يو طبي لحاظه دئ او يو فقهي لحاظه دئ.

---

و قال ابن عابدين رحمه الله اى لعلک و شمع و قشر سمک ... فى شرح المنية فى العجين و استظهر المنع لان فيه لزوجة و صلابة تمنع نفوذ الماء (ردالمختار : مطلب فى ابحاث الغسل، )

۱: و يجب اى يفرض غسل کل ما يمکن من البدن بلا حرج مرة کأذن و سرة و شارب، حاجب... و لا يمع الطهارة و نيم اى خرء ذباب ... و لو جرمه به يفنى (فتاوى محموديه: ج ۱۹، ص ۳۳۲ -الدرالمختار : مطلب ابحاث الغسل، )

(c) ketabton.com: The Digital Library


د طبي لحاظه دومره عرضول کافي دي چې د دغه مصنوعي (نقلي) بانهوګانو پر اصلي بانهوګانو مښلول پر اصلي بانهوګانو باندي زور راولي او پر طبيعي نشو و نما او پوست هم ورڅخه متأثر کېږي او دوهم دا چې پخپله د بانهوګانو د مښلولو لوشن (کريم) نقصان رسونکی دئ او خصوصاً د بانهوګانو تعلق بيا خاص د سترګو سره دي او سترګي نازک او هم باريک عضوي بلل کېږي او تاوان ژر ور رسېږي.

لهذا طبيبان د مصنوعي (نقلي) بانهوګانو پر اصل بانهوګانو باندي د مښلولو اجازه نه ورکوي نو پرهېز ورڅخه کول په کار دي.

او د فقهي د لحاظه د مصنوعي (نقلي) بانهوګانو لګول چې د بل انسان او نجس العينً حيوان وېښتان نه وي جائز دي.

که چيري دغه بانهوګان دائمي لګول سوي وه نو جزء يې ګرځي د اوداسه او غسل کولو په صورت کي يې ليري کول ضروري نه دي او که عارضي لګول سوي وه، چي بيرته په اسانۍ سره ايسته کېداى سي او يا که پاته سي نو اوبه نه ور رسېدلې نو د اوداسه او غسل کولو په صورت کي د دغه ډول بانهوګانو ليري کول ضروري دي تر څو چي اودس او غسل يې صحيح سي.(۱)

**د ښځي لپاره پر تندي، شونډانو يا نور بدن باندي خالونه وهل جائز دي؟**

د تېري زمانې څخه د ښايست لپاره خصوصاً په ښځو کي دا عادت را روان دئ چي پر تندي باندي د ښايست لپاره خال وهي او بعض نارينه هم په

---

(۱): الوصل بشعر الادمي حرام و كذلك الوصل بشعر نجس من غير الادمي ... قال العثمانى حفظه الله تعالى والذى يظهر من كتب الحنفية ان الراجح عندهم القول الثاني و هو تخصيص الرحمة بشعر الادمى ... و لا بأس للمرأة ان تجعل فى قرنها و ذوائبها شيأ من الوبر ... و به ظهر ان اتخاذ القرامل (و هو خيوط حرير) للنساء جائز الخ (تكمله فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۹۱).

قال الطبيب ابوبكر ... مادة اتثبيت الرموش الصناعية تؤثر على الرموش الطبيعية ... و ينصح الحباء الرمد بعدم استخدامها على الاطلاق (احكام تجميل النساء: ص ۱۹۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ناوړه عمل باندي مبتلا دي چي پر لاسو باندي يا د بدن پر يو بل ځای باندي د ستني په ذريعه يا د يوې بلي آلې په ذريعه خالونه پر بدن باندي زخم جوړ کړي بيا په هغه زخم کي رانجه يا اهاک واچوي نو د جوړېدو وروسته شين معلومېږي، نو هغه که خپل نوم يا نور نقش او عکسونه پر بدن باندي ليکلي يا رسم کړي وي او په اوسني وخت کي دغه عمل د کفارو د ملکو ښځه د فېشن په طريقه او شکل کي د مسلمانانو په ملکو کي رائج سوي دي، چي د دغه عمل ښځه خصوصاً نوي ځوانان او نجوني متأثره سوي دي.

نبي کريم ﷺ پر خال وهونکي او ور وهونکي ښځي باندي د الله تعالی لعنت ويلی دي.

لهذا د ښځو او نارينه وو لپاره پر تندي يا شونډانو يا د بدن پر نورو اعضاوو باندي د ښايست لپاره خالونه وهل جائز نه دي او که د کوچنۍ نجلۍ پر تندي يا شونډانو خالونه ووهي نو ګناه يې پر وهونکي ده نه پر کوچنۍ نجلۍ باندي.(۱)

### د غاښو باريک (نري) کول جائز دي؟

د ښايست د زياتوب لپاره بعضي ښځي د مخ د طرف غاښونه په يوه ذريعه سره نري کوي يا د ښايست لپاره د غاښو په مابين کي خلاء (پراخي) راولي نو د دغسي ښځو چي د ښايست او زينت لپاره د غاښو په مابين کي خلاء (جلا والی) راولي نبي کريم ﷺ پر هغوی باندي لعنت ويلی دئ او پر هغه چا باندي يې لعنت ويلی دئ، چي د الله تعالی د خلقت بدلونکی وي. لهذا د ښځي او نارينه وو لپاره د غاښو باريک (نري کول) او د غاښو په مابين کي خلاء

---

۱: عن ابن عمر رضي الله عنه رسول الله ﷺ لعن الواصلة و المستوصلة و الواشمة والمستوشمة.

قوله: والواشمة والمستوشمة اما الواشمة ففاعلة والوشم و هو ان تغرز ابرة و نحوها فی ظهر الکف او المعصم، او الشفة من بدن المرأة حتی یسل الدم ... و الوشم حرام بنص هذا الحدیث علی الفاعلة والمفعول لها باختیارها و الطالبة له و قد یفعل بالبنت و هی طفلة فتأثم الفاعلة ... لعدم تکلیفها (تکمله فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۹۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library


(جلاوالی) راوستل جائز نه دي.(۱)

**د ښځي لپاره د سرو زرو یا سپينو زرو غاښونه ایښوول یا د هغو پوښونه ورکول جائز دي؟**

بعض اوقات د انسان یو یا دوه غاښونه ښوري یا یې بالکل وکاږي نو د غاښو د ښوریدو په صورت کي د نارینه او ښځو لپاره هغه غاښو ته د سرو زرو یا سپينو زرو پوښ (خول) ورکول یا د سرو یا سپينو زرو په تار باندي تړل یا هغه غاښونه کښل د هغو پر ځای باندي نور د سرو یا سپينو زرو غاښونه ایښودل جائز دي.

البته د سرو زرو پر ځای که د سپينو زرو غاښونه کښېښودل سي نو په اتفاق به هم عمل وسي او اولی او بهتر هم دي.

لهذا د سرو زرو او سپينو زرو غاښونه ایښوول دواړه جائز دئ خو د سپينو زرو غاښونه اولی او بهتر دي.

**یادونه:**

هر هغه غاښونه چي دائماً یعني چي بیا نه ایستل کېږي، ایښودل سوي وي نو د اوداسه او غسل کولو په صورت کي لیري کول یا ایسته کول ضروري نه دي اودس او غسل ورسره صحیح کېږي او که دائماً ایښودل سوي نه وي نو د اوداسه او او غسل کولو په صورت کي لیري کول ضروري دي تر څو چي اودس او غسل یې صحیح سي.(۲)

---

۱: عن عبدالله قال: لعن الله الواشمات او مستوشمات والنامصات و المتنمصات و المتفلجات للحسن المغيرات خلق الله.

قوله: والمتفلجات: جمع المتفلجة و هی المرأة التی تبرد مابین اسنانها (بالمبرد) الثنايا والرباعيات لتحدث فرجة بينها ... و يقال له ايضاً الوشر (تكملة فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۹۵).

۲: ولا يشد سنة المتحرك بذهب بل بفضة وجوزهما محمد رحمه الله ... فعند الامام يتخذ ذلک من الفضة فقط و عندالامام محمد رحمه الله ينخذ من الذهب ايضاً. (الدرالمختار مع رد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځو لپاره د سرو او سپينو زرو د استعمال حکم:**

د ښځو لپاره د سرو او سپينو زرو امېل، والي، بنګړي، انګشترۍ او داسي نور د ټولو استعمال د علماوو په اتفاق سره جائز دئ او د نارينه وو لپاره يې استعمال بالاتفاق ناجائز او حرام دئ. البته د نارينه وو لپاره يوازي تر يوه مثقال په کمه اندازه د سپينو زرو د انګشترۍ استعمال جائز دئ.(۱)

**يوازي د اظهار او نمايش لپاره د سپينو زرو استعمال جايز دئ؟**

د سرو او سپينو زرو استعمال په نيت د نمايش او په هغه کي په دې نيت ځان ښکاره کول جائز نه دي ځکه نبي کريم ﷺ فرمايي: اې د ښځو معاشرې (ټولني)! ايا په سپينو زرو سره ستاسي ښايست نه راځي.

خبردار! ستاسي څخه چي کومه ښځه د اظهار او ځان ښکاره کولو لپاره سره زر استعمالوي د دغه اظهار د وجي څخه به خامخا پر هغه باندي دوى ته عذاب ورکول کېږي.(۲)

**د ښځو لپاره داسي زېور استعمالول چي اواز لرونکي وي جائز دي؟**

څه ډول چي د نارينه وو لپاره ښځو ته کتل د نارينه د نفس د راپورته کېدو

---

المختار: ج ٦، ص ٣٦٢، فصل فى اللبس، سعيد).

قال رحمه الله (و شد السن بالفضة) اى يحل شد السن المتحرک بالفضة ولا يحل بالذهب و هذا عند ابى حنيفة رحمه الله و ابي يوسف رحمه الله و الاصل الحرمة فيهما فاذا حل التضبيب باحرهما حل بالاخر ... و قد زالت بالادنى و هو الفضة ... الخ (تبيين الحقايق: ج ۷، ص ٣٦، فصل فى النظر و المس – فتاوى محموديه: ج ١٩، ص ٣٤٩).

[1]: عن ابى موسى اشعري رضي الله عنه رسول الله ﷺ قال: حرم لباس الحرير والذهب على ذكور امتى و احل لاناثهم (الترمذي: ج ١، ص ٣٠٢).

قال العلامة ظفر احمد العثماني رحمه الله و فيه ايضاً يجوز للنساء لبس انواع الحلى كلها من الذهب والفضة والخاتم والحلقة والسوار و الخلخال و الطوق والعقد التعاويذ والقلائد و غيرها (اعلاء السنن: ج ١٧، ص ٢٨٩).

[2]: عن اخت لحذيفة ان رسول الله ﷺ يا معشر النساء اما لكن فى الفضة ما تحلين به اما انه ليس منكن امرأة تحلى ذهبا تظهره الا عذبه به (رواه ابو داود، مشكوة: ج ١، ص ٣٧٩).

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب کېږي، دا ډول د ښځو آواز او پر دوی باندي هغه آواز لرونکي زېور هم د نارینه وو د نفس د راپورته کولو سبب جوړېږي او د دې څخه ماسوا په بې شمېره احادیثو کي دا خبره واضح سوې ده، چي د هري کنتې (زنګ لرونکي) سره شیطان وي.

حضرت مفتي محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه فرمایي، چي: د آیت په شروع کي ښځي د نارینه په مخکي د خپل زینت د ښکاره کولو څخه منع سوي وې (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ) او د دغه آیت په آخر کي نور هم تاکید دئ، چي د ښایست ځایونه لکه: سر، سینه او داسي نور دي خو خامخا پټول ضروري دي او دا ډول د خپل مخفي زینت ښکاره کول هر ډول چي وي جائز نه دي.

په زېوراتو کي داسي شی لګول چي هغه آواز لرونکی وي یا یو زېور د بل زېور سره د جنګېدو په صورت کي چي آواز کوونکی وي او هغه آواز نامحرم نارینه واوري د دا ډول زېوراتو استعمال د ښځو لپاره د دغه آیات له نظره جائز نه دئ او ډېر فقهاء فرمایي چي د زېور آواز د نامحرمو نارینه وو باندي اورېدل په دغه آیت باندي ناجائز بلل سوي دي.

نو پخپله د ښځي آواز اورېدل د دغه څخه هم ډېر سخت ناجائز دي.

لهذا د ښځو لپاره هر هغه اواز لرونکی زېور یا چي د هغه په جنګېدو سره آواز ورڅخه پیدا کېږي استعمال یې جائز نه دئ البته مناسب دا دئ، چي د څلورو بنګړیو پر ځای چي نري وي دوه غورس (پنډ) بنګړي جوړ کړي تر څو د آواز پیدا کېدو بېره لیري سي (۱)

---

۱: عن بنانة مولاة عبدالرحمن بن حیان الانصاري کانت عند عائشة رضي الله عنها اذ دخلت علیها بجاریة و علیها جلاجل یصوتن فقالت لا تدخلنها علی الاأن تقطعن جلاجلها سمعت رسول الله ﷺ یقول لا تدخل الملائکة بیتاً فیه جرس (مشکوة: ص ۳۷۹).

عن عمر بن خطاب رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ یقول مع کل جرس شیطان (مشکوة: ص ۳۷۹ – معارف القرآن: ج ٦، ص ٤٠٦، سورة النور).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځو لپاره د سرو او سپينو زرو ماسوا اوسپنه، پيتل او داسي نور استعمال جائز دئ؟**

شريعت مطهره د هر ډول سرو او سپينو زرو استعمال د ښځو لپاره جائز کړی دئ. البته په اوسني وخت کي د زېوراتو په توګه د وسپني، پيتل او داسي نورو معادنو څخه جوړ امېلونه، بنګړي، والي، انګشتری او داسي نور ښځي د زينت لپاره استعمالوي، د ښځو لپاره د دغه معادنو څخه د جوړو د زينت د شيانو د استعمالولو په حکم کي د علماوو د مکروه تحريمي او تنزيهي بېلابېل نظرونه دي.

لهذا د اوسپني، پيتل او داسي نورو معادنو څخه جوړ د ښځي د زينت شيان لکه امېل، بنګړي، والي او داسي نور د استعمال څخه پرهېز کول ښه او بهتر کار دئ، ځکه چي د استعمال په صورت کي يې څه نه څه کراهت سته.(۱)

**د پلاستيک او ښيښه يي بنګړو په لاسول جائز دي؟**

د پلاستيک او ښيښه يي بنګړو په لاسول د ښځو لپاره جائز دي، البته د ښيښې يا هغه پلاستيکي بنګړي چي اواز لرونکي وي په داسي ځای کي يې په لاسول جائز نه دي چي د هغوی آواز تر نامحرمو نارينه وو تر غوږو پوري رسېږي.(۲)

---

۱: قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت قوله : (فيحرم بغيرها) و فى الجوهرة و التختم بالحديد والصفر و النحاس و الرصاص مكروه للرجال والنساء (درالمختار: ج ٦، ص ٣٥٩).
و اما المعدن الحديد فلعله غير هذه الانواع ... والأحوط الترک (امداد الاحكام: ج ۴، ص ٣٥٩ – فتاوی رشيديه: ص ۴۹۱).

۲: ولا يتختم بغيرها كحجر و ذهب وحديد و صفر و رصاص و زجاج وغيرها (تنوير الابصار: كتاب الكراهة فصل افى اللباس).
يجوز للنساء لبس انواع الحلى كلها من الذهب والفضة والخاتم والحلقة والسوار والخلخال والطوق (اعلأن السنن: ج ١٧، ص ٢٨٩، كتاب الحظر).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځو لپاره د پایزېبونو په پښو کول جائز دي؟**

اسلام ښځو ته د پردې (حجاب) کولو حکم کړی دئ او د هر هغه عمل کولو څخه يې منع کړې ده، چي هغه د بې حيايي باعث کېږي. ځکه د ښځي لپاره پايزېبونه په پښو کول يو ډول بې حيايي ده او بعضي اوقات د دغه وجي غټې غټې فتنې او فسادونه جوړېږي.

دوهم دا چي پايزېبونه په پښو کول د شرعي پردې (حجاب) سره منافي دي ځکه الله تعالی د پردې کولو په اړه فرمايي:

وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ (سورة النور: ۳۰آیت)

ترجمه: او دوی (ښځي) دي خپلي پښې (د مځکي سره) نه وهي د دې لپاره چي معلوم سي هغه څه چي دوی (ښځي) يې پټوي د خپل زينت څخه.

يعني دوی (ښځي) دي داسي تګ نه کوي چي هغه پټ زينت چي د پ کړی وي معلوم سي.

لهذا هر هغه د ښايست شی چي هغه د استعمال په صورت کي اواز کوونکی وي لکه پايزېبونه په پښو کول يا د ده په ډول نور داسي شيان استعمالول جائز نه دئ بلکي حرام دئ. (۱)

**په داسي حال کي چي د ښځي اسم الله په غاړه وي پای خانې يا غسل خانې ته تګ جائز دئ؟**

په ښځو کي د اسم الله په نامه باندي د سرو زرو يا سپينو زرو د غاړې يو ګل دئ، پر هغه ګل باندي د (الله ﷻ) په لفظ باندي د الله نوم مبارک ليکل سوی وي، که څه هم په عامو حالاتو کي د اسم الله په نامه د زرو څخه جوړ سوی

---

۱: وعن بنانة مولاة عبد الرحمن بن حبان الانصاري كانت عند عائشة رضي الله عنها اذا دخلت عليها بجارية و عليه جلاجل يصوتن فقالت لاتدخلها علي الا ان تقطعن جلاجلها سمعت رسول الله ﷺ لاتدخل الملائكة بيتاً فيه جرس (مشكوة: كتاب اللباس، ص ۳۷۹ – امداد الاحكام: ج ۴، ص ۱۳۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل په غاړه کول جائز دي، البته د پای خانې (مکان) او غسلخانې ته د تګ په صورت کي که دغه د الله نوم په يو ټوکر يا بل شي کي پټ يا پېچلی نه وي نو د غاړې څخه يې ليري کول يا کښل ضروري دي.

او که په يو ټوکر کي پټ يا پېچلی وي يعنې پوړنی پر واچوي او يا يې په کميس کي واچوي بيا پروا نه لري د غاړي څخه خلاصول نه غواړي.(۱)

**د ښځو لپاره داسي ساعت په لاس ول چي سره يا سپين زر پکښې استعمال سوی جائز دي؟**

د ښځو لپاره که څه هم د سرو او سپينو زرو استعمال که هغه لږ اندازه وي يا ډېره اندازه وي جائز دي، البته که د استعمال په هغو شيانو کي سره زر استعمال سي چي د هغه سرو زرو استعمال يې مقصود دي نه وي، بلکي مقصود اصلاً هغه بل شی وي. لکه هغه ساعت چي په هغه کي سره زر استعمال سوي وي ځکه د ساعت څخه مقصود د وخت معلومول دي د سرو زرو استعمال يې پکښې غير مقصود دي دئ.

لهذا د ښځو لپاره هغه ساعت چي په هغه کي سره زر يا سپين زر استعمال سوی وي جائز نه دئ او د نارينه وو لپاره بيا په طريقه اولی جائز نه دئ بلکي حرام دئ.(۲)

**د ښځو لپاره داسي ساعت په لاس ول چي لاسبند يې د اوسپني يا پيتل وي جائز دئ؟**

د اوسپني يا پيتل استعمال دوه صورته لري:

يو صورت هغه دئ، چي د اوسپني يا پيتل په لاس ول بذات (پخپله) مقصود وي لکه اکثر اوقات يې خلک د زينت او فېشن لپاره يې په لاسوي لکه بنګړي يا زنځير.

---

(۱): عن انس ﷺ قال کان رسول الله ﷺ اذا دخل الخلاء وضع خاتمه (ابو داود: ص ۴، ج ۱)

(۲): و يحرم استعمال الذهب والفضة للرجال والنساء فی الآنية ووسائل الکتابة والزينة... کما لايجوز الساعات والاقلام... الخ (الفقة الاسلامی وادلته: ج ۴، ص ۲۶۳۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم هغه صورت دئ چي اوسپنه یا پیتل او داسي نور بذات خود (پخپله) مقصود نه وي بلکي د بل شي د بندولو لپاره استعمالیږي، لکه ساعتونه چي مقصود یې د ساعت لاس بند نه دئ بلکي ساعت دئ خو د لاس بند په ذریعه ساعت بند وي.

لهذا بذات خود خالي اوسپنه یا پیتل د زینت لپاره په لاسول جائز نه دي او هغه اوسپنه یا پیتل چي مقصود یې د اوسپني یا پیتل په لاسول نه وي بلکي یوازي په هغه باندي بندول مقصود وي جائز دي.(۱)

**د ښځي لپاره داسي انګشترۍ په ګوته کول چي غمي یې د ډبري یا بل شي وي جائز دي؟**

د ښځو لپاره داسي انګشترۍ په ګوته کول چي غمی یې د ډبري وي یا د ډبري د جنس څخه یا د بل شي وي جائز دئ(۲)

**د ښځو لپاره د پزي او غوږو سوري کول جائز دي؟**

ښځه که لویه یا کوچنۍ وي د پزي او غوږو سوري کول د زینت لپاره چي په پزه باندي تک وکړي او په غوږو باندي والي وځړوي جائز دي. ځکه د ښځو دغه عمل د نبي کریم ﷺ په زمانه کي هم وو سره د دې چي نبي کریم ﷺ د ښځو په دغه عمل خبر وو دوی یې د دغه عمل څخه منع کړي نه دي.

لهذا د پزي او غوږو سوري کول د لویي ښځي لپاره او کوچنۍ نجلۍ لپاره جائز دي.(۳)

---

۱: یغتفر فی التوابع مالا یغتفر فی غیرها (الاشباه والنظائر: ص ۱۲۱ – احکام الفتاوی: ج ۸، ص ۲۱۳).

۲: والاباحة ضرورة التختم والنموذج ... والحلقة هی المعتبرة لأن قوام الخاتم بهما و لا معتبر بالفص حتی یجوز من الحجر (تبیین الحقائق: فصل فی اللباس، ص ۳۵ – ۳۶، ج ۷).

۳: لا بأس بکی البهائم للعلامة و ثقب اذن الطفل من البنات لانهم کانوا یفعلونه فی زمن رسول الله ﷺ من غیر انکار (رد المختار: ج ٦، ص ۳۸۸، فصل فی البیع، سعید)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښځو لپاره د لاسو او پښو د سره کېدو حکم:**

د ښځو لپاره د لاسو او پښو سره کېدل د ډېر وخت څخه د ښځو عادت دئ، په اوسني وخت کي هم ښځي د خپلو لاسو او پښو د زينت لپاره په نکروځو باندي د خپلو لاسو پر رسته او چپه طرفو او د پوښو پر راسته طرف نقش او نګار او په مختلفو ډيزاينو باندي سره کوي.

د ښځو لپاره په هر ډول ډيزاين باندي لاسونه او پښې په نکروځو سره کول جائز خو څه بلکي بهتر او افضل کار دئ.

ځکه حضرت عائشة ﷞ فرمايي، چي: يوه ښځه په ستر کي نبي کريم ﷺ ته راغله د دې سره يو خط وو غوښتل يې چي نبي کريم ﷺ ته يې ورکړي کله چي دې نبي کريم ﷺ ته خط ونيوی نبي کريم ﷺ خپل لاس ورڅخه را ايسته کړ او نبي کريم ﷺ وفرمايل: ما ته نه ده معلومه چي دغه لاس د نارينه دئ او که د ښځي؟

هغې ښځي ورته وويل: نه! دا د ښځي لاس دئ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: که ښځه يې نو خپل نوکانو يعني لاسونو ته تغير ورکړه، يعني په نکروځو يې سره کړه.

لهذا د ښځو لپاره لاسونه او پښې په نکروځو سره سره کول افضل کار دئ.

البته د لمونځو په وخت کي پر لاسو او پښو باندي نکروځي ايښوول مناسب نه دي، ځکه چي د لمانځه د قضا يا تأخير بېره سته.

دوهم په بعضو علاقو کي د ښاديو پر مهال ښځي د لاسو او پښو د سره کېدو لپاره خاص يو پروګرام جوړوي چي په هغه کي داسي عملونه تر سره کېږي چي د شرعي حدودو څخه دباندي وي، لکه عکسونه اخيستل، نامحرم

---

الاستفسار: هل يجوز ثقب أنف النساء؟ الاستبشار... ان كان للتزين يجوز كما فى ثقب الاذن... يجوز قياساً على ثقب الأذن (نفع المفتى والسائل: مجموعة الرسائل اللكهنوى، ج ۴، ص ۱۹۴).

نارينه او ښځينه يو ځای کېدل.

دريم: په بعضو کورنيو کي دا رواج وي چي د ناوي کور ته زوم وروليي هلته يې لاس ورسره کوي او په دغه رواجي محفلو کي لکه مخکي چي وويل سوه د شرعي حدودو پايمالېده رامنځته کېږي.

نو د دغسي رواجي محفلو څخه لازماً هره ښځه بايد ځان وساتي که څه هم بذات خود لاسونه او پښې سره کول مباح دي، خو د نورو وجوهاتو پر بنياد باندي ناجائز کېږي. (۱)

**د ښځو لپاره د لويو نوکانو د پرېښوولو حکم:**

شريعت مقدسه د نوکانو پرې کول د فطرت له کارو څخه بللي دي او د هغه لپاره يې ورځ هم ټاکلې ده، يعني په هفته کي يو وار پرې کول يې مستحب دي او د پنځلسو ورځو وروسته يې پرې کول جائز او تر څلوېښتو ورځو پوري يې ځنډول مکروه دي.

او ډېري ښځي د فېشن په توګه د لاسو ټوله نوکان او نارينه د لاس د کوچنۍ ګوتي نوک غټوي د نوکانو غټول د څو وجوهاتو پر بنياد باندي جائز نه دي:

**اول:**

د نوکانو غټول د هندوانو د ښځو (هندوانيانو) او فاسقو، فاجرانو ښځو عادت دئ د هغوی سره مشابهت راځي او د هغوی سره مشابهت جائز نه دئ.

**دوهم:**

د انسان د فطرت د کارو خلاف دئ.

---

[1]: عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ عِصْمَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ أَوْمَتْ امْرَأَةٌ مِنْ وَرَاءِ سِتْرٍ بِيَدِهَا كِتَابٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبَضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ مَا أَدْرِي أَيَدُ رَجُلٍ أَمْ يَدُ امْرَأَةٍ قَالَتْ بَلْ امْرَأَةٌ قَالَ لَوْ كُنْتِ امْرَأَةً لَغَيَّرْتِ أَظْفَارَكِ يَعْنِي بِالْحِنَّاءِ(ابوداود ج ۱۱ ص : ۲۱۹ ط : المكتبة الشاملة ورقم الحديث : ۳۶۳۵)

و اما ما تزينت به المرأة لزوجها من تحمير الايدی او الشفاه او العارضين بما لا يلتبس بأصل الخلقة فانه ليس داخلا فی النهی عند جمهور العلماء (تکمله فتح الملهم: ج ۴، ص ۱۹۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم:**

د نوکانو غټول د انسان د رزق د کموالي سبب جوړېږي. یعني کوم څوک چي نوکان غټوي پرې کوي يې نه الله پاک د هغه رزق کموي.

لهذا د ښځو او نارينه وو لپاره د لاسو ټوله نوکان پرېښودل يا يو د کوچنۍ ګوتي نوک د فېشن لپاره غټ پرېښودل جائز نه دي او غټ نوکان د کم رزقۍ سبب هم دي.(۱)

**د ښځو لپاره د نوکانو رنګول جائز دي؟**

د نوکانو رنګول د ډېر وخت څخه په ښځو کي د زينت لپاره عادت دي، کله به ښځو خپل نوکان په زعفرانو، کله په نکروځو باندي رنګول او نور مختلف شيان به يې استعمالول او په اوسنۍ زمانه کي هم د ښځو د نوکانو د رنګېدو رواج او عادت سته او د نوکانو رنګول د ښځو د لاسو او پښو زينت پکښي مقصود وي نو د ښځو لپاره د لاسو او پښو د نوکانو رنګول په هر ډول يا په هر رنګ باندي رنګول جائز دي.

البته په اوسني وخت کي چي کوم د ښځو د نوکانو د رنګېدو لپاره کوم رنګونه په بوتلانو يا ښيښو کي راځي هغه اکثر هغه ډول رنګونه وي چي کله پر نوکانو باندي استعمال سي نو د اوداسه او غسل کولو په صورت کي اصل نوکانو ته اوبه نه رسېږي، او اصل نوکانو ته اوبه رسول ضروري دي.

لهذا که څه هم پخپله د ښځو لپاره د نوکانو رنګول جائز دي مګر هغه رنګونه چي د اوداسه او غسل کولو په صورت کي چي د اوبو منع کوونکي وي هغه رنګونه د لاسو او پښو د نوکانو څخه د اوداسه او غسل کولو په وخت کي ليري کول يا زائلول ضروري دي، تر څو اودس او غسل صحت ته ورسېږي.(۲)

---

۱: قال العلامة التمرتاشي رحمه الله: و ليستحب قلم اظافيرة يوم الجمعة) و كونه بعد الصلوة افضل الا اذا اخره اليه تاخيراً فاحشاً فيكره لان من كان ظفره طويلا كان رزقه ضيقاً ... الخ (تنوير الابصار مع شرح الدر المختار: ج ۵، ص ۳۸۷، فصل في النظر).

۲: و عنها قالت اومت امرأة من وراء ستر و في يدها كتاب الى رسول الله فقبض النبي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د ښځو لپاره نقلي (مصنوعي) لوی نوکان ايښودل جائز دي؟**

په اوسنيو اکثرو ښځو کي دا عادت دئ، چي په ښاديو کي نقلي (مصنوعي) غټ غټ نوکان پخپله ايږدي يا خصوصاً ناوي ته يې لازمي ورايږدي، په شريعت مقدسه کي خپل اصلي نوکان غټول يا نقلي نوکان ايښودل جائز نه دي، ځکه شريعت مقدسه د نوکانو د پرې کولو موده (وخت) د مسلمانانو لپاره ټاکلې ده، د مودې تر آخري وخت پوري چي نوکان پرې نه کړي نو هغه څوک ګنهکار بلل کېږي.

او دوهم د لويو نوکانو پرېښودل يا نقلي نوکان ايښوول د فاسقو او فاجرو او کافرو ښځو سره مشابهت راځي او شريعت مقدسه ټول مسلمانان د کفارو سره د مشابهت کولو څخه منع کړي دي، ځکه کوم څوک چي د دوی سره مشابهت کوي د قيامت په ورځ به د هغوی حشر (راپورته کېده) د کفارو سره وي.

لهذا د ښځو لپاره نقلي لوی لوی نوکان ايښوول جائز نه دي.[1]

**د ښځو لپاره د جګي کوړۍ لرونکي بوټ يا چپلي په پښو کول جائز دي؟**

شريعت مقدسه ښځي د نارينه وو سره د مشابهت کولو څخه منع کړي دي، او نارينه يې د ښځو سره د مشابهت کولو څخه منع کړي دي.

لهذا په عرف او رواج کي چي کوم بوټونه يا چپلان پر مخ باندي ترل کېږي او خلاصېږي او يا تر پښې شا ته ترل کېږي او خلاصېږي. د بوټو او چنپلانو اصل معيار پر عرف باندي دئ. يعني کوم بوټونه او چمپلان چي په

---

يده فقال ما ادری ايد رجل ام يد امرأة فقالت بل يد امرأة قال لو كنت امرأة لغيرت اظفارك يعنی بالحناء (رواه ابو داود: كتاب اللباس: ص ۵۵۸، ج ۲).

او لزق باصل ظفره طين يابس او رطب لم يجز (هنديه: ج ۱، ص ۲).

[1]: قال النبی ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم.

و هذا الامر قد يتحقق فيه الشبه المحرم بالكافرات او الفاسقات، لأصل فی ظاهر المسلمة ان يكون ظفرها مقلماً قصيراً لا معفی طويلاً (احكام تجميل النساء: ص ۲۳۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library


عرف کي د نارينه سره خاص وي هغه بوټونه او چنپلان د ښځو لپاره په پښو کېدل جائز نه دي او کوم بوټونه چي په عرف او رواج کي د ښځو لپاره خاص وي نو د هغو په پښو کول د نارينه وو لپاره جائز نه دي.(۱)

**د ښځو لپاره خوشبو (عطر) وهل جائز دي؟**

د ښځو لپاره خوشبو (عطر) وهل بذات خود جائز دي البته په هغه صورتو کي چي د خوشبو (عطرو) بوی تر نامحرم نارينه پوري رسېږي يا د يو ضرورت لپاره د کور څخه د وتلو پر مهال خوشبو (عطر) وهل او يا په هغه کور کي چي د خاوند ماسوا نور د خاوند قريبان هم اوسي د عطرو وهل او داسي نور جائز نه دي.

ځکه نبي کريم ﷺ فرمايي، چي: ښځه کله عطر (خوشبويي) ووهي نو وروسته دباندي ووزي د (نارينه وو) د مجلس سره تېره سي هغه داسي يعني لکه زانيه ده.

يعني نبي کريم ﷺ د هغي ښځي چي عطر په ځان باندي ووهي دباندي د نارينه وو د مجلس يا د نارينه وو سره تېرېږي نو د دغي ښځي مشابهت نبي کريم ﷺ د زانيې او فاسقي سره ورکړی(۲۸).

**د عدت په وخت کي د ښځي لپاره زينت او سينګار کول جائز دي؟**

د کومي ښځي چي خاوند(مېړه) مړ سي يا کومي ښځي ته چي خاوند(مېړه) طلاق ورکړي نو د عدت تر ختمېدو پوري د خاوند په کور کي اوسېدل ضروري دي، بېله سخت ضرورته د خاوند د کور څخه وتل جائز نه دي او دا ډول د عدت تر ختمېدو پوري به زينت نه کوي او نه به د زينت او سينګار

---

۱: عن ابن ابي مليکة قال قيل لعائشة رضي الله عنها ان امرأة تلبس النعل قالت لعل رسول الله ﷺ الرجلة من النساء (رواه ابو داود:)

(۲۸) عن ابی موسی رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال کل عين زانية والمرأة اذا استعطرت ... يعني زانية (الترغيب والترهيب: ج ۳، ص ۸۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیان استعمالوي، لکه ښایسته لباس، ځان جوړول، سره یا سپین زر استعمالول او داسي نور جائز نه دي[۲۹].

---

[۲۹] عن ام سلمة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال المتوفى عنها زوجها لا تلبس المعصفر من الثياب و لا المشطة و لا الحلى و لا ... و لا تكتحل (مشكوة المصابيح: ص ۲۸۶).

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې له خوا پر لیکه کېږي:
www.taleemulislam-radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې له خوا پر لیکه کیږي:
www.taleemulislam-radio.com

# د مؤلف نور تالیفات

١. د روژې فضائل او احکام
٢. د سفر احکام
٣. افهام صرف شرح ارشاد صرف
٤. د ښځو د پردې شرعي حدود
٥. د الله ذکر او د الله رحمتونه (ژباړه)
٦. تیسیر المنطق (ژباړه)
٧. سود د قرآن او حدیث په رڼا کې

جامعه اسلامیه اشرفیه
اوله ناحیه
کندهار - افغانستان

Jamia Islamia Ashrafiyah
Kandahar, Afghanistan

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**